

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب پیژندنه
نوم:دالماسوپنډ
لیکوال:محمودحمیدزی
دقلمي لیکولونیټه: 1397هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ

داکتاب (دالماسو پنډ) زه په ډېره مينه دپښتوژبې دبډاينې او پرمختـګ لپاره زحمت ايستونکو اوددې ژبې رښتني چوپړيالانو ته ډالۍ کوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ليکوال خبرې

پښتو هغه وياړلي ژبه ده چې دنثراونظم پريمانه توکي پکښي شتون لري. داوياړلي ژبه په خپل ولسي شفاهي ادب کې دلنډ يو په شان دنظمونواو دمتل په شان نظمونو اونثرونوڅخه خورا بډيه ده چې ياد نظمونه اونثرونه په بيلا بيلو وختونو کې ددې ژبې ويونکو دلوري ويل سوي اوخوله پرخوله ديونسل څخه بل نسل پوري رسيدلي دي،خوپه اوسني وخت (ننې عصر)کې ددې اړينو او ارزښتمنو نظمونو اونثرونو دورکيدا وېره ځکه زياته سوې ده چې ډېر وګړي په عصري وسيلوکې دومره اړم سوي دي چې ځينوڅخه يې دخپل ژبې دا ارزښت لرونکي توکي دپامه غورځولي دي او اوس زموږځوانان په خپلو ذهنونو کې دې ارزښت لرونکوتوکوته دبدمرغه ځای نه ورکوي،دومره بوخت دي چې دا ارزښت لرونکي توکي دنه پاملرنې لکبله دورکيدو درپولې رسيدلي دي اوکه چيرې موږ پښتانه خپل دې دولسي ادب اړينو اوازښتمنو توکو ياني،يعني لنډيواومتلونوته پاملرنه زياته نه کړو نو ليرې نه ده چې خدی جل جلاله مکړه موږ به ددې ولسي نظمونواونثرونو څخه بې برخې سو.زه دلته داليکنه اوڅيړنه دولسي ادب دنظم اونثرګڼډې برخې (متل)ته ځانګړې کوم اودوې موخې لرم:لومړۍ داچې ددې بډايه برخې ځينې توکې دلته خوندي کړم اودوهم داچې زه دخپل څيړنې سره سم هغه ځايونه اوعلتونه په نښه او روښانه کړم کوم ځايونه چې پښتانه متلونه دخبروپه دوام کې دخپل پياوړي دليل په توګه دخپلو خبرو دلاښه ثابتولو،دخپلوخبرو دپخوالي،اړين والي اوبډاينې لپاره کاروي.زه لومړی کس ښايې نه اوسم چې دابرخه درڅيړنې لاندې نيسم اوکار ورته کوم.زه دهغوټولو ليکوالانوڅخه ډېره مننه کوم کوموچې زموږ دژبې داد ب ددې برخې اونورو برخولپاره نسترې کيدونکي هلې ځلې کړي دي!البته يادونه کوم چې زه دانه وايم چې زما داڅيړنه سل فصده سمه ده: بلکې زه داوايم چې مايوازي داليکنه اوڅيړنه دخپلې خوږې ژبې سره دمينې اوهغه حق لمخې چې زما خوږه ژبه يې پرمالري کړي ده!زه ستاسودرنولوستونکوڅخه په ډېر درناوي هيله کوم چې زما د تيروتونوپه خاطر ما ګرم ونه ګڼې: ځکه زه دخپل توان سره سم پوره هڅه کوم چې تيروتنه ونه کړم!دپادونې وړده چې ووايم چې زه حقير دلته دمتل پرسم والي،ګټې اوناسم والي،نه ګټې باندې ليکنه نه کوم.پښتو ژبه دزرګونو متلونو درلودونکي ده اوکيدای سي دارزښت اومثبت ليدلوري درلودونکي متلونه خورا ډېرولري خوزه ددې خبرې څخه هم انکارنه کوم چې ځينې متلونه يا خوبي ارزښته دي اوپرربښتينولی ولاړنه دي اوياهم دمثبت اړخه ورته کتل کيږي نه :داستونزه دمتل نه بلکې دمتل دويونکي ده چې متل ته دمثبت اړخه نه ګوري بلکې په منفي ډول يې کاروي اومنفي مفکوره تري اخلې.

زه ستاسوټولوپښتنوورڼوڅخه په ډېردرناوي هيله کوم چې تل دخپلې ژبې دبډاينې لپاره نستړيکيدونکي هڅې وکړئ اوخپله ژبه لانوره بډايه کړئ

په درنښت:ليکوال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چې څه کري هغه به ریبي

دامتل ډېرارزښت لرونکی اودپوره ښه څرګندې معنا درلودنکی دی.دامتل کولی سی یوبد کارکونکی دبدکارڅخه په شا کړي اوکولوته یې پرینږدي.
دامتل هغه وخت وګړي وخپل مخامخ،مخاطب کس ته وایي کله چې هغه دبدکارکولو،دبیلګې په ډول کوم بل کس ته دزیان رسولو موخه لري.هغه ته داڅرګندوي که ته چېرې دابدکړن وکړي نو لیرې نه ده چې ستاپرووړاندي به هم ورته کاروسي اویابه هم دهغه څخه لاهم بدکار وسي:ځکه که کوم څوک غنم وکري هغه به غنم ریبي اوحاصل به یې هم دده دکرلي تخم څخه څوچنده زیات وي،نو هیله ده پوه سي چې کوم کارونه چې ته کوې هغه ستا کرل سوي کښتونه دي چې ته به یې هرومروحاصل اخلي.دې متل ته ورته اود بدوکړنوڅخه دلاس پرسرکیدا یاني نه کولو لپاره دپښتوژبې ویاړلي اوښاغلي صوفي شاعر:عبدالرحمن بابا داسی بیتونه ویلي دي.

کردګلوکړه چې سېمه دې ګلزارشي
اغزي مه کره چې پښوکې به دې خارشي
ته چې بل په غشوولې هسې پوه شه
چې همداغشی به ستا په لورګوزارشي
کوهی مه کینه دبل سرې په لارکې
چېرې ستا به دکوهي په غاړه لارشي

دامتل پښتانه په ځینونوروځاینوکي هم کاروي چې دکارونې دښه والي اوبدوالي په اړه یې زه پریکړه نه کوم.
۱که کوم څوک غل وی اودهغه څخه غلا وسي. 2که کوم چا ظلم کړی وی اوپرهغه ظلم وسي. 3که کوم چا اولادونه ته ښه روزنه نه بلکې بدروزنه ورکړې وي اودعلم،پوهې څخه یې لیري ساتلي وي اودهغه اولادونه بدکاره سي.دې ته ورته نوروځایونوکې پښتانه خپل مخاطب ته دامتل دخپلې خبرې دښه ثابتولوپه پار دبیلګې په توګه اوروي.

## آئینه دچا عیب نه پټوي!

دامتل هغه وخت دویونکودخواویل کیږي: کله چې یوربښتنی کس پرکوم چا دکوم کاردکولوشاهدي اداکړي اویادکس هغه کارچې دی ورباندي تورن سوی وی نه ومنې،وګړي یادکس ته دامتل مخته ږدي اوشاهدي ورکوونکي کس ته دهنداری خطاب کوي. دېروخت دامتل دماشومانودخبرودتائید لپاره ویل کیږي.
دپښتوژبې یوشاعرداسي وائي.

په خپل شکل وهرچاته څرګندیږم.
آئینې غوندي بي رویه بي ریا یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آبا حلال ډری نه حلال

يادمتل متل ويونکي خلک ډېروخت دټوکوپه ډول هغه وخت دهغه کس پروړاندې وائې کوم کس چې پرخپله شتمني اويا پرخپل کوم توکي ډېر کروړ (ټينګ)وي يا په بله معنا ډېر پرخپل مال ټېرېږی،که کوم څوک دهغه څخه دهغه توکي غوښتنه وکړي اويا دده توکي ته دزيان رسول تکل وکړي نوخپله دشتمنی،توکي خاوند(سرپرست)غوښتونکي ته دامتل دخپل انکاردکروړ(کلک)څرګندولولپاره وايي اوياهم دريمګړی کس چې دادغوښتني اونه ورکړي ننداره وويني نوآباحلال ډری نه حلال متل وايي.

دیادمتل ساده معنا داده:بابا حلال کړه خودهغه ګډ(پسه )مه حلالوه. ډری دپښتنوپه ځينوسيموکې ځيني وخت پسه (ګډ)ته ويل کيږي،په تېره بيا ماشومان ډېروخت ګډ(پسه )ته ډری وائې.

## آبا،باباکورنسته له ادې ډارنسته

يادمتل هغه وخت دخلګو دخواويل کيږي کله چې کوم مظلوم باندي دظالم دخواظلم کيږي اودهغه دپاتې سرپرستانوڅخه دظالم ډارنه وي اويا هم دمظلوم سرپرستان دظالم په هغه ظلم ناخوښ نه وي کوم چې پرمظلوم يې کوي.

په تېره بيا هغه وخت کله چې مخکي دې مظلوم کس داسې يوڅوک درلودی چې دهغه په شتون کې ظالم کس پرهغه باندي ظلم نه کوئ.دامتل د څرګندې معنالمخې داسي وايوبابا چې ډېروخت دکورنۍ سرپرست وي کورکې شتون نه لري يا په بله معنا بابا(پلار) چې ډېروخت دادې(مور) په پرتله دغوسې څخه ډک اوپر اولادونو دهغوی دښګني په خاطرپه غوسه کيږي او اولادونه نسبت ادې ته دبابا څخه ډېره وېره (ډار)لري کورکې شتون نه لري :دادې ډارنسته چې هغه کاروکړو چې بابا يې نه خوښوي.

## آبا (بابا) پلارمه ګوره خورجين يې ګوره

دیادمتل موخه څرګندده ،کله چې پلاريادیوې کورنۍ مشربازارته تللی وي،يا کوم ځای ته په سفرتللی وي نوښکاره خبره ده چې دکورنۍ غړي دهغه څخه ډداليو دراوړلو اوهغوی ته دورکولوهيله لري.دامتل هم دهمدې سکالو(موضوع)څخه سرچينه اخلي.خورجين:دټوکرڅخه جوړيوبکس يا په بله معنا بيک (دسکول)دی چې مخکي به خلکو پرآسونواچوی اوپه اوس وخت کې پربله سپرلۍ موټرسيکل باندې خورېږی.

خورجين دوه جوبونه لري چې دآس پرملا اچول کيږي اودوړه جوبونه يې دآس دوړوطرفو(خواوو)ته ځوړند وي.يورته يادسوی متل وګړي دټوکوپه بڼه هغه وخت اوياهم بيله ټوکوهغه وخت په خپلوخبرکې کاروي کله چې دهغوی يودست دهغوی سرمخ سي اودوی يې دورسره راخيستي غوټي په اړه پوښتنه وکړي اودوست يې ددوی دجواب پروړاندې کوم غبرګون څرګندکړي،يا کله چې کوم ځای يوکارمند دکار لپاره ځي اوهلته دهغه مزد کم خومعنوی امتيازونه يې زيات وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا کله چې يوکارمند ديوداسي کس سره کـارکوي چـې دهغـه کس پـه چلند کـې ځينـې بــدئ وي اودبلـــه اړخ کـــار ګرکارتـــه اړتيـــالري نوکـــه کـــارکوونکی پـــه دې دوړوحلتونوکې کارتـه زړه ښـه نکړي اودکوم چـا څخـه مشوره اخلـي نوهغـه ورتـه پورتـه متل کيدای سی ووايي.

چې ډب نه وی ادب نه وی

متل ويوونکي يادمتل هغـه وخت وايي: کلـه چـې کـوم څـوک يوماشوم دکومې خطـا دکولوپه غبرګون کـې ووهي،کله چـې دريمګړی ديادکارغندنـه وکړې نوو هوونکی په ځواب کې ورتـه وايي: چې ډب نه وی ادب نه وی.

2يادمتل دهغو وګړو لپاره هم کـارول کيږي: چـې بـې مشورې کړنـې سرتـه رسوې او هغه کارکې دکوم زيان،تاوان سره مخ سی يا که کوم څـوک پـه خپـل نـوي کـارکې تاوان وکړي دهغه دتسلی يا هغه ته دهغه دتيروتنې دلاښه څرګنديدا لپـاره پورتـه يـاد سـوی متـل وايي.دامتـل دمثبـت ليـدلمخي يوښـه معنـالرونکی متـل دی اوکـه دمنفـي ليدلمخې ورتـه پاملرنـه وکړو اوعملي يې کړو ښه پايلې نـه لري.دبيلګي پـه ډول ادب پـه ډب(وهلو)نـه زده کيږي اوکه دبلې زاويـې څخـه دې متل تـه وکتل سي:هرکارکې دوخت پـه تيريـدو اودتجربوپـه لاسته راوړلو موږ خپل منزل تـه ځـان رسوو يعنـي شـونې ده موږپـه خپلـو نويـو پيل کړو کـارونوکې دزيان،تـاوان اوخنډ سـره مـخ سـو اوډب وخوروترڅوتجربـه حاصـله کړو اوراتلـونکي وخـت کـې پـه خپـل کـارونوکې دځنډ،خنډ اوزيان سره مخ نسو.

آبا يې مړکړ،په چاړه و،که په لاره و

دامتـل پښـتانه هغـه وخـت پـه خپلـوخبروکې هغـه چاتـه وايـي کـوم کس چـې پـه کومـه خبره کې دهيرې ياشـک سـره مـخ سـی.دبيلګې پـه ډول کـه کـوم څـوک وايـي چـې پـه ماښـام کـې بـاران ووريدی،يوبل کس پوښتنه وکړي پرڅوبجې؟که خبرورکوونکی کس ناخبرې وښيې اوپوښتنه کوونکی کس بيـا بيـا دخپلـې پوښتنې پرځـواب بانـدې ټينګارکوی، په دې وخت کې دريمګړی کس وايي:دشپې بـاران اوريدلی دی نـوريې ته ساعت(کړئ) څه کوي: وايي آبايې مړکړپه چاړوکه په لار و.

يا کله چې کوم څوک وايي فلانکي راسره ښه ونه کړل ما ورتـه افغانئ ورکړي وي ده راته سعودي ريال راکړه مخاطب پوښتنه کوي آيـا هومره ريال يـې درکړل چې ستادافغانيو دپيسوبدېل وه؟که هغه ځواب ورکړ چې هو: دې وخت کې مخاطـب کس ورتـه پورتـه يادسوی متل وايي اوهغه ته قنعت ورکوی.

آس ئې و هغو ته ورکړ چې د تانګ د تړلو يې نه و

دامتل خلګ يوبل ته هغه وخت دګيلې په ډول وايي کله چې کوم داسي کس چـې اهـل کارنه وي داهل کارکس په شتون کې په هغه کاروګمارل سي چـې دهغـه کارګمـارل سوی کس وړ،مسلکي اوپه هغه دندې پوره پوه نه وي.

يادمتل ته دګيلې کولومتل هم ويلـی سوځکه ډېروخـت پورتـه متـل دګيلـې پـه بڼـه ويـل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آس چې د آسه کم وي نو غوږ ئې پريکړه

دامتل هغه وخت وکړي يوبل ته وايي کله چې دوه ځوانان ديوبل سره په مثبت ډول سيالي کوي:يو ددوى څخه دتاني په ډول چې ګواکې زه هم ستا څخه کم نه يم پورته متل وايي اومقابل(مخامخ)کس ته ډاډورکوي چې په ښه ډول به ورسره سيالي وکولى سي.

دامتل ځينې خلګ دغوسې اوکرکې په وخت کې هم يوبل ته وايي اوخپل ځان دمقابل کس څخه په هيڅ صورت کم نه انګيري اومقابل کس ډاډه کوي چې ګواکې زه ستا څخه کم اوناتوانه نه يم.

## آس چې غورځى دموږي په زورغورځى

پورته متل دمايوسۍ اوناخوښۍ متل دى.کله چې يوکس دکوم داسي چاخبره وانه وري چې دهغه کس خبره يې مخکي منل او اوس يې دهغه خبره په دې خاطر ونه منل چې کوم بل پياوړى کس يې په ملاتړ ودريدى نوخبره کوونکى يا په بله معنا امرکوونکى کس دامتل دمايوسۍ په حال کې مقابل يا دريمګړي کس ته وايي اوخپل ناخوښي اومايوسي څرګندوي.

بله بيلګه ددې متل دکاروني:کله چې يوپلار خپل اولادته کومه خبره يا امروکړي او اولادېي امرياخبرې ته غاړکښېنږدي نوپلاريې دمايوسۍ په حال کې يا دټوکوپه ډول پورته يادسوى متل وايي اوداخپل اولادته څرګندوي چې موردي دفاع کوي کنه تازما امرمنى.همداډول که اولاد دمورامر ونه مني:مورهم يادمتل وايي.ديادمتل دکارونې ځايونه نورهم سته چې خلګ يې په خپلوخبروکې کاروي.

## آس مې در کړ، خو پرې سپريږي به نه

دامتل خلګ هغه وخت کاروي کله چې کوم کس يوچاته ډالۍ ورکړي اوډالۍ اخيستونکى کس دډالۍ دخونديتابه ټينګارپرې وکړي ،يا هغه وخت کله چې ډالۍ اخيستونکى کس دډالۍ ورکوونکي کس ډالۍ خرابه،يا وپلوري اوچې کله ډالۍ ورکوونکى کس دخپلې ډالۍ په اړه خبراوبيا خفه يا ورته غوسه سى :ډالۍ اخيستونکى کس ورته يادمتل وايي.

## آسان ئې نالول چونګوښنو هم پښې پورته کړي

دامتل هغه وخت خلګ کاروى،وايى کله چې کوم کس داسي يوکاروکړي چې دهغه کس سره دهغه کړى کارښه نښکاري يا په هغه کارکې پوره پوهه ونه لري اودنورخلګو بي ګټې تقليد کوي، يا داسې يوه کارته ملاوتړي چې سل فصده دهغه کاردکولو وس(توان)ونه لري :خلګ يوبل ته يا بې ګټې تقليدکوونکي کس ته دهغه دتقليدنه کولو اويا هم دهغه دتقليد دموخې څخه دراګرځيدا په پارپورته يادسوى متل وايي.

يادسوى متل دېروخت دبې ګټې،يا دوس څخه پورته تقليدکوونکودتقليد نه کولوپاره دوګړو دخواويل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آس كه ټكنى دى، ميدان يې لنډ دى
دامتل ډېروخت يوچا ته په كارونوكې دنه تلواركولوپه پارويل كيږي.دبيلګې پـه ډول يوكس كه ډېر ژرپه كوم كاركې دپرمختګ يا بريا غوښتونكى وي نوبل وګړى هغه تـه دنـه تلواركولـو اوپـه ښـه ډول ومنـزل تـه درسـيدلوپه پـار يادمتـل وايـي اوترينـه غـواړي چـې كارپـه ښـه ډول وكـړه بيـړه پكښـي مـه كـوه ځكـه پـه بيـړه يوكـاركول دكارپركيفيت په نيغ ډول اغيزه لري.
آسمان چې غوريږي، دومره نه وريږي
دامتـل خلـګ هغـه وخـت وائـي كلـه چـې كـوم كـس دعمل(كـار) پرځـاى تـش وعـدې اوخبرې كوي كـه پـه ساده ډول ووايو چې لاپې وهي،ياهغـه وخـت كلـه چـې يوكس دكارپـه منځ كې دكارڅخـه ډېرپـه پـه ځـان هوسـا كولـو اويـاخبرو كولووخـت تيـروي هغـه وخـت يادمتـل ورتـه يـو وګـړى وايـي يـادا متـل كـوم دريمګړي تـه دهغـه څخـه دشكايت،يا ناخوښى په پاروايي.دې متل ته دنقد،اعتراض كولومتل ويلى سو.
آغزي چې له اوله نه وه تيره په لوى والي نسي تيره كيداى
دامتل دشك اوګومان پربنسټ ويل كيږى.كه كوم څوک ديوچا سره څوځله پر وعد نـه وي ختلـى اوبيا وعده وكړي،كه كوم چا مخكې كوم كارنـه وي كـړى پـه داسي حال كې چې مخكې يې دهغه كاردكولووعده كړې وي،ياداچې كه دكوم سپين ږري په ځوانى كې غيږنيول نـه وه زده اودى يـې پـه سپين ږرتوب كـې دزده كړې دعـوه كوي،يـاكوم څـوک يـې دزده كـړې ورتــه ووايـي نـوددې متـل دويلوزمينــه برابريږى. مخكې مې يادونه وكړل چې ډېروخت دامتل دګومـان پربنيـاد ويل كيږي اوسل فصده متل ويوونكى باوري نه وي.
ارمان به كړي هلكه، بيا به نه مومي ادكه
دامتل هغه وخت دوګړو دخوا ويل كيږي: كلـه چـې كوم وګړى خپل ځان دكوم بـل وګړى لپاره ارزښت لرونكى ښيي اوهغه ته داڅرګندوى چې زه ستالپاره هرڅـه يم اوزما په نشتون كې به دې كارونه ورسته پاتې سي كه زه درڅخه بيل سوم نوتـه بـه راپسي ارمان وكړي.
آسمان يې بږستنه ده، ځمكه يې توشكه ده،دوهم حالت: آسمان مې بږستنه ده ځمكه مې توشكه
يادمتل هغه وخت خلګ كاروي كله چې غواړي خپلـه يـا دكوم بل چا مظلوميت،بي وسې، غربت اوبې كسې، كوم چا تـه څرګنده كړي.پورتـه متـل يوتوصفي، حالـت څرګندوونكى متل دى.
تباره د هر چا زده ده خوخوله دملاعثمان غواړي
يادمتل خلګ هغه وخت واى كله چې كوم وګړى يوكارسرته ورسوى خوپه ښـه ډول نه،يا پـه هغسي ډول نـه څنګـه چې بايدسرتـه رسيدلى واى يـانې كاردنيمګړتيـا سره سرته ورسوي هغه وخت ورته مخامخ كس پورته يادسوى متل وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهغه ته دا ځرګندوی چې ډېرداسي کارونـه سته چې دډېرخلکوزده وي خودځينو وګړو سره هغه کارونه ښـه ښـکاري يا پـه بلـه معنـا هغوی يې داسـي سرتـه رسـوي څنګه چې ښايي.

ا

## الوتی مرغه په لاس نه راځي

دامتل هغه وخت خلګ وايي کله چې غواړي يوه داسي کس ته چې دهغـه څخـه کوم ښه فرصت په خطـا کـې تيرسوی وي يـا کـوم کـاريې داسـي کـړی وی چـې ده دهغـه کـاردکولو موخـه نـه درلـودل يـانې تيروتنـه،خطايي کـړې وي:وګـړي ويـاد کـس تـه دداډ،زغم اواندېښنې نـه کـول پـه پارپـورتـه متـل وايـې. پورتـه متل ډېروخـت يوچاتـه دداډ ګيرنې لپاره متل ويوونکي وګړي وايي .

## انسان تر کاڼي کلک تر ګل نازک دی

ددې متل دويلو لپاره هغه وخت لارخلاصيږي کله چې يوکس دکوم بدې پيښـي سره مخ سوی وی اوهغه ته زيان نه وي رسيدلی،ياهغه وخت کلـه چـې يوکس ديوه واړه زخم،ياژوبلې څخه ډېرزحمت وګالې:متل ويوونکی کس دافسوس،تعجب يا خواشنۍ په څرګندولوسره پورته متـل وايـې اوخپلـه خواشـنې يـا تعجب څرګند وي.يادمتـل تـه دافسوس اوتعجب متل ويلی سو.

## اوباز يم خو بې ګودره نه ګډيږم

دامتل وګړوته څرګندوي چې دزيـان څخـه دډکو کړنوکولوتـه زړه هغـه وخـت لاهم ښه نکړي کله چې په هغه کارکې دپوره تجربې اوپوهې څخه هم برخمن وي.

## انسان کله درياب، کله کرياب وي

دامتل هغه وخت يوکس وايي کلـه چـې ديوچـا څخـه ديوتـوکي غوښتنه وکړي اوهغـه يـې پرووړانـدې منفـي غبرګـون څرګندکړي،ياهغـه وخـت کلـه چـې مقابـل کـس ورتـه ووايـې چـې تـا خـومخکې داتـوکی درلـودی نوهغـه ورتـه ځـواب ورکـوي چـې اوس راسره نسته انسان کله درياب اوکله کرياب وي.

## اوبه خړوي او ماهيان پکښې نيسي

دامتل هغه وخت کوم وګړی وبل وګړي ياوګړوتـه وايـې کلـه چـې يوتن دخبروڅخـه خبرې راباسي يعني کله چې ددوتنو خپـه وګـړو تـرمنځ خلـک دپخلاکيدلوهڅـه کوي اوددوی څخه يويې دنه پخلا کيدو لپاره ډېردليلونه راوړی اونه غواړي پخلاسی.

دامتل هغه وخت هم خلګ وايي کله چې يوڅوک په دې هڅه کې وي چې په کـوچنۍ منفي خبره کې لويه منفي خبره ولټوي،يا په عامه لحجه کـه ووايوچې شرتـه ډولونـه وهي،يـا داچـې دشـرلپاره يـوه وړه بهانـه غـواړي دې ډول آنـد درلـودونکی تـه خلـګ وايي چې ته خواوبه خړوي اوکبان پکښي نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انا مړه سوه تبه يې وشليده

دامتل هغه وخت متل ویوونکي وګړي وايي کله چې يوستونزمن اوستړی کارپای ته ورسوي.کله چې يوتن يوستړی کارپای ته رسولی وی اوکوم بل کس ترينه پوښتنه وکړي چې څنګه سوکاردې پای ته ورسوې که لاپاته دی کارخلاصوونکی کس ځواب ورکوي هوانا مړه سوه تبه يې وشليده.

## انتظار تر قتل بد تر دی

ديادمتل دويلوځای څرګنددی هغه وخت چې کوم څوک ديوې کړنې کولو...ته ډېرتم سي نويادسوی متل وايي.

## انسان بی وزره مرغه دی

دامتل هغه وخت ويل کيږی کله چې کوم کس يوه ورځ کوم څوک يوښار،کلي کې ووينې اوبله ورځ يې کوم بل ښارياکلي کې ووينې اوترينه پوښتنه وسي چې داڅنګه داسي ژردهغه ځای څخه راغلي.ياد وګړی ځواب کې ورته پورته متل وايي.

## اوبه د چينې د سر نه خړيږي

دامتل هغه وخت وګړي وايي کله چې يوستونزې سره مخ سي يا کوم بده کړنه دداسي خلکوده ووينې چې هغوی امران (مشران) ولري.دبيلګې په ډول که په دولت کې يوټيټ پوړی کارکوونکی په خپله دنده کې ناغيري،سوستي کوي يا خپله دنده کې فسادکوي،وګړي وايي دی ګرم نه دی اوبه دسرڅخه خړيږي.

## اور په اور نه مړ کيږي

دامتل هغه وخت وګړي وايي ياېې خپل په خبروکې کاروي کله چې ددووکسانويادوو ډلوترمنځ شخړه وي :وګړي هغوی ته ددې ښوولولپاره چې جنګ دحل لاره نه ده،جنګ نه خلاصيدونکی دی اوجنګ هغه کړن نه دی چې په جنګ،شخړه پای ته ورسيږي،يادوګړی دخپلوخبرو د دليل په ډول پورته يادسوی متل هغوی ته وايي:اورپه اورنه مړکيږي يا وينه په وينه نه مينځل کيږي متل وايي.يادمتل ډېروخت وګړي دشخړوحلولو،پای ته رسولو په پار وايي.

## اور د خپلې لمنې بليږي

دامتل هغه وخت وګړي وايي کله چې دهغوی کوم خپل ورته زيان ورسوی اوياورته کوم دردورکړي.

## اورته چې نژدې کيږي خامخا سوځيږی

دامتل خلک ديوه پاخه دليل په توګه هغو وګړوته وايي کوم وګړي چې دبدوخلکوسره ددوستۍ هيله لري يا غواړي چې ورسره دوستي وکړي،يا هغوخلکوته دامتل ويوونکي وايې کوم خلک چې غواړي ناراوا،بداودزيان څخه ډک کارونه وکړي يا ورته زړه ښه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوبښ په غلبېل نه درنېږي

يادمتل هغه وګړي دخپل ځان ددفاع په پاروايي دکوم وګړوچې کارونه ډېروي اوکوم بل کارهم پيل کړي که کوم څوک هغوی ته وويي چې تاباندي مخکي هم کارونه ډېروه داکاردې ولې پيل کړ؟يادکس ورته پورته متل وايي اودځان دفاع کوي.

## اوبو اخيستی زګ ته لاس اچوي

يادمتل هغه وخت وګړي په خپلوخبروکي کاروي کله چې يو اړکس کوم داسي کاروکړي چې نښايي هغه کارهغه کړی وای، کله چې خلک هغه په هغه کاروغندي نوخپله هغه کس ياکوم بل څوک چې غواړي دهغه دفاع وکړي:يادسوی متل هغوی ته دقنعت ورکولوپه پاروايې.

## اختر چې تير سي نکريځي په ديوال وتپه

دامتل هغه وخت خلګ وايي کله چې يوکس يوخت کوم توکي ته اړتيا لرله اودکوم بل کس څخه يې هغه وخت هغه توکی غوښتی و خوهغه هغه وخت هغه توکی نه وو ورکړی کله چې دهغه اړتيا پوره سول دهغه توکي دورکړي اراده يې وکړل مقابل کس دهغه څخه دګيلې په ډول يادمتل وايي اوداڅرګندوي چې دی اوس هغه توکي ته اړتيانه لري.

## آسمان په لوټو ولې

يادمتل هغو وګړوته دهغوی داصلاح لپاره ويل کيږي کوم وګړي چې دخپل توان څخه لويې خبرې کوي.په عامه اصتلاح لاپې وهي.

## اصل خطا نه لري، کم اصل وفا نه لري

اصل هغه توکي ته ويل کيږي چې دښه کيفيت درلودونکی وي کله چې کوم کس يوکم کيفيت لرونکی توکی يا برعکس ښه کيفيت لرونکی توکی وپيري مخا طب وګړی هغه ته هغه وخت کله چې دتوکي پيرونکي کس ښه توکی پيرلی وي دلاډاډ په پارپورته يادسوی متل وايي اوکه چيرې کوم چا دکم کيفيت لرونکی توکی پيرلی وي نومخاطب کس دهغه دبيا نه تيروتنې په پارپورته يادسوی متل وايي.

## اوبه د شګو په بند نه بنديږي

پورته متل هغه وګړوته متل ويوونکي وايي کوم وګړي چې خپل موخې اوکارته ښه تياری نه نيسي،دهغوی دښه تياري اوهغوی ته ددې څرګندولوپه پارچې هرکړن بيله ښه تياري څخه مه پيلوئ اوکه يې پيل کړئ نوښه تياری دځان سره ولرئ .يادسوی متل وګړي دې ته رابولي چې مخکي له دې چې کوم کارپيل کړي هغه کارته دکلک هوډ اوښه تياري سره ورودانګي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور يې په اوبو کې بل دی
دامتـل هغـه وگـړی مقابـل کـس يـا کسـانوته وايـې کلـه چـې کـوم کـس ياکسـان دډېروسـتونزوپه شـتون کـې خپلـې مـوخې تـه ورسـيږي،ياهغه وخـت کلـه چـې کـوم وگړی يا وگړي په ډېره آسانی خپلې موخې ته ورسيږي. دامتل ځينـې وخـت درخـې اوځيني وخت دمينې،دوستۍ په پارويل کيږي خوپه بيلولحجو.

ب

بار ئې په شا نه شو وړای، يو لرگی ئې بل پر کښېيود
يادمتل هغـه وخـت دکـوم وگـړي دپوهـاوي لپـاره کـوم کـس وايـي،کلـه چـې هغـه کـس ډېروکارونه پيلوي خويوهم په سرنه سي رسولی يعني په ښـه ډول ديوکـاردکولوتوان نه لري خودهغه په څنگ کې نورکارونه هم پيلوي.
بد زوی نه زوی
يادمتل هغه وگړي دناهيلی،مايوسۍ اوخفگان په ډول وايي کله چې ورسره اولادونـه ښه نه کوي،يعني اولادونه هومره بدکوي چې دهغوی والـدين دهغـوی پـه شـتون کـې ځان بي اولاده گڼي.
بد مکوه، بد به نه وينې
دامتـل دهغـووگړودعبرت لپـاره نـوروگړي هغـوی تـه وايـي، کـوم وگـړي چـې دبدکړوکولو هوډلري يا هغه وخت وگړي يوبل ته يادمتل وايي کلـه چـې کـوم بـدکړن کوونکی وگړی په کومه داسې ستونزه کې راگيرسی چې هغه هم نورخلکوتـه هغـې ته دورته ستونزو دپيښيدا لامل سوی وي .
برخې تړلې ازلي دي، نه په زور نه په زاري دي
دامتل دهغووگړودتسلی لپاره نوروگړي هغوی تـه وايـي کـوم وگـړو چـې د کـوم څـه دلاسـته راوړلوډېرکوښـښ کـړی وی خوهغـه څـه يـې لاسـته نـوي راوړي. يادمتـل ډېروخت دتسلی اوډاډگيرنې په پارويل کيږي.

بلا وه برکت يې نه وو
دامتل هغووگړوته خلک وايي کوم وگړي چې دکومې بدې پيښـې سـرمخ سـوي وي خوهغوی ته پکښې زيان نه وی رسيدلی الله جل جلاله ساتلي وي.
يادمتـل ځنـې وخـت دبـدې پيښـې څخـه ژغـورل سـوی وگـړی دخپـل حـال اوخوښـې دڅرگندولو په پار نورو وگړوته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخت په ټنده دی نه په منډه
که کوم وګړی دماديـاتو اويـا معنويـاتو پـه لټـه پسـي ډېـره هڅـه کـوي خوهغـه دخپلوټولوهڅو سره هم خپل موخي ته نه رسيږي، په داسي حال کې خپل لټه کوونکی يا کوم بل وګړی ورته پورته يادسوی متل وايي.
بل ته چې ګوته نيسي، ځانته دري کوتې نيول کيږي
که کوم وګړی خپله کومه بده کړنه کوي اودنورخلکوپربدکړنوهروخت لګيږي، اوغندي يي،که کوم څوک غواړي دی په دې وپوهوي چې ته هم په بدکړنوکې ډوب يې نورڅله غندې خپل ځان دې په نيغه لاره سيخ کړه اوبيانور وګړي دهغودبدکړنوله عمله وغنده،دخپل خبرې دپخوالي اودليل په پارهغه ته پورته متل وايي اوهغه ته قنعت ورکوي.

بنده حيران خدای جل جلاله پر مهربان
که کوم وګړی په ناڅاپي يا آسانه ډول کومه داسي څه ومومي چې ده ته خوښ وه چې هغه ومومي يا دهغه لاسته روړل ستونزمن اوتمه نکيدل چې دی هغه په دومره آسانی ومومي،کله چې يادکاروسي خپله مونـدونکی يا کوم بل وګړی دخدای جل جلاله دلويې،مهربانی...څخه په منني پورته متل وايي.
بی عقل دومره پر بل نه کوی لکه په ځان
که کوم وګړی ديوکس سپکاوی،غيبت،چغلګري يا ورسره بې ځايه شـخړه وکړي:مقابل يا کوم بل کس هغه ته پورته يادسوی متل وايې اوموخه يې داوي چې تا ماته ياهغه ته هومره زيان نه دی رسولی لکه څومره چې دې خپل ځان ته ورسوی. ددې متل دويلو دځايونو نورې بيلګې هم سته چې وګړی يې وايې .
بی ګودره چې ګډيږی خو د به دي سيند وړي
که کوم کس په خپلې ټاکلې موخې يا کوم کارکې نابريالی سي يا ورته پکښي زيان ورسيږي په داسي حال کې چې هغه دکوم چا سره مشوره نه وي کړي يا يې خپله ښه پلان اوتياری نه وي نيولی،دهغه وګړي داصلاح،پوهوي په پاره وګړي پورته متل وايي.
بې کاري د بدبختی زانګو ده
دامتل هغه وخت کوم متل ويوونکی کوم بل وګړي ته وايي چې دکار زمينه ورته برابره وي اودی کارنه کوي. ياد متل دوګړوداصلاح اوهغوی دکارکولوپه ارزښت دپوه کولوپه پاروېل کيږي.
باغ چې پوخ سي باغوان کوږ سي
که کوم کس دمادې اومعنوي لهازه پياوړی سي اوخپل پخواني ملګري اودهغوی ښيګڼې هيرې کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا كه كوم وګړى ديوچا په مرسته كوم ښه مقام ته ورسيږي او هغه چلند چې يې مخكې كوئ ورسته تردې چې هغه مقام ته ورسيدى هغه ډول چلنديې نه كوئ، نوخپله مخامخ كس اويا كوم بل وګړى پورته يادسوى متل وايي ترڅو هغه په دې وپوهوې چې خپل مقام ته په كتوغرورمه كوه اوتل عاجزه اوسه.

بى اتفاقي د كور ورانى ده

دامتل وګړي دې ته رابولي چې خپل ترمنځ يوالى قايم كړي،ځكه يوالى هرډول ستونزې دمنځه وړى، تل هغه وګړي پرمختګ كوي چې خپل ترمنځ يوالى وساتي.يوالى دكور،كلي او هيواد شاړي سمسوره وي اووګړي دپرمختګ او وياړترپولورسوي.

بابا به ويل ادې به منل

كله چې كوم وګړى دكوم چا درامريت،مشرى لاندي وي،كله چې مشريې دهركار دكولوورته ووايي اودى يې كولوته بيله دې چې دكار روا والى،ناروااوالى،مثبت،اومنفي اړخ ته ونه ګورى او هغه كارسرته ورسوي:كوم وګړى دګيلې،ناخوښى يادهغه دپوهاوي لپاره پورته ياد سوى متل وايي.

دبل دروازه،ورمه وهه په نوک ستاده به ووهل سي په سوک.

بل مه وهه په نوک، تابه ووهې په سوک.

كه كوم څوک غواړي يوبل تن دبدئ اوناروا كړنودكولوڅخه راوګرځوي خو مخامخ كس يې خبره اونيكه مشوره نه مني:يادكس ورته دخپلې خبرې دثابتولواودهغه ديوډول ډارپه پارپورته يادسوى متل وايي اوخپلې خبرې ته يوكروړدليل موندې.

بى ګودره مه ګډيږه

يادسوى متل وګړوته توصيه كوى چې بيله غور،تحليل،مشورې اودهغه دپايلو دڅيړلو څخه كوم كار ونه كړي.

بې هنره سړى د بې ميوې ونې په شان دى

يادمتل دهنر دزده كړې لارښوونه كوي،دهنر دزده كړې ارزښت څرګندوي او وګړي دهنر ياكسب زده كولوته تشويق كوي.

## ت

تا خوږه چې ما خوږه

ياد متل هغه وګړي يوبل ته وايي چې خپل ترمنځ ښې اړيكې لري يعني ترمنځ يې مينه،محبت وي كه يود دوى څخه دكومې لاسته راوړنې ورته ووايي اوپه دې خواشينې څرګندكړى چې ګواكي ته نه وي تابه هم هغه څه لاسته راوړي واى كوم چې مالاسته روړي دې،په ځواب كې يې مخامخ كس هغه ته ډاډ وركوي اوورته وايي چې زما اوستا توپيرنسته ستالاسته راوړنه زما لاسته راوړنه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياد متل هغه وخت هم ويل کيږي کله چې يوکس بدکړن کړی وي اومقابل کس ورتـه پيغور ورکړي چې يادکـاردي ښـه ونـه کـړه چـې ودې کړ،لومړی کس ورتـه ځـواب ورکوي چې تا هم يادکارکړی دی يا يې اوس کوی ماتـه ولـې وايـې؟: خپـل ځـان دي اصلاح کړه. دخپل خبرې دثبوت په ډول پورته متل وايي اوخپل ځان خلاصوي.

## هغه تازيان چې هوسۍ نيسي دهغوی خولې تورې وي

يادمتل هغه وخت وګړي وايي کله چې يوکس دکوم کـاردکولو ووايـي خوهغـه دهغـه کار دکولوتوان نه لري،دهغه وګړي دپوهوې يا دتانې په ډول کوم بل وګړی هغه تـه پورته متل وايي. يادمتل وګړي په دې پوهوي چې دخپل توان سرسم کړنـې پـه ښـه اووې کړې ترڅوورتـه ستونزې پيښـې نسي. ديـاد متل موخـه داهم نـه ده چـې هيڅ وخت دښو کارنودکول هوډ مه کوئ.

## تاداو چې له بيخه کوږ سي نو تر سره کوږ وي

يادمتل وګړوتـه داښيي چې تل خپل کارونـه پـه پـوره غـور ،فکر او دنوروخلګوپـه مشوره پيل کړئ،هڅه وکړئ چې داسـي کړنـې وکـړئ چـې تاسو اوستاسوتولنې تـه يـې زيـان ونـه رسـيږي،خپل کارونـه نيـغ پيـل کـړئ ترڅوپـه سيده ډول پـای تـه ورسيږي. که کوم وګړی بيله ژور آندکولو کـوم کارپيل کړي اودهغـه کارپايلـه ددې پرځای چې هغه ته ګټه ورسوي زيـان ورتـه پيښ کـړي :کـه يـاد وګړی دخپـل کـړي کارڅخه ناخوښې څرګنده کړې کوم بل وګړی دهغه دپوهوي لپاره پورتـه متـل وايـي اوهغه پـه دې خبره پوهوي چې کـاردې دلومړي سره دزيـان څخـه ډک وو،داچـې تايي په اړه مشوره،غوراوڅيړنه نه وه کړي: ګرم ته يې.

## تاج په هر سر برابر دی خو هر سر د تاج لايق ندی

يادمتـل وګړوتـه دا څرګنـدوی چـې پـه يـوه دنـده هرسـړی ګمـارل کيـدلی سـی،خو هرسـړی دهرکاروړتيـا نـه لري.يعنـي کاربايـد اهلـي کـار:دهم هغـه کاروړتيـا درلودونکی ته وسپارل سی نه هرچا ته.يادمتل دېروخت وګړي هغه وخت وايي کلـه چې ددولت دخويوداسي څوک په يودنده وګمارل سی چې هغه کس دورسپارسوي کار وړتيا ونه لري، يادسوی متل دېروخت دګيلې اومايوسۍ په پار دوګړو دخواويل کيږي.دپورته متل دکارونې ځايونه ډېردي.

## تر اوبو د مخه ګاولې مه کاږه

يادمتل داڅرګندوي چې مخکي له دې چې دکوم کـار دزيـان اوګټې پـه اړه پـوه نسو دهغه کارپه اړه زموږ اندېښنه اوخوښـي ښـه نـه ده. کـه کـوم کـس دغنموکښـت وکـړي خودڅه مودې ورسته هم پرې باران ونه اوري،که يـادکس خواشينی سـي اودځمکـې دبيرت کولبـه کـول هوډ وکړي يوبـل کـس هغـه ددې کارڅخـه راګرځوي اوهغه تـه وايي:خـدای جـل جلالـه مهربانـه دی بارانونـه بـه وسـي اوستاکښـت بـه ښـه حاصـل وکړي، دخپل خبرې دثبوت اوپخوالي په پار ورته پورته متـل وايـې اوهغـه تـه قنعت ورکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسي که یوچغلګردکوم چا بده خبره کوم بل کس ته وکړي اوهغه دومرپه غوسه سي چې مخکې تر دې چې رښتیا معلوم کړي دچغلګرپه وینا خبرې کوونکي کس ته دزیان رسولو هوډوکړي په دې وخت کې یوبل نیک وګړی دهغه دراګرځول کوښښ کوي اودهغه دغوسې اراملو اوهغه ته ددې ښوولوپه پارچې لومړی دچغلګر درواغ اورښتیا ځانته معلوم کړه هغه ته یادمتل وایي، یادمتل ډېروخت دوګړودپوهوي په پارمتل ویوونکي وایي. یادونه ګاولې یوډول پخوانی ځپلی وي.

تر بسو لاندي اوبه تیره وي

که کوم کس په بیداری،چل اوچم بازۍ مشهوره وي:وګړي دهغه کس دچم،چل،اوفریب څخه دنوروګړو دژغورلو په پار پورته متل دهغه دیوې ځانګړنې،صفت په پارهغوی ته وایي. ځینې وګړي دیوکس دښه ځیرک ثابتولوپه پار دهغه دستاینې لپاره هم یادمتل وایي.

تر بیکاري بیګاري ښه ده

یادمتل وګړي دکارکولوپه ارزښت پوهوي اوهغوی ته داڅرګندوي چې کاروکړئ که څه هم تاسوته دکارپه بدله کې کومه معلومه ګټه نه رسیږي.

تر پښو لاندي مځکې ته مه ګوره

پورته یاد سوی متل وګړي په دې پوهوي چې تل لوړلید لوری ولري یعني دراتلونکي لپاره تل تیارو اوسي، هغه کارونه چې یو وګړی یې کوي باید دا وسنجوي چې زما کارکه اوس ښې پایلې زما لپاره لري آیا راتلونکي وخت کې هم ښې پایلې دځان سره لرلی سي که برعکس نه یې سي لرلی؟دبیلګې په ډول :که کوم کس خدای جل جلاله مکړه غلاکوي اوس خوبه خود دی غلا په بریالیتوب سره وکړي خو دابايد ده ته معلومه وي چې اسلام کې غلا کول لویه ګناه ده الله جل جلاله به ده ته انشاءالله پردې نړۍ یا اخرت کې دکړي ګناه سزا ورکړي. پورته یادسوی متل ډېروخت دوګړو دپوهې لپاره ویل کیږي.

تا/ده زما په ژرنده اوړه نه دي کړي

یادمتل ډېروخت دوګړودخوا دځان ښودنې،غرور،خپلې پیاوړتیا او دځان دصفت په پارویل کیږي. که کوم وګړی دیوچا دخبرې یا امر پرخلاف کوم څه وکړي یا یوبل چا دده ددوست پروړاندې کوم داسې کارچې نه بایدسوی وای کړی وی:یادوګړی دخپل صفت،دځان پیاوړي،غوسه ناک ښودلو اوسخت ځواب ورکولو په پارپورته متل وایي. یادمتل ډېر وخت دتاني،دبل کس ددار،یا یوچاته دداډ ورکولو په پارویل کیږي،کیدای سي یاد متل مثبت اومنفي دواړه اړخونه ولري دظالم،بدکاره پروړاندې زما په آند مثبت اودمظلوم اونیکوکاره پروړاندې دمنفي اړخ درلودونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تر باش(راګرځولو) تيره ده، د چو ږغ پر کوه

يادمتل هغه وخت وګړی وايي کله چې: ديوکس څخه 90%- 95% کارخراب سوی وی،نودهغه وګړي دډاډ ګيرنې لپاره مسؤل،رهبر،يا دهغه په ښو خوښيدونکی کس وايي چې پروانه کوي پاتې 5% کاردې هم خراب سي ته دې ژوندی يې بيا به يې 100% يا پوره سم وکړې. پورته يادسوی متل دډاډ،امر يا ديوه وګړي چې کارترې خراب سوی وي اودسمون امکان يې نه وي دهغه دخوښې په پار وايل کيږي.

## تر تبر يې لاستی دروند سو/دی

که کوم څوک يوکار پيل کړې دبيلګې په ډول: که کوم تجار يو توکی دکوم ځای څخه راوردکړي خودحکومت دخوا ورڅخه اخستل سوی ما صول دومره سی چې دده دګټې څخه زيات وی:تجار دخپل وارد سوي توکي دنه ګټې لکبله دهم هغوتوکو وارديدل ودروي او کوم څوک ورڅخه دياد توکي دنه واريدېدو علت وپوښتي:يادسوی تجارورته پورته متل دخپل دليل په پاروايي.

لنډه داچي که دکوم کاردرګټي تاوان ډېروي:خلګ دهم هغه کاردنکولو لپاره پورته متل ددليل په پاروايي. يادمتل ته دناخوښی اوديوکاردنه کول ديو پوخ دليل متل ويلی سو.

## تر ورخ تيري اوبه بيرته نه راګرځي

ياد متل وګروته ښيي چې داسي کارونکړي چې ورسته پرخپل کړی کارپښيمانه ،افسوس کوي خو:څه لاسته نه ورځي. هرکار بايد مخکې تردې چې وه يې کړو دهغه اړخونه درڅيړنې لاندي ونيسو چې زموږ کار کوم منفي اومثبت اړخونه اوپايلې لري؟دنورو ګړو اوپه کارپوه کسانو سره مشوره وکړو اوورسته هغه کارسرته ورسو. يادمتل دکارونې ډېرځايونه لري، خوډېر وخت ددې لپاره کاريږي کله چې يوکس څخه تيروتنه سوې وي اودی پرهغه تيروتنه پښيمانه وي، دهغه کس دډاډ په پار وګړي هغه ته يادمتل وايي.

## ترس (ډار،وېره،) د مرګ ورور دی

کله چې کوم کس دکوم ښه،نيک کار دکولو څخه ډارولري اوکولو ته يې زړه نه ښه کوي: دهغه د ډاډګيرنې په پاريوبل وګړی هغه ته پورته متل وايي او هغه په دې پوهوي چې خير اوشرالله جل جلاله دلوري څخه دي:وېره يوازي دهغه جل جلاله څخه په کارده.يادمتل ډېروخت ديوکس دناسمې وېرې دليري کولو په پاره ويل کيږي. يادمتل ته دډاډګيرنې متل ويلی سو.

## تروږمی چې ډېره سي، سهار نژدې کيږي

که کوم وګړی دډېرو کړاونو سره مخ سي اودا کړاونه اوستونزې يې ورځ تربلې نورې هم ډېريږي:دهغه يوخواخوږی کس راځي اوهغه ته دلانورصبر/زغم کولوتوصيه کوي دخپلو خبرو دپخوالي،دليل اودهغه دډاډ په پارپورته يادسوی متل وايي او هغه ته قنعت ورکوي. يادمتل ته هم دزغم کولو اوډاډګيرنې متل ويلی سو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تریخ غړپ دی تیر به سي

که دیوچا ومخته کوم خنډیاستونزه هتمې راځي نو خپله هغه وګړی یا کوم بل کس دهغه دتیاري، ډاډ،زغم اوصبرپه پارپورته متل وایې.

## تللی مال بیا راځي خو تللی عزت بیا نه راځي

پورته متل وګړي په دې پوهوي چې درمادې شتمنی دمعنوي شتمنۍ ارزښت هسک دی، یعني دمال دلاسه تلل نسبت دعزت دلاسه تللو ته هیڅ دی،یووګړی باید دمادې شتمنۍ دلاسته راوړلو لپاره خپله معنوي شتمنې دلاسه ورنکړي. دبیلګې په ډول که کوم څوک غلا کوي ده ته به مال په لاس ورسي خوبرعکس به دی ډېرڅه دلاسه ورکړي،عزت،درناوی به دلاسه ورکړي اوګناه به لاسته راوړي. یادمتل ته دپند اخیستلو اودیوکس دپوهولومتل ویلی سو.

## ته د فیل په غوږ کښني وېده یی

که کوم وګړی ډېرڅه اوري،ویني یاني په ښکاره دکوم چا غلطي ویني خودهغه پر وړاندې کوم عکس العمل نه ښیي:په داسي حال کې چې دهغه دراګرځولو اوپوهولو توان لري،داسي وګړی خلګ مخاطب ګرځوي اوپورته متل دهغه دپاملرنې اوخپل مسئولیت ته یې دپام وراړولو په پار ورته وایي.
که کوم څوک دیوچا خبرې په پوره غوږ نه اوري: مخامخ وګړی دهغه دپام را اړولو په پارياد متل وايي. یادمتل ډېروخت دوګړو دپاملرنې دپیاوړتیا په پار ویل کیږي.

## ته که کافر یی زما خو ځګر یی

دامتل ډېروخت والدین دخپلو خوږو اولادونو دپوهوي یا دهغوی سره خپل دناپایه مینې دڅرګندولوپه پاروایي. ځینې اولادونه دومره بدسي چې خپل مور اوپلار دیادمتل ویلو ته اړباسي اودهغوی د دعا کوونکوخولوڅخه داناهیلې زمزه سي.
یادمتل هغه وخت هم وګړي وایي کله چې دهغوی یونژدي دوست دهغوی پروړاندې بدچار،چلندوکړي هغوی هغه ته دیاد متل په ویلوداڅرګندوي چې ستابدکولو زما پروړاندې به ما دې ته اړ نکړي چې زه هم ستا پروړاندې بدوکړم. یادمتل دمینې ښه څرګندونکی دی.

## ته له ما جار زه له تا جار

یادمتل خلکوته دیوالي ساتلوتوصیه کوي
که کوم وګړی دیوکس شریک،دوست اویا ملګری وي کله چې دوی څخه یویې دبل لپاره دخپل دارزښت یادونه وکړي مخامخ کس یې ورته وایي زه هم ستالپاره موهیم یم زه اوته یوبل ته ګټه رسوونکي یو اودهغه دپوهوې لپاره پورته متل وایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یې هم سکنې، هم یې رغوې
که کوم وګړی خپل دریځ ژر ژربدلوی دبیلګې په ډول:یوځل دیوکس بدۍ یادوي هغه غندي اوورسته ژربیرته خپله خبره اړوي اودهغه دښیګڼوستاینه کوي.
که ووایم یوکس دیوکار مخالفه وي اوهغه کارغندې خوشیبه ورسته دهغه کارستاینه کوي او ورسرموافق وي:دیاد وګړي ددې بد عدت داصلاح لپاره وګړي ورته پورته متل وایي اوهغه دده په غلطۍ پوهوي.

تو په شونډانو کېږي
که کوم وګړی ددې څخه رنځ وړي چې هغه ته کارنه پیداکیږي،کله چې کوم کس هغه ته دتجارت پیلولو ووایي:که یاد وګړی ورته داسي ځواب ورکړې: دومره پیسې زماسره شتون نه لري چې پري تجارت وکړم،هغه وخت دخپلې خبرې،ځواب د دلیل په پار پورته متل وایي.

تر خوږ ګوته مې مه نیسه
که کوم وګړي ته خپل کوم توکی ډېر ارزښت وړوي، دبیلګې په ډول:که دکوم کس سره یوکتاب وي اوکوم بل کس ورته راسي اوورته ووایي ماته به ستا دتوکوڅخه یوتوکی راکوي،هغه کس یې ورسره ومنې غوښتونکی ورڅخه کتاب وغواړي نودی ورته یادمتل وایي.همداسي که په نیغه ډول ورته ووایي ماته ستا کتاب راکړه نودکتاب خاوند ورته پورته متل وایې اوانکارکوی. پورته متل ته دناخوښې اوانکار څرګندولو متل ویلی سو .
تر سل منه خوړلي یو من کرلي ښه ده
یادمتل داڅرګندوي چې در ډېرو پلانونو اوخبروکولو لږ عمل ،کارکول ښه دي. که کوم څوک کارنه کوي اوعلت یې داښيي چې کارنه راته پیداکیږی اوکه کارپیداهم سی نوګټه یې کمه وی دردې داښه ده چې بیکاره یم، یادوګړي ته دقنعت ورکولواودهغه دتشویقولو په پارکوم بل وګړی هغه ته پورته یادسوی متل وایي.

تر وېش یې په چور خوشحاله دی/دي
که کوم وګړی درمنظم والي(ترتیب) نامنظم والی درسولي جنګ ،شر دربښې خبرې بده خبره خوښوي، دهغه داصلاح پوهوي یا دهغه ددې بدعدت په اړه دنورو وګړو دپوهوي په پار پورته متل ویل کیږي.
توپک دوست او دښمن نه پیژني
یادمتل دتوپک دغندني اودهغه دخطر،زیان په اړه دوګړو دپوهوي یا دیوه داسي کس چې هغه بدکاره وي دهغه په اړه ونورو وګړوته دخبراوي په پارويل کیږي،
دلته بدکړن کوونکی وګړی دتوپک سره تشبیه کیږي اوهغه هرچا ته زیان رسوونکی پیژندل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تور خر په صابون نه سپينيږي

کـه کـوم وګـړی بدکارونــه کـوي اوهغــه تــه ناصحان،لارښـوونکي تـل نصـحت، اولارښوونه کوي خوپرهغه کومه مثبته اغيزه نـه کوي،خپل لارښوونکی،ښوونکی يا کوم بل وګړی چې دياد وګړي دډېرې بې پروايي څخـه ستړی سوی وی:پورتـه يادسـوی متـل دخپلـې نـاهيلی دڅرګندولوپـه پـارواييی.هم داډول کـه کـوم بـد څـوک دنيکوکـاروګړو ملګري پيل کړي:يوڅوک يې دښـه والـي ووايـي: شـک کـوونکی وګړی،وګړي ياد متل وايي.

## توره دې تيره لاس دې خلاص

کله چې کوم وګړی يوبل وګړي ته اختار ورکړي مخاطب،مخامخ کس دځان ددفاع يا خپل ځان دهغه څخه دکم نه ګڼلو په پار يادمتل وايې اوبرعکس کارکوی.

## تر ديګ څمڅۍ (کاچوغه) ګرمه ده

يادمتـل هغـه وخـت وګـړی وايـې کلـه چـې پريـوه سـتونزه، خنـډ يـا شـخړه ددوو ډلـو مشــران،امران هــوکړي تــه ورســيږي، خــو ددوی څخــه ديــوې ډلــې يــوبې صلاحيته،کشــر،يا بــې واکــه کــس ســويه پريکــړه نــه منــې اوســتونزې پکښــې پيښـوي:دمقابلې،مخامخ ډلـې يـووګړی دامتـل وه هغـه کـس تـه دهغـه دحيثيت،مقـام دڅرګندولو په پارواييی. يادمتل ته ديوکس دتوهين کولو،پوهولو اودبدکارڅخـه دلاس اخيستلو متل ويلی سو.

## تياره يې غواړه، د ياره يې غواړه

تياره يې غواړې،دياره يې غواړې

که کوم وګړی يوکس ته ډاډ ورکوي او ورته وائی چې هغه څه چې تـه غواړې زه به يې درته پيدا اودرکړم دهغه دښه ډاډ په پارپورته متل وايي. کـه کوم وګړی تمبل وي اودبـل دلاس ګټـه خـورې دهغـه کس دپوهـوي،دتمبلی اوبـې کـاری څخـه دلاس اخيستلويا وه کوم بل کس ته دهغه دتمبلی،کارنکولو دشکايت پـه پـار پورتـه يادسوی متل وګړي وايي اوهغه ته خپله خواشينې بربنډه وي.

## تيره راځي، راځي دخوار پر سر لګيږي

که کوم غريب،مظلوم اوبې چاره کس په کومـه ستونزه کې راګيرسـي يـا ورتـه کوم زيـان ورسيږي دهغـه کس سره دخواخوږی پـه پـار وګړي يؤبـل تـه يادمتـل وايـې اوخپله خواشنې څرګندوي.

## تيره پخپل ځای درنه وي

که کوم وګړی غواړي ديوکس پـه کـارونوکې بـې ځايـه لاسوهنه وکړي دهغـه کس دراګرځولو لپاره يوبل کس راځي اوهغه ته پورتـه يادسوی متل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تږی اوبه په خوب ویني
که کوم وګړی دکوم کړن دکولو یا کیدلو ، ډېر هیلمند وي او یا کوم بې ځایه شک لري.او هروخت دهغه دکیدو یا کیدلو ګومان ،هیله یا شک کوی دهغه ددې ډېرګومان دلیري کول په پارکوم بل وګړی هغه ته پورته متل وایي اوهغه ته ځرګندوي چې هغه کارنه دی پیښ سوی یا نه پیښیدونکی دی.

توتکۍ وای بې آزاره ده، ویل د چمن د چنجیانو څخه پوښته وکړه
یادمتل هغه وخت وګړي یوبل ته وایي کله چې نوروګړي دکوم شخص دادب،ښوالي اوبې ازاره ښودلو په پار دهغه ستاینه کوي خوپه رښتیا هغه پورته ځانګړنې نه لري،ستاینه کوونکی کس پري خبرنه وي چې هغه یادسوی ښه خویونه نه لري،یا هم ددې ښوخوینو تمثیل کوي،دهغه دپوهوي اودهغه کس دبدیو دخبراوي په پار خلګ پورته متل وایي. یادمتل ځیني وخت دیوچا سره درخې په پار اوځیني وخت دیوکس دبدو کړنو په اړه دنورو وګړو دخبرولولپاره ویل کیږی.

تیر پر تیر، هیر پر هیر
که ځینو وګړو په تیروخت کې شخړه کړې وي یا یې درمنځ کوم خنډ مخالفت یاستونزه پیښه سوې وي او اوس غواړي یو ددوی څخه دالیري والی دمنځه یوسي:پورته متل ورته دهغه د پوهوي اوراتلونکي وخت کې دهغه پیښې دنه تکر دډاډ په پاروایي؛یاد متل دریمګړي هم ځیني وخت دمخالفت درلودونکو وګړو ترمنځ دسولې او دهغوی ترمنځ داصلاح راوستولو په پاروایي.

تیریده لري ، هیریده نلري
که کوم وګړي یاوګړو ډېرې ستونزې په خپل تیرژوندکې لیدلي وي او دخبروپه وخت کې یو ددوی څخه دهغو ستونزو یادونه وکړي:مخامخ کس دالله جل جلاله څخه مننه کوي چې هغه ستونزې یې ددوی څخه دفعه کړي،هغه پورته متل وایي اوخپلې هغه بدې خاطرې نه هیریدونکي یادوې.

تر بد ځیري، خراب ګندلی ښه دی
که کوم وګړی دیوه داسي کارچې په پوره ډول سرته نه وي رسیدلی دنه کولو وایي اوخپل دلیل داوړندې کوي چې کیدای سي هغه کار زه په ښه ډول سرته ونه رسوم ،کوم بل وګړی دهغه دتشویق او دهغه دهوډ دپیاوړتیا په پار پورته متل وایي اوهغه ته دا ځرګندوی چې ترنه هڅې کولو اوسم به یې ونکم دوېرې درختمولو داښه ده چې خپل ځان وازمویې که وسو ډېرښه که ونه سو بیاهم ښه،ستا به دا ارمان پاته نسي چې کاش دهغه کار دکولو اوسرته رسولو هڅه خومې کړې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج

### جار تر هغه زويه چې تر هر چاوي نيک خويه

يادمتل والدين دخپلوهغو اولادونو دستايني په پاروايي:کوم اولادونه چې خپل د والدينو زړونه هيڅ وخت نه ازاروي، تل يې حق غوښتني منې اوتل يې درناوی کوی. يادمتل ته ديئو وګړي دستايني متل ويلی سو.

### جاهل ته دوه ځله سلام کوه

کوم وګړي چې دنورو وګړو درناوی نه کوی بدخويه وي دهغو وګړو سره نيک سلوک کول اړين دی؟: ددې لپاره چې کيدای سی هغوی ستاسودنيکو اخلاقو اوښه چلندلکبله خپل په سلوک کې مثبت بدلون راولي اوخپل بدخويې په نيک خويئ بدله کړې.پښتانه وګړي هغه وخت يادمتل وايي کله چې يوکس دهغه چا دچلندڅخه شکايت وکړي:دکوم کس چې اخلاق کمزوري وي، متل ويوونکی شکايت کوونکی کس په دې پوهوي چې دبد سلوک درلودونکو وګړو پروړاندې تل دنيک سلوک څخه کار اخله اودهغوی څخه ګيله مه کوه ځکه ښايي هغوی ښه روزنه نه وي ليدلي اوکيدای سي ستا دنيکو اخلاقو څخه زده کړه وکړي.

### ځای سته جولا نسته/ځای و جولا نه و

يادمتل هغه وخت وګړي دهيرانتيا،شک اوخبر په پاروايي:کله چې يوځای کومه پيښه سوې وي اوهلته دهغه پيښې کوم نښه شتون ونه لري.ياد متل هغه وخت هم وګړي وايي کله چې يوکس ديوڅه په اړه کوم چاته دډېرتينګارسره ووايي چې هلته شتون لري کله چې مخاطب کس دهغه پلټنه وکړي هغه څه ونه مومي کوم چې دشتون خبريې ورسولی وو نوکوم بل کس ته دهغه دنشتون کيسه کوي اوپورته متل وايي.

### جګو بنګلو ته نظر مه کوه

يادمتل داخرګندوي چې خپل په حال شکرکوونکي اوسئ څه چې لري په هغه بسنه وکړئ اودنورو وګړو دژوند په ليدو دامه واياست چې کاش ما هم دهغوی په شان ژوند درلودای،انسان ته مادې اومعنوي شتمني الله جل جلاله ورکوي ستالپاره به ستا سره موجود شته ستا په خيروي او دهغو سره به دهغو شته دهغوی په خيروي.
که دځان څخه د مادې اومعنوي اړخه کوم څوک غوره وينئ او دهغو سره رخه کوئ داښه ده چې دځان څخه کښتو وګړو ته پام وکړئ اوخپل پرحال شکر وباسئ.

### جنت د مور او پلار تر پښو لاندې دی

دياد متل موخه پوره څرګنده ده يادمتل په دې دلالت کوي چې دمور اوپلار بايد څومره درناوی وسي،اسلام موږ. دمور اوپلار سره په ښه چارچلند کولو امرکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ پر کوچني کېږي، يا پر سپي
يادمتل وګړي هغه وخت وايي کله چې کوم لوی وګړی يا ځوان کس ماشومانوته ازار رسوي، ياداچې کوم وګړی دنورو خلکو حيوناتو ته زيان رسوي،دهغه کس دپوهوي په پار وګړي دامتل ځکه وايي چې هغه په دې خبره وپوهيږي چې داسلام مبين دين اوپښتون قام: پرماشومانو،مظلومانو اوژويو ظلم کول ناروا کړن بللی دی.يادمتل داځرګندوي چې په ماشومانو اودنورو خلکو په اهلي ژويو کاردرلودل ياني دهغوی زوږول،بد رد ورته ويل يا وهل دپروخت دشخړو لامل کيږی.

جنګ د غوايانو و او ماتيدله جوار
يادمتل هغه وخت وګړي وايي کله چې دظالمو اويا پياوړو وګړو ترمنځ جګړه،شخړه يا اختلافات وي اود دوی ددې اختلافاتو ډېر زيان عامو وګړو يا کمزورو وګړو ته رسيږي خلک د مايوسی په پار يادمتل وايي.
همداډول که د دوو پياوړو هيوادونو ترمنځ سره،نيابتي يا مخامخ جګړه وي اوددې جګړې ډېر زيان کمزورو يا هغوهيوادونو ته رسيږي چې په هغه شخړه کې اخته،بوخت نه وي،هغه وخت وګړي ددې حالت د انځور دځرګنديدا په پارپورته يادسوی متل وايي.

جامه چې دپور سي په ځان اور سي
کله چې کوم کس په لاس کې پيسي نلري اودی غواړې چې ځانته دبيلګې په ډول موټرواخلې:کوم ځوک دهغه کس په دې خبره د پوهولو په پارچې کيدای سي تاسو په تاکلي موده کې دهغه موټر قيمت کوم چې تا په پوراخيستی دی پوره نکړئ اوبيابه درته خدای جل جلاله مکړه ستونزې پيښي وي:دخپل خبرو د دليل په پارياد سوی متل وای.

جزا د عمل حق ده
که کوم وګړی بدکاره وي دبيلګې په ډول ظالم وي پرهغه هم ظلم وسي يا دظلم جزا ورته ورکول سي:وګړي دبدی کولو دزيان په پار دهغه و ګړی په يادول مثال،بيلګه ورکوی اوپورته يادسوی متل وايي.
جلا وطني د سرو درناوی کموي
يادمتل دپروخت وګړي دخپل ټاټوبي سره دميني په پاروايی.
ژرنده په ګوډي،دغنموجوال پسی نه ځي ، ګوډی په ژرنده پسي ځي
که کوم ځوک غواړې پوهه،علم وکړې اوغواړې چې ښوونکی ده ته راسې يانې مدرسه،ښونځی په کورکې غواړې... دهغه کس دپوهوي په پار وګړي پورته متل وايي،ديادمتل موخه داده چې اړمند په اړتيا پوره کوونکي پسي ورځي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي ډېرنه پيښيږي چې اړتيا پوره کوونکی اړمند ته راسي اواړتيا يې ورپوره کړي.دامتل داځرګندوي چې موږ اړيو ديوځه دلاسته راوړلو لپاره زيار وباسو،هځه اوکوښښ وکړو ترڅو موږ.خپلې موخې ته ورسيږو او بريا موپه برخه سي.

## ح

### حاجت من د بنګې سپک وی

کله چې کوم څوک دخپل ناچاری څخه سرټکوي اوکوم چاته دخپل حاجت،اړتيا دپوره کولو لپاره ورسي خوهغه وګړی منفي ځواب ورکړي يايې سپکاوی وکړي خودی ورته دهغه ځواب ورنکړي، که کوم څوک پرهغه نيوکه وکړي او ورته ووايي چې ولې دي دهغه دمنفي سلوک ځواب ورنکړ؟يادکس ورته ځواب کې خپله بي وسي څرګندوي اوپورته متل وايي.

### حال منصور وايه چې سر ئې په دار سو

که يؤ وګړی کومه پيښه ووينې خونه غواړي دهغه پيښي په اړه کوم چاته څه ووايي،کله چې کوم بل وګړی هغه ته ووايي چې ولې حال نه وايي تاخوخپله هغه پيښه ليدلې ده؟ دی دخپل دليل په پار پورته متل وايي اوخپل ځان خلاصوي.

### حرام په حرامه لار ځي

که کوم وګړی دناروا،حرامې لارې څخه شتمنې لاسته راوړي اودڅه مودې ورسته يې ټوله شتمني ختمه سي اوبې شتوسي:وګړي دنورو خلکو دعبرت،پند اخيستو په پار يوبل ته پورته متل وايي اوداځرګندوي چې په غلا،زور اودنورو ناروا لارو څخه دشتو لاسته راوړل هيڅ وخت دخير اوبرکت څخه نه وي پريمان اوکه څوک دحرامې لارې څخه دشتو خاوند سي ژربه بيرته ترې لاړسي اوخپله سزا به ووينې.

### حساب په مثقال بخشيش په خروار

کله چې دوه وګړي سره دوستان وي اوددوی ترمنځ کوم حساب واقع،پيښ سي که يؤ ددوی څخه ناخوښي څرګنده کړي او ووايي چې زه اوته خو دوستان يو نوبيا ولې دومره دقيق حساب راسره کوي؟
په مقابل کې يې دوست هغه ته وايي: زما اوستادوستي پرخپل ځای ده خونه دي دې اوريدلي چې وايي حساب په مثقال بخشيش په خروار.

### حقيقت ويل ترخه دي

کله چې يوه کس ته کوم بل وګړی دهغه ديوبدعدت،يابدکار دنه کولو په اړه ووايي يا دهغه په اړه کومه داسي خبره وکړي چې دهغه خوښه نسي اومنفي ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړې، تورلګوونکی کس دخپل کړې خبرې يالګيدلي تور دفاع کوی اودخپل خبرې دثبوت په پار پورته متل وايي.

## حيادار حيا کوله، بې حيا ويل زما څخه بېريږي/ ډاريږي

کله چې کوم څوک دخپل ښه سلوک لکبله کوم چاته دبدې خبرې يا بدکړن ځواب په بده خبره اوبدکړن،کار نه ورکوی،خوبياهم بده خبره،بدکړن کوونکی هغه پرارمه نه پريږدي،کله چې ښه سلوک کوونکی نوردهغه بدنسی زغملی هغه ته وايي:که دي بيا زما پرووړاندې دبدسلوک څخه کاراخيستی زه هم اړکيږم چې برعکس ځواب درکړم،نور بس ده ډېرمې ستابد وزغمل تا ندي اوريدلي چې وايې:حيادار حيا کوله، بې حيا ويل زما څخه بېريږي/ ډاريږي.

## خ

## خاموشي،چوف اوسيد ل د خوښی علامه ده

کله چې دکوم چا څخه ديوه کاردکولو يا نه کولوپه اړه وپوښتل سي،دبيلګي په ډول که کومه کورنۍ غواړې خپل زوی ته کوژده وکړي اودهغه سره مشوره وکړي چې ستا خوښه ده چې دفلانکي دلور سره دې نکاح وسي،زوی يې په زغرده دهو اويا ځواب ورنکړي اوخاموش(چوف) پاتې سي:والدين يې پورته متل وايي اوهغه ته کوژده کوي.

## خاموشي(چوف اوسيدل) لوی ګمان دی

کله چې يووګړی په کوم بدکار تورن وي:همدغه تورن وګړی دځان دخلاصون لپاره کوم بل وګړی مخاطب کوی اوهغه ته وايي:آيا داکارچې زه پرې تورن يم زه يې کولی سم يا مې کړی دی؟ کله چې مخاطب کس دده دخبرې ځواب ورنه کړي اوچوف پاتې سي متکلم،تورن کس مايوسه کيږي:پورته متل وايي
او مخاطب کس ته څرګندوي چې ګواکي ته هم پرما داګمان کوی چې ما هغه بد کارکړی دی.

## خانده خانده، ښه کور دي اوډلی دی

که يو وګړی په تيروتنه يا قصداً کوم بد يا داسي کاروکړې چې بايد نه وای سوی اودهغه سربيره بيا هم په خپل کړي کارپښيمانه نه وي اودنه پښيمانتيا ترڅنګ نورې خبرې يا خنداهم کوی:دهغه کس دپوهوي اوهغه ته ددې ښوولوپه پارچې ګواکي دی بايد پرخپله تيروتنه او کړي کار پښيمانه او دزيانمن کس څخه بخښنه وغواړي خلګ هغه ته پورته متل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاورې يو خاورې به سو
كـه كـوم وگړى غـواړې خپلـه عـاجزي ځرگنـده كـړي اودغروركولـو اوځـان لـوى ښودلو څخـه بيزارې وښيي:دخپل عـاجزئ اونـاتوانى دښـه ښـودلو اونـورو وگړوتـه ددې يـادوني اوښـووني پـه پـارچې انســان بايـد غـرور كوونكى،مـال دولـت بانـدي پخركوونكى ونه اوسي پورته متل وايي.

خبرې دخپلې خولې په اندازه كوه
كه كوم وگړى ديوكس سپكاوى كوى اوياكه يوكس دهغو كـارنو دكولـو وايـي كـوم چې هغه كارونه يې په توان كې نه وي؛مخامخ وگړى هغـه تـه ديـادوخبرو دنـه كولـو وايي اوهغه ته په سختو الفاظو وايي: خبرې دې د خپلې خولې په انـدازه كوه،يادمتـل ډېروخت دوگړو ترمنځ هغه وخت كاريږي كله چې پركومه خبره يـا كارسـره لفظـي شخړه وكړي.

خبره تر خبري پوري يادير.ي
كله چې وگړي يؤ دبل سره خبرې كوي كـه يـوكس دپښتو ژبـې دكـوم اديـب يادونـه وكړې دمجلس يوبل گډونوال دكوم كتاب په اړه غږيږي اومخكـي تـردې چـې دهغـه كتاب په اړه وږغيږي:پورته متل وايي اودگډونوال پام خپل ځانته را اړوي.

خبره په خبرو خلاصيږى
كه ددوو ياهغه څخه زياتو وگړو پركومه خبره دنظـر اختلاف وي يـا پركومـه خبـره سره نه جوړيږي،پايلې ته نـه رسيږي اوخبـره ورو ورو دشـخړې لورتـه ځـي ديـادو وگړو دمنځ څخه كوم كس پورتـه متل وايي اوهغوى دې تـه نـه پريږدي چـې فزيكـي شخړه سره وكړي يا يې هم ترمنځ خفگان منځ ته راسي

خبره دې په گل بدله
كله چې مجلس،خبرې اتـرې گرمـي وي اوكـوم كس غـواړي پـه موادبانـه ډول دكـوم چـا خبـره پرې،قطعـه كړې:وايـي ستـا خبـره دې پـه گل بدلـه وي اوبيـا ورسـته خپلـې خبرې پيلوي.
خبري ډېرې، سر ئې يؤ
كله چې دوه وگړي پركومه خبره نـه سره جوړيږي:پـه خبروكـې يـې دنظـر اختلاف شتون ولري اوغواړې پـه زوره پـه يؤبـل بانـدي خپلـه خبـره ومنـي دريمگړى ددوى دوو ترمنځ دياد اختلاف دلمنځه وړلو په پار وايي:تاسو اصـل دخبرې تـه راسـئ كـه هرڅومره خبرې وپيچئ اخربه بيرته دحل خبـرې تـه راځئ،هغـه مونـه دې اوريـدلې چې وايي :خبري ډېرې، سر ئې يؤدى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خاوره د خسُر د کوره اخيستل کيږي

کله چې يؤ وګړی په ځيره او عدتونوکې دخسرګنۍ خواته مايل وي:کوم بل وګړی دهغه ددې ميلان دثبوت اودې ځرګندولو په پارچې ګواکي دی ګرم نه دی پورته متل وايي.ياد متل دپښتوژبې دنورومتلونوپه شان دکاروني ډېرځايونه اوعتلونه لري.

## خبرې ښې کوې، لکی يې کږې کوې

که کوم وګړی په فصيحه اوخوږه ژبه خبرې کوې اوپرخپلوخبرپوره واک لري ښه بيلګې وايي اوخبرې يې نه غميدونکي وي،خودخپلوخبروپه منځ کې دمخالف لوري غندنه کوې اوپرهغوی په داسې ډول تورونه لګوی چې هغوی ته پکښې اشاره سوي وي،په زغرده پرې تورنه لګوي:هغه وخت دمخالف لوري کوم کس پورته متل وايي او دهغه دستاينې ترځنګ دهغه غندنه هم کوې.

## خبرې تا وکړې زړه زما سوړ سو

که کوم وګړی يوبل کس ته دهغه پر واړاندې سختې اوداسې خبرې وکړې چې دهغه کس دپوښتونو ځوابونه پکښې حل خودده پوښتنې نيمګړي پاتې سي،په دې وخت کې دريمګړی کس دمتکلم(خبرې کوونکي)کس ستاينه کوي اوخپل خوښې دپورته متل په ويلوسره ځرګندوي.

## خپل عمل د لارې مل

که کوم ځوک نيک خويه وي وهغه ته دنيکۍ درسيدا

اوکه کوم کس بدکاره يا بدخويه وي وه هغه ته دبدۍ درسيدا په وخت کې وګړي وايي:ده چې څه کول هغه ته ورته څه يې وليدل. کله چې يوکس سره کوم ځوک ښه کوي يا ښه ورته رسيږي نو خلګ وای دی خپله ښه کارونه کوونکی دی ځکه ده ته هم ښه رسيږي اوکه چيرې کوم کس بدکړن کوونکی وی هغه ته بدې يا دکوم چا دخوا بد ورسيږي نوخلګ وای:دی بدکارکوونکی وو ځکه هم هغه کارده پروړاندې هم وسو. يادواودې ته ورته علتونو لکبله وګړي يادمتل وايي.

## خپل به دي وژړوي، پردی به دي وخندوي

که کوم ځوک دخپل دوست څخه په دې خاطرخفه سي چې ولې يې هغه ته دبدکار دنکولو وويل؟دبيلګې په ډول:که کوم ځوک غواړې نشيي توکي وکاروي خو دهغه يوخواخوږی هغه دياد کار دکولوڅخه منعه کوي،که په ياد کارکولو نشه کوونکی کس دخپل خواخوږي څخه خفه سي او ووايي :زه زما فلان دوست ددې کارڅخه راونګرځولم بلکي نوريې هم نشې کولو ته تشويق کړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواخوږی يې ځواب ورکوي: زه پوهيږم نشه کول دزيان څخه ډک کاردی خو داچې ته زما په دې کار زما څخه خفه کيږي اودفلان څخه چې ته يې دې بدکارته تشويق کړي خوښ يې؟تا نه دې اوريدلي چې وايي: خپل به دي وژړه وي، پردی به دي وخندوي.

خپل ښه راته بلا سوه

که کوم وګړی ديوکس سره کومه ښيګڼه وکړي خوهغه کس يې پروړاندې برعکس(سرچپه)کاروکړي نو ښيګڼه کوونکی وګړی پورته متل وايي او خپله مايوسي څرګندوي.

خپل عيب دولو منځ د بل عيب د کلو منځ

که يووګړی هروخت دنورو بدوکارونو اوپه هغوی کې موجودو عيبونو اونيمګړتياو ته ګوته نيسي اوخپل عيبونه،نيمګړتيا وي ورته نښکاري دهغه وګړي ددې عدت څخه خلګ ستومانه کيږي اوهغه ته دپورته متل په ويلو سره داڅرګندوي چې لومړی خپلې نيمګړتياوي دمنځه يوسه اوورسته دنورو نيمګړتياو ته ګوته ونيسه.

خپله ژبه هم کلا ده، هم بلا

که يوکس خلګوته دژبې دلارې زيان رسوي،تل يې ژبه دنورو وګړو په سپکاوي اوړې را اوړې: که کوم وخت دده پر وړاندې کوم کس دده په شان عمل وکړې اودی په ياد کار کولوسره خفه سي کوم بل چاته دهغه شکايت اودهغه دبدې خبرې يادونه وکړي هغه کس ده ته پورته متل وايي اودی په دې پوهوي چې ژبه که په ښوخبرو سره اموخته کړوښه خبرې به واورو اودزيان څخه به خوندې يو اوکه يې برعکس وکارو زمورږپر وړاندې به هم هغه شان عمل (کار)تکراريږي.

خپل تېغر سره دې پښې سمې غځوه

که کوم وګړی دخپل وس،توان څخه هسکې ياداسې هيلې ولري چې هيڅ دپوره کيدلو امکان يې نه وي، ياکه کوم وګړی يوبل وګړي ته ترخې اوداسې خبرې کوي چې دهغه سره نښايي چې وي کړي، يا دهغه خبرو دپوره کولو وړتيا،توان ورکې نه وي، وه هغه کس ته ددې ښوولو په پارچې کوم څه چې دی يې هيله لري يا کوم څه چې دی وای دهغه دسرته رسولو وړتيا اوتوان په هغه کې نسته پورته متل وايي اوهغه ديادوخبرودکولوڅخه منعه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خپل غوږ ناکتلی په سپي پسي مه ځغله

کله چې يووګړي ته يؤ چغلګر کس ووايي : فلانکي وګړي ستاپه اړه داسي اوهسي بدې خبرې وکړې يا يې ستا پروړاندې کوم بل بدکار وکړ او يا هوډ يې کړی چې وي کړي،که مخاطب وګړی بيله دې چې ربښتيا او درواغ مالوم کړې وه هغه کس ته چې چغلګر يې په اړه ده ته چغلګري کړې ده دزيان رسول هوډ وکړي،کوم بل وګړی هغه راګرځوي اودهغه دپوهوي په پار پورته متل وايي. ديادمتل دکاروني ځايونه دپښتو دنورو متلوپه شان ډېردي.

## خپل کور يا خپل ګور

که کوم وګړي ته يوکس دميلمستيا بلنه ورکړې خوبرعکس دی ورنه سي يوڅوک ورڅخه دنه ورتګ علت وپوښتي:دی دخپل دليل په پار پورته متل وايي .

## خپله پښه په تيشه وهي

که کوم وګړی بدکارونه کوي،هغه وګړي ته ددې څرګندولو په پارچې بد،ناروا کارکول خپله تاته زيان رسوی،دې نړۍ يا اخرت کې به هرو مرو دخپل کړي بدکار سزا وينې،دهغه دقنعت حاصلولو لپاره پورته متل وايي اوهغه ته قنعت ورکوي. که کوم وګړي وخپل ورور ته دزيان رسول هوډکړی وی يؤ بل وګړی راځي اوهغه دياد کارڅخه راګرځوي اوورته څرګندوي چې ستاورور ته زيان رسيدل خپل تاته زيان رسيدل دي، متکلم دخپل دليل په پارپورته متل وايي اوخپل خبره پخه ثابتوي.

## خدای(جل جلاله) د کراري مل دی

که کوم وګړی په خپلوکړنوکې بيړه کوي يوبل وګړی هغه ته وايي بيړه کول ښه پايله نه لري تاته نه ښايي چې بيړه وکړي صبر،زغم ولره :دخپلې خبرې دپخوالي لپاره پورته متل وايي اوهغه دتلوار کولو څخه منعه کوي.

## خدای د کلی او ښکروري کسات هم کاږي

که کوم ظالم پرمظلوم ظلم وکړي مظلوم دهغه دپوهوي،وېرولو په پار پورته متل وايي اوخپل صبرکولوته دليل موندي.

## خدای په يوه حال دی نه بنده

که کوم وګړی ديوکس څخه دکوم توکي غوښتنه وکړي مخاطب کس هغه ته دتعجب په ډول ووايي : ستاسره خودا توکی وو نوڅنګه بيا اړسوي چې زما څخه يي وغواړي؟غوښتونکی دهغه په ځواب کې پورته متل وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه ته داڅرګندوی چې شتمني ،پیاوړتیا تل دانسان سره نه وي. که کوم وګړی شتمن وي اړمن کس دهغه څخه یوڅه وغواړي خوشتمن کس ورته دهغه توکي دنه ورکړي ترڅنګ دهغه سپکاوی هم وکړي غوښتونکی کس دخپل نه نا امیده کیدو او هغه ته دغرور نکولو دتوصیي په پار پورته متل وایي.

## خبرې لږ عمل زیات

که کوم وګړي دخپلوکارونوڅخه پلانونه اوخبرې ډېرې کوي: دهغوی دخبروپه شان عمل،کار کولو ته درابللو په پارخلګ پورته متل وایي.

## خپل یاسین تیزه وي

که کوم وګړی دکوم څه په اړه نه پوهیږی خوبیا هم هغه کارکوی یا یې په اړه ځان دپوره مالوماتو خاوندبولي دهغه ددې کارڅخه دلاس اخیستوپه پار متل ویوونکي پورته متل وایي اوهغه په دې پوهوي چې دنا زده کړي کارکول یا دهغه په اړه دځانه خبرې جوړول دخلکو پرشخصیت بدې اغیزې لري.یا دمتل خلک دهغو وګړوپه اړه هم وایي: کوم وګړي چې دیو کاردنه اړتیا په صورت کې هم هغه کارسرته رسوي،کوي.

## خدای تعالی چې خوله راکړې، روزي به هم راکوي

که کوم څوک یوچاته دخپل ځان دنه ساتلویعني وخپل ځان ته دډوډۍ دنه پید کولوپیغور ورکړي اومخاطب کس یولټ کس معرفي کړی.

یا که کوم وګړی دیوچاڅخه کوم مادې څه وغواړي هغه ورته منفي ځواب ورکړي: غوښتوونکی کس پورته متل وایي اوهغه ته داڅرګندوی چې رزق ورکوونکی الله جل جلاله دی زما اړتیا به هغه سترذات کوم بل ځای راپوره کړي.

## خدای جل جلاله د چا زحمت بی ځایه نه بیا یي

که کوم وګړی زحمت وګالي خوخپلې موخې ته ونه رسیږی:په دې وخت کې دهغه یوخواخوږی راځي اوهغه ته دنه ناهیلې کیدو او دهغه د ډاډ په پار پورته متل وایي.

## خروار د موتې نه معلومیږی

که کوم څوک دیوچا سره په لومړي ځل ووینې خودهغه اخلاق یې خوښ نسي،که یوبل څوک هغه ته ووایي چې فلان کس خوتاولیدی دهغه څومره ښه اخلاق وه،که ته دهغه سره وخت تیرکړې دهغه ښه اخلاق به نورهم ووینې،مخامخ وګړی ورته ځواب ورکوي چې زما دهغه اخلاق خوښ نه سول،دهغه وګړي ستایوونکی وایي: تا دهغه سره ډیروخت نه دی تیر کړی که یې ورسرتیر کړې دابه درته څرګنده سي چې هغه دنیکو اخلاقوڅښتن دی،په دې وخت کې غندونکی کس پورته متل وایي اوهغه ته څرګندوي چې که یوشیبه بداخلاقه وو کیدای سي یوکال هم بداخلاقه واوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای جل جلاله دې داسې شر پېښ کړي، چې زموږ خیر پکښې وي
که د دووظالمانو ترمنځ شخړه پېښه سي دهغوی دظلم څخه په تنګ سوي مظلوم وګړي دهغوی په شر،شخړه خوښې څرګندوي اوپورته متل وایي.

خدایه لوی مې کړې لویي را مه کړې
که کوم وګړی غواړې خپله عاجزي په ښه ډول څرګنده کړې اویا کوم بل مغرور وګړي ته دغرور نه کولو وایي:هغه ته یاد متل وایي اودلویي اوغرو څخه دځان ساتلو دعا کوي.

خدایه، لویه ! ما وساتې له بده زویه
که کوم څوک دنیک اوصالح اولاد دعا کوی اویا دکوم بداولاد درلودونکي وګړي په حال افسوس کوي: یادمتل د دعا اودهغه بد اولاد درلودونکي والد سره دخواخوږۍ په پار وایي.

هم خرما ده هم ثواب،خورما اوثواب دواړه،
ته هم خرما غواړې هم ثواب
که کوم چیري یوتن ته دوې ګټې په یوه وخت کې رسیږي،یا هم دوه کارونه په یووخت کې کوي،دبیلګې په ډول:که کوم څوک دهغه دوستان یُو ځای دهغوی سره دهغوی په خوښۍ کې دبرخې اخیستلو لپاره وغواړې:یادکس په هم هغه وخت کې دهغوی وسیمې ته دتجارت په پاردتللو تکل کړی وي نو دی خپله یا کوم بل کس ورته پورته متل وایي. دیادمتل دکارونې ځایونه اوعلتونه دپښتو دنورومتلونوپه شان خوراډېر دي.

خزانې په خرابو کې دي
که دکوم داسې ځای څخه چې هلته پرمختګ ستونزمن وي یُووګړی ډېر پرمختګ وکړي،یا دکوم داسې ځای څخه چې هلته دوګړو استعدادونه ډېر وخت پټ پاتې سوي وي:یواستعداد ټولنې ته وړاندې سي اویُووګړی په دې کارتعجب څرګند کړي نوکوم بل وګړی دا پېښه دتعجب وړنه بولي اودهغه دتعجب لیري کولوپه پار پورته متل وایي.

خوار په خپله خواري نه شرمیږي
که کوم وګړی کارکوي یوڅوک هغه ته ووایي داکار ستاسره خوند نکا،ته اوداکار نه سره وایاست.کارګر ورته ځواب ورکوي اوپورته متل وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامتل هغه وخت هم خلګ هغه وګړي ته وايي کله چې :يوکارکول په داسي وخت کې چې کارکولته هم اړتيالري نه کوي اودځان لپاره دهغه کارکول نامناسيب اوشرم بولي.

خوار تلتک/بړستنه نه درلوده، چې پيدا ئې کړه، ترغرمې پکښې پروت و
کله چې يووګړی پرخپل کوم توکي ډېر تېرېږي:وګړي دهغه داکارناديده توب،نالیده توب بولي اودهغه ددې کارڅخه دلاس پرسرکيدو په پارپورته متل وايي.

خواره سې،خوارسې مکارې،مکاره چې هم جنګ کوې هم ژاړې
که کوم څوک هم ګرم وي اوهم دځان ګرم بلل نه مني،برعکس خپل ځان مظلوم اوبي پرې ګڼي:خلګ ورته دهغه ددې مکارۍ څخه دتيريدا اوپوهوي په پار پورته متل وايي.

خوب چې راسی بالښت نه غواړی زړه چې مين سی ښايست نه غواړی
که کوم څوک ديؤه بي ارزښته توکي پرلاسته راوړلو ډېر ټينګارکوی اوکوم بل وګړی دهغه دا کارغندي نو ټينګارکوونکی کس دخپل ټينګاردکولو د دليل،علت په پارپورته متل وايي اوخپل ځان ګرم نه بولي.

د

د انځرګل شوي
که کوم وګړی خپل يوملګری دډېرې مودې لپاره نه وي ليدل خوموده ورسته ورسره مخ سي:دهغه څخه دهغه دنادرکی پوښتنه کوي اوورته وايي چيرې وي دانځرګله چې دومره وخت نه معلوميدي؟

د انصاف مور مړه ده
که دکوم وګړي سره کوم څوک نا انصافي،بي عدالتي يا ظلم وکړې او ورته زيان واړوي :هغه کس خپل مايوسې څرګندوي او وايي:دلته دانصاف مورمړه ده.

د اوبو نه کوچي باسي
که کوم وګړی دکوم کارډېر تحليل اوڅيرنه کوي يا يؤوګړی ډېر حرص ناکه وي دهغه وګړي ديؤ عدت،صفت اويادهغه دپوهوي په پاروګړي ياد متل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اورغوي تناكه ملغلره ده
كه كوم وګړى دډېركار اوزحمت ګاللو څخه ستړى سى اودخپل ستړيا لګبله شكايت كوي،دهغه وګړي دستاينې اوهغه ته ددې احساس وركولو په پارچې كاركول ښه دى درېيكارئ اودكار،زحمت ګللوپايله تل هوسايي وي،هغه ته پورته متل وايي اوهغه ته قنعت وركوي.

د اولاد بد چاته نه ښكارېږي
كه دكوم چا اولاد اويا بل خپل بدكاره وي اووګړي دهغه څخه وه يادكس ته شكايت وكړي،دهغه دبدچارچلند په اړه يې خبركړى،خودى هغه خبره نه منې اوبرعكس دخپل اولاد يا خپل ننګه كوي،شكايت كوونكي وګړي دناهيلئ اودهغه دپوهوي په پار پورته متل وايي اوهغه ته داښيې چې دخپل اولاد اوخپل پلټنه وكړه ترڅو ته خپله دهغه پر بدچار چلند باندي خبر اوقنعت دي حاصل سى.

د ولس زور د خداى(جل جلاله) زور
كله چې يوټولنه دخپلو حقوقو دلاسته راوړلو په پارلاس په كارسى،يوالى وكړي اوخپل حقه حقوق لاسته راوړي،كه په دې خبركوم څوک تعجب وكړي كوم كس دهغه دتعجب دليري كولو په پار پورته متل وايي اوهغه ته داڅرګندوي:كله چې ولسونه يوالى ولرى،يوموټى سى دهغه ولس مخته څوک نسى ودريداى ،هغوى به هرومرو خپلې موخې ته رسيږي اوبريا به دهغوى وى.
دامتل وګړي دولسونو په منځ كې ديوالي اواتفاق راوستلو په پارهم وايي،ترڅوهغوى ته څرګنده كړي چې ولسونه كه يوسول هره ستونزه اوخنډ دمنځه وړاى سى اوبريالي كيږي .

د بدو پاى روغه جوړه ده
كه كوم وګړي سره مخالف وي اوروغې جوړې ته غاړه نږدي:دهغوى په منځ كې منځګړي وګړي هغوى وه سولې كول اودمخالفت څخه لاس اخيستلوته رابولي اوهغوى ته پورته متل دخپل خبرې دثبوت اوپياوړي دليل په پارمخته ږدي.

د اوښ كوم ځاى سم دى چې پاته ئې غاړه سوه
كه كوم وګړي ډېر عيبونه،بدياني درلودلي اودهغه كس ديوه عيب يابدئ څخه كوم څوک شكايت وكړې:يوبل كس هغه ته پورته متل وايي اوهغه ته داڅرګندوي چې دهغه كس بد عدتونه ډېردي يوازي ستاپروړاندې بدعدت دهغه سرمل نه دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بآبا د غونه ږيره وه چې په تاويزو کې ولاړه
که دکوم وګړي څخه هروخت نوروګړي کوم څه په يوه اوبل نامه غواړي اويادکس دې وګړوته ددې ورکړو څخه نتېه نه کوی،دورکونکي کس شريک که هغه ددې کارڅخه منعه کوی،دخپلې خبرې دپخې ښودلو اوثبوت په پار پورته متل وايي او هغه ددې کارڅخه منعه کوي.

د باران نه تښتيده دناوې لاندې يې شپه سوه
که کوم وګړی دهوساينې،کړوانو اوستونزو څخه دخلاصيدو په پارکوم ځای پريږدي بل ځای لاړسی، خوبرعکس په هغه ځای کې نورې هم دده ستونزې اوستړياوي ډېرې سي. دبيلګې په ډول:يوکس خپل هيواد دغربت،جنګ اوکوم بل علت لکبله پريږدي،بل هيوادته کوچ وکړي خودی په هغه هيوادکې چې ده ورته کوچ کړی دی دلا نور غربت،ياپه جنګ جګړوکې ګيرپاتې سي خپله يادکس دناهيلۍ يا شکايت په پار پورته متل وايي اوځان ګرم بولي. يادمتل دپښتوژبې دنورو متلونوپه شان دکارونې ډېرځايونه اودويلو دعلتونوډېرې بيلګې لري.

د بدو به بد زيږي/ مومي
که کوم وګړی بدکارونه کوی ډېروخت دهغه دپوهوي اودبدکړو وړو څخه دلاس پرسرکيدلوپه پاروګړي يادمتل وايي.

د بربنډ له اوبو ډار(وېره) نسته
که چا يوه ستنزمن کارته ملاترلي وي،يُوبل کس راسي اودده په مخ کې دلا ډېرو ستونزو دراتلو وړندوينه وکړې اودهغه ددې کارڅخه دراګرځولو کوښښ وکړې،ستونزمن کارکوونکی کس دخپل کروړ هوډ اوهغه ته دډاډ ورکولو په پارپورته متل وايي اوخپل کارته ادمه ورکوی.

د پيښې نه تيښته نشته
که کوم وګړی دکومې بدې پيښې سره مخ سی:هغه وګړي ته يوکس د ډاډ ګيرنې اوغم شريکۍ په پار پورته متل وايي اوځان دهغه خواخوږی معرفي کوی.

د خوار په لاس کې غلمينه ډوډۍ عيب ده
که کوم وګړی دکومې بريا مادې يا معنوي ګټې خاوندسی اونور وګړي دهغه سره دهغه په لاسته راوړنې کې رخه،کينه کوې دهغه يوخواخوږی پورته متل دهغوی درخې دلمنځه وړلو اوددې ناوړه کارڅخه دتيردنې په پار وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخير په غونډۍ ناست دی
يووګړی که ځان تل بي پرې ښدې ،په ډېرکړنو کې خپل آند دنورو وګړو سره نه ګډوي اونه هم برخه پکښې اخلي:دهغه وګړي دغندنې،رابلنې اودهغه څخه دشکايت کولو په پار وګړي پورته متل وايي اوهغه ته څرګندوي چې بايد بي تفاواته اومسؤليت نه منوونکی پاته نسي.

د ازاره چا بازار موندلی ندی
که کوم وګړی بدکارکوونکی وی،تل نورته زيان رسوي خلک ورڅخه په ازار اوزحمت وي،دهغه ددې بدوکارونو څخه دلاس اخيستلو اودهغه په دې پوهولو په پارچې وګړوته ازار اوزيان رسول هيڅ وخت ښه اوتاته ګټه رسوونکی کارنه دی پورته متل وايي اودهغه دمفکوري،آند بدلولو کوښښ کوي.

د بل کټ تر نيمو شپو وی
که کوم څوک دنورو وګړو په توکو دهغوی په ملاتړ يا دهغوی په ننګه کوم کارمخته وړي:نابېره هغوی دياد وګړي دملاتړڅخه لاس واخلي،دياد وګړي د ډاډاو خواخوږی په پار وګړي هغه ته ياد متل وايي اودهغه سره مرسته کوي.

د بوسو(پروړو) لاندې اوبه مه تېروه
که کوم وګړی دکوم چا سره دفريب،چم او دهغه دغولولو هڅه کې وي،خو مقابل(مخامخ) کس دهغه په دې چل پوه سي هغه ته پورته متل وايي اوپه راتلونکي وخت کې يې دياد بدکار دکولوڅخه منعه کوی.

د جنګ خوږې خبرې، ساعت يې تريخ دی
يؤوګړی که دشخړې کولو،جنګ ته تلو ډېر هيله لرونکی وی اوتل غواړې جنګ،شخړه وکړې اوياجنګ ته لاړسی، دهغه کس ددې مفکوري دناسمې ثابتولو،دهغه دنيک پوهوې اودشخړې،جنګ څخه دهغه د ډار په پاروګړي هغه ته پورته متل وايي .يادمتل دنوروستونزمنو کارونوڅخه ديوکس دراګرځولواويادهغو کارونودستونزمن معرفي کولوپه پارهم وګړي وايی.
د خپل کور پير چاته نه معلومېږي
که کوم وګړی په يوکارکې دوړتيا څښتن وی،خودهغه کورنی،دوستان دهغه په وړتيا ناخبره اودهغه په وړتيا کې شک ويني ،ياد وګړی دخپل وړتيا په اړه دهغوی دشک ليري کولو په پارپورته متل وايي اوځان دوړتيا خاوند ورپيژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د درواغو مزل لنډوي

که يوکس دروغجن وی:ناڅاپه يې دروغ بربنډ سي، وګړي ددروغو دغندلو،دهغه دبدۍ او نور وګړي ددروغو څخه دمنعه کولو په پار پور ته متل وايي اوخلګوته ددرغوبدې ځرګندوي.

## د ډېري لرګی، د يوه غوزی

يادمتل وګړي يوالي ته رابولي اوکه کوم څوک يوالي ته زړه نه ښه کوي يادمتل وهغه ته دقنعت ورکولو په پار ويل کيږي.

## د مسخرو اخير جنګ وي

کله چې يوټولی خپل ترمنځ نامناسيبي ټوکې کوي: ددوی دمنځ څخه يوکس پورته متل وايي اوخپلې ټولی ته داځرګندوي چې نامناسبې ټوکې کول: زموږترمنځ نفاق،رخې اوبدبينی ته لاره هواره وي اوداکار زموږپه زيان دی.

## د ميلمه ځواب پاتی دی

که کوم وګړی کوم چا ته منفي ځواب په زغرده اونيغ ډول ورنکړي خوپه غيري مستقيم ډول کوم داسي کاروکړې چې دمنفي ځواب ځرګندونکی وی:مخاطب کس پورته متل وايي اودهغه دنامستقيم منفي ځواب يادونه کوی.

## د هر چا عمل(کار) د خپل مخ آئينه ده

دامتل وګړي دخلکود پوهوي په پارهغه وخت وايي کله چې دکوم وګړي دنيکو يابدو کړنو يادونه،ليدنه کيږی،هغوی ددې متل په ويلو داځرګندوي چې ټولنه کې ديوکس ښه کړنې هغه دخلکو په منځ کې محبوب کوی او هغه وګړی تل دخلګوڅخه ښه وينې، خوبرعکس دبدو کارنو کوونکي وکړي ته ټولنه درناوی نکوی دهغه پروړاندې خلک دبد چارچلند څخه کاراخلي اوپه ټولنه کې خپل محبوبيت،حيثيت،شخصيت اواعتباردلاسه ورکوی.

## د شعر معنا د شاعر په خيټه کې ده

شعر دټولنې کړاونه،دردونه،نيمګړتياوی،پرمختګونه،ښکلاوي،نازک احساسات اوګټور پوهوی په خپله رنګينه لمن کې رانغاړې او ديوې ټولنې اوسيدنکو پوري يې په ښکلي اوخوږه انداز رسوی،دهمدې اونورو ډېرو موضاعاتو(سکالوګانو)په رنګين تارپييونکي ته شاعر وايي،شاعرهغه څوک دی چې دټولنې هراړخ ته پوره غور کوونکی،کتوونکی اوتحليلوونکی وی،شعر ډېروخت په تشبيحاتو،قيناياتو،اشارو،استعارواورمزونوکې پوښلی وی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ډېرعامووګړو پوهه يې دغوتېو سپړلوته نه رسيږي.په خلګوکې اصطلاح ده چې وايي شاعرته يې دشعر زرمعناوي ورکړي خوشاعر ويل چې نه دشعرمعنا مې بله ده،دهمدې په خاطر وګړي پورته متل وايي چې دشاعر د شعر(پنځ) معنا دشاعر سره پټه ده.
کله چې ديوکار/شي ايجادونکي (پنځونکي)ته دهغه داختاراع په اړه کوم څوک خپل تحليل وړاندې کړي خو دتحليل کوونکي تحليل دهغه پنځوني په اړه سم نه وي، تحليل کوونکی که د خپل تحليل دسموالي دعوه کوی اوځان په حقه بولي دريمګړی کس پورته متل وايي اوهغه ته قنعت ورکوی.

## د ښار دروازې تړل کيږي دخلکو خولې نه تړل کيږي

دکوم چا پرکارونو چې ځيني خلګ هروخت اعتراض کوونکي اوتورلګونکي وي که کارګر دخپل کارڅخه ناهيلی سی اودپريښول هوډ يې وکړي هغه ته يې يئو خواخوږی راځي او دهغه دډاډ اوتشويق په پارپورته متل وايي.

## د ښار وو ځه له نر خه يې نه

کله چې يئو وګړی دخپل عنناتو،فرهنګ،کلتورخلاف دکوم کار دکولو هوډلری ياکله چې يئوڅوک دخپل يئو توکي بيعه دهغې سيمې دنرخ څخه پورته وايي وګړي دهغه دپوهوي لپاره پورته متل وايي اوهغه ته قنعت ورکوی.

## د حمام لنګ دی

په هغوتوکو،شيانو باندي چې زړه نه تړل کيږي وګړي وايي دحمام لنګ دی نن ستا سبا دبل وی دبيلګي په ډول ماديات،پياوړتيا،واک اوقدرت.

## د خپل بام واوره د نورو په بامو اچوي

که کوم وګړی خپل تيروتنې دنورلکبله بولي يا مسؤليت يې دنورو وګړو په غاړه اچوي وګړي دهغوی په اړه پورته متل وايي اوهغوی ته داڅرګندوي چې خپلې تيروتنې دنورو په غاړه اچول ښه چارنه دی.

## د خره نه په زين باندی آس نه جوړيږی

که کوم څه دارزښت وړنه وی اوخلګ ورته په لوی لاس ارزښت ورکوی:ددې وګړو دپوهي په پارخلګ پورته متل وايي اوهغوی ددې کارڅخه منعه کوي.

## د ډاله ږ غ دلري ښه اوريدل کېږی

که کومه پيښه په کومه سيمه کې وسي خودهغې سيمې خلګ ورباندي خبرنه وي بلکې دنورو سيموخلګ ورباندي ښه خبروي،که دپيښې دسيمې خلګ ووايي چې موږ هلته شتون لرو خونه يو په خبر تاسوڅنګه خبرسواست؟هغوی دخپل خبرې دثبوت په پارپورته متل وايي اوځانونه رينتني بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دډېري لرګی دیؤه غوزی
کوم وګړی چې غواړې نور وګړي يوالي کولو ته راوبولي او دکوم کاراغيزه داچې پـه ګـډه وسـي نسـبت يـؤازي کولـو تـه ډېـره بـولي ديـوالي دمخالفـت کوونکـو درضايت(خوښی)په پارپورته متل وايي اوخلګ يوالي ته رابولي.

## د ړوندو په ښار کې يوسترګی پاچا دی
که کوم څوک ديوې ډلې پرمشر اعتراض وکړي چې په کارپوه نه دی مخاطب کس ورته وايي:دی نسبت ډلې ته يي په کـارپوه دی،تانـه دې اوريدلي چې وايي:دړونـدو په ښار کې يوسترګی پاچا دی.

## د سپي په غپ پسې مه ځه
يادمتل هغه وخت يؤ وګړي هغه کس ته وايـي چـې چغلګريـا کوم بل شـر اچوونکي دکوم بل چا پروړاندې پارولی وی.دهغه په دې پوهو لپاره چې دچغلګرو اودهرچا بده خبره،شيطانت سم نه وی او اړتيا نسته دهرچا بده خبر پرغوږ ونيسو.دلته دسپي نـوم ښـايي ځکـه راوړل سـوی وي: سپـی تـل غـاپي اودهرسـپي غپـا بانـدي دليوانـو دراتلو ګومان کول ناسم وی.

## د سوال په اوبو ژرنده نه ګرځي،چليږي
کلـه چـې يوڅـوک غـواړې خپـل ټولې چـارې دنـورو څخـه پـه خواست،سـوال کولـو سرتـه ورسـوی،دهغه کس ديـاد کارڅخـه دراکرځولوپـه پـار کـوم څـوک پورتـه متـل وايي اوهغه ته داځرګندوی چې په هرکارکې سوال کول ښه نه وی.

## د شپې بند اوبو وړی
کلـه چـې بـي وختـه،بي پلانـه،بي څيړنـې اوبـې پوهې کوم وګړی يوکـارکوی دهغـه دنيـک پوهوي اودهغـه کارڅخـه درګرځولـو پـه پـارکوم څـوک هغـه تـه پورتـه متـل وايي.

## د شيطان غوږونه دې کاڼه وي
کلـه چـې يوڅـوک دخوښـی،راز اوخپـل دحـال دڅرګنـدولو کومـه خبـره کـوي وايـي:د شيطان غوږونه دي کاڼه وي.

## د صبر مېوه خوږه وي
که کوم څوک يؤکس تـه دصـبر او زغم درلودلو توصيه کوي وايـي:د صـبر مېـوه خوږه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ظلم ونې پايښت نلري
يؤه وګړي ته دظلم دبدئ دڅرګندولو او دهغه دظلم څخه دراګرځولو لپاركوم بل څوك پورته متل وايي اوظلم كول يؤبدكار بولي.

د غله په غره كې ځاى نسته
يادمتل ځكه خلك وايي چې داڅرګنده كړي چې غل،خاين كه څه هم په ښكاره به نه ډاريږي خوهغه په اصل كې ډارن دى ولې دهغه ويژدان،ضمير دخپل كړى كار دكولو لكبله په ډار او وېره كې وي، هغه كه هرچيرې لاړسى بياهم دخپل بدئ په ډاركې راګيروى.

د بدې خبرې سل كاله عمر وي
كه كوم څوك ديوچا دنامناسيبې خبرې څخه خفه سوى وى كه هغه خبره كوونكى ياكوم بل څوك دهغه خبرې دياد پوښتنه تري وكړي:ځواب كې ورته مخاطب پورته متل وايي اودنه هيرولو ډاډيي وركوي.

د زور اوبه مخ پورته ځي
دظالم او جابركس كه ديؤه ناتونه اومظلوم كس سره پركوم داسي څه دعوه وي چې حق خو دمظلوم وي خوظالم په هغه دعوه كې ګټوونكى سى،دلته نور وګړي دمظلوم سره دخواخوږي په پارپورته متل وايي اوځانونه دمظلوم پلويان ګڼي.

د سوداګر په سترګه ورته وګوره
كه يؤ وګړى خپل يؤ توكى كوم بل وګړي ته ښكاره كوي چې هغه ورباندي خپل مثبت يامنفي نظر، آند وركړي هغه ته وايي:دسوداګر په سترګه ورته وګوره.

د شا د كټلو پر ځاى مخكې ګوره
كه كوم وګړى خپلې تيرې تيروتنې يادوې اوراتلونكي كارونه ترې پاتې وي:دهغه دپوهوي په پار وګړي ورته وايي:د شا د كټلو پر ځاى مخكې ګوره.

د كبرجن سر ټيټ وي
دياد متل موخه داده:كه كوم وګړى مغروره،كبركوونكى وي كه څه هم دى به آندي چې زه سرلوړى اوښه يم مګر په حقيقت كې مغرور اوكبرجن سرټيټى وى،هغه د درناوي وړنه وى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عالمه سره غم نه غم دی
کله چې يؤه پوره ټولنه کوم کړاو سره مخ کيږي خلک يؤ بل ته دخواخوږي او ډاډګيرنې په پار پورته متل وايي.

د ګونګي په ژبه خپله مور ښه پوهيږي
کله چې کوم وګړی دکوم کار ماهره،کاسب وي اوبل کوم وګړی دهغه کار دکولو هڅه وکړي خوبرعکس بريالی نسی.د بيلګې په ډول کوم چا خپل موټر يوبل کس ته ورکړ خو هغه يې په چلولوکې دستونزو سره مخ سو دموټرخاوند دموټر چلولوته خپل وردانګي اوپورته متل وايي.

د لاس پنځه ګوتې سره برابرې نه دي
که يوې کورنۍ کې دبدو اخلاقوښتن کوم وګړی وی اويوکس دهغه کورنۍ ټولو وګړوته دهم هغه بداخلاق لرونکي په نظر ګوري.دهغه ددې ناسم آند دلمنځه وړلو لپاره يؤ کس هغه ته پورته متل وايي او هغه دياد نظر دکولو څخه راګرځوی.

د آس کيزه چا ته مه ورکوه
که کوم وګړی خپل دکارونو مسؤليت نورو وګړوته ورکوي يؤ کس راځي او هغه ته وايي:د آس کيزه چا ته مه ورکوه.

د فيل په غوږ کې ويده دی
کله چې کوم وګړی په ارزښت لرنکوخبرو اومسايلوځان نه خبروی يايې نه پوه کوی دهغه دپاملرنې لپارخلک پورته متل وايي او هغه ته داښيی چې بې خبره اوناپوهه ونه اوسي.

د کبر کاسه نسکوره ده
که کوم وګړی کبرکوي دهغه دپوهوي په پار وګړي پورته متل وايي او هغه دکبرکولو دبديو څخه خبروي.همدارنګه که ديوه کبرجن وګړي مادي يا معنوي شته ناڅاپه دمنځه لاړسی: وګړي دنورو وګړو دپند اخيستلوپه پارياد متل وايي.
د ګور شپه نه په کور کيږي
که کوم څوک ديوه وفات سوي دخپلوانو سره خواخوږي کوي يا کوم څوک دمرګ څخه دنه خلاصون يادونه کوي ياد متل وايي اودخرګندوي چې کله دانسان پردې نړۍ دژوندشپې ورځې خلاصې سي هغه نه راګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لستوڼي مار دی
که دکوم وګړي خپل دهغه سره بد وکړې:دخپلې خواشنۍ دڅرګندولو په پار یاد متل وايي اوخپل زړه ته ډاډ ورکوي.همدارنګه که کوم څوک دکوم خپل دبدۍ په اړه خبرسي يا پري شک وکړي دهغه په اړه خپلو نوروخپلوانو ته ياد متل وايي.
د آهنګريوټك دزرګرسل ټکه
کله چې کوم وګړی په کوم کارکې پوره پوهه ونه لري خوهغه کارکوي يوبل کس چې دهغه کار ماهيره اوپوه وی راځي اوپورته متل وايي ددې متل په ويلوهغه کس ته داڅرګندوی چې داکار که ته په ډېروخت او د ډېرې انرژي په لګښت سرته رسوي برعکس زه يې په لږوخت اوکمه انرژي سرته رسولی سم.

د اوښ پر شا داسي ډېرې ډمامې وهل سوي دي
کله چې يوکس دکوم کړاو سره مخ کيږي اوياکوم څوک ورته کومه بده،منفي خبره کوي،که هغه کس ته کوم څوک وايي:چې تاپسی فلان کس داسي اوهسي وايي اويا ستا مخته کومه ستونزه راروانه ده خوته چوف يي ځان دې بي عکس العمله پريښی دی،يادکس ورته ځواب ورکوي اوپورته متل خپل او دهغه د ډاډ په پاروايي.

د بڼو/باغو څښتن په ارامه نه وي
که کوم وګړی دډېرو شتو واک اوپياوړتيا غوښتونکی اوخوښونکی وی،دهغه کس دياد کار څخه دمنعه کولو اوهغه ته ددې ښوولو په پارچې خپل پر شتو،واک اوپياوړتيا صبروکړه وګړي هغه ته پورته يادسوی متل وايي اوهغه ته داڅرګندوي چې ستا ژوند اوس هم د خوښيواو ارام څخه پريمانه دی.

د دو افغانيو بيزو وه د لسو افغانيو زنځير يې يوړو
که کوم وګړی دګټې په پار يوکارپيل کړي خوبرعکس په هغه کارکې دګټې پرځای تاوان وکړې،ياد وګړی دخپل تيروتنې دمنلو او دخپلې مايوسۍ دڅرګندولو په پار پورته متل وايي.

د شيدو سوی مستې پوه کوي
که کوم وګړی دکوم کار څخه زيانمن سی اوبيا دهغه کارپه کولو يا دکوم بل کارپه کولوکې دډېراحطيات څخه کاراخلي:که کوم څوک هغه وغندې،ياد کس دخپل ځان دنه ملامتۍ ياکوم بل کس دهغه دنه ملامتۍ په پارپورته متل وايي اوهغه ګرم نه بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوټه چې په لاس پرانيستل کيږي غاښ ته څه اړتياده
کـه د دوو وګـړو تـرمنځ يـوه سـتونزه رامنځ تـه سـي او د دوی څخـه يـؤيې غـواړي داستونزه دنورو وګړوپه مرسته حل کړي،دويم يې وايي: زه اوته بـه خپلـه داسـتونزه خپل ترمنځ حل کړو نـور وګـړي بـه خپل دستونزې پـه خلاصـونه کـې منځ تـه نـه راولو تانه دي اوريدلي چې وايي:غوټـه چـې پـه لاس پرانيستل کيږي غـاښ تـه څـه اړتيا.

د مچه سره سيلاوه مه ګرځوه
که يؤ وګړی پرهره خبره غوسه کيږي اوشخړه کوی دهغه ددې کاردغندنې اودهغـه دپوهوي په پار کوم بل وګړی هغه ته وايي:د مچه سره سيلاوه مه ګرځوه.

د مور په نس کې چا نه دي زده کړي
که يؤ وګړی يؤ کارچې مخکي يې هغه کارنـه وي کړی پـه ښـه ډول نسـی کولـی،کـه کـــوم بـــل وګـــړی پرهغـــه اعتـــرض وکـــړي او ديـــاد کـــار دپريښـــودلو ورتـــه ووايي:کارګرکس ورته ځواب ورکوی:صبره وکړه داکاربه زه زده کړم چا نـو کـار دمورپه خيټه (نس)کې زده کړی دی.

د غنمو له برکته اغزي هم او به کيږي
کله چې ديؤښه وګړي دبرکتـه کوم بد وګړي تـه هم ګټـه رسيږي پـه دې وخـت کـې وګړي وايي:دغنمو له برکته اغزي هم او به کيږي.

د خوار دوه غوايان وه يو وتی نه بل ننوتی نه
کله چې دکوم چا کارونه مختـه نه ځي اوياد وګړی ډېر وخت دکړاونو سـره مـخ وي دخپل خواشينی دڅرګندولو په پار پورتـه متل وايي.
د لو ګري چې لو ته زړه نه کيږي،لور په لو ته تيره کوي
کـه کـوم څـوک پـه خپلـه دنـده کـې سوسـتي اولټـې کـوي، ځـان پـه يـوه اوبلـه بهانـه دکارڅخه کاږی،يا که کوم څوک نه غواړي دکوم بل چا خبره ومنـې اوځـان پـه يـوه اوبله بهانه خلاصوي:ددې وګـړي دغنـدنې او دهغـه ددې کـار څخـه دلاس پرسـرکيدا په پار وګړي هغه ته ياد متل وايي.
د مستې ميچن ده، چپه ګرځي
که کوم څوک سر زوري کوي اود بل چا خبـرې تـه ارزښـت نـه ورکوي،يـا کـه کـوم څـوک بيلـه آنـد اوتحليلـه داسـي کارونـه کـوي چـې دکولـو امکـان يـې نـه وي: دهغـه دحالت،صفت دڅرګندولو په پارخلک پورتـه متل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر کار پيل سخت دی
که يُو وګړی نوی کارپيلوی اوورته ورخطا او انديښمن وي،وګړي دهغه دانديښنې او ډار دختميدا په پارپورته متل وايي اوهغه ته ډاډګيرنه ورکوی.

د يوه لاسه ټک نه خيږي
که کوم څوک يوازي کوم کار پرمخ بيايي خوڅنګه چې ښايي هغه سي يې سرته نسی رسولی، که کوم څوک نور وګړي ديُوبل سره مرستې کولو اويا دياد کس سره دمرستې کولو لپاره تشويقوي پورته متل وايي اوداڅرګندوي چې کارونه دوګړو په يوالي ښه سرته رسيدای سي نه دهغوی په نه يوالي.

دا يې ګز دا يې ميدان
که يوڅوک دکوم کار دزده کړې اوکولو دعوه وکړي،که دهغه په خبره دده مخاطب وګړي باور ونه کړي هغه ته دده دياد کړي کار دسملاسي سرته رسولو وايي، خودا ويل يې نيغ نه وي دياد متل په ويلوهغه ته دهغه کار د سمدستي سرته رسولو بلنه ورکوی.

د يوې سپږې لپاره ټول پوستين په اور اچوي
که کوم څوک ديوه وګړي لکبله يوې پوره کورنۍ ته توهين وکړې.که يوکس دکوم چا په يوه تيروتنه هغه سره دتل لپاره اړيکې ختمول وغواړي: په دې وخت کې متل ويونکی ياد متل وايي.

دا يې کواله (قباله) په چا يې منې
که يُو وګړی پياوړی ثبوت اودليل دکوم چا مختنه کښيږدي خو بياهم مخامخ لوری دغه ثبوت اودليل ونه منې دليل ايښودونکی وګړی خپل مسؤليت دغاړې اړولی بولي او دناخوښې په څرګندولو وايي:دا يې کواله (قباله ) په چا يې منې.

دوې هندوانې په يوه لاس کې نه ځائيږي
که کوم وګړی په يوه وخت کې دوه کارونه سرته رسول غواړي يا يوکس دوه متضاد کارونه سرته رسوي دهغه کس دمخنيوي او دهغه دپوهولو په پارکوم وګړی هغه ته وايي.دوې هندوانې په يوه لاس کې نه ځائيږي.

درياب به لوښو نه وچيږي
که دکوم چا سره علم،پوهه وي اويُو کس دهغه څخه وغواړي چې ده ته علم،پوهه ورزده کړي خوعلم،پوهه درلودونکی دياد کس غوښتنه ونه منې غوښتونکی کس دهغه دبخل دلمنځه وړلو په پارپورته متل وايي،اوغوښتنه تري کوي چې دياد ناسم کارڅخه لاس واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي ونه نسته چې باد نه وي ښوره ولي
که يؤ وګړی ديوې ستونزې يا کړاو سره مخ سي اوکوم څوک غواړي هغه ته ډاډ ورکړ، زغم کولوته يې راوبولي هغه ته ياد متل وايي اوداورته څرګندوي چې هرچا باندي هرو مرو کومه ستونزه يا کړاو راغلی دی.

ر

راتګه په اراده بيرته تګ په اجازه
که کوم وګړي کره دهغه يؤ دوست ميلمه سی:کله چې يې دوست وغواړي خپله ميلمستيا پای ته ورسوي اولاړسی کوربه هغه ته پورته متل وايي او دا په ډاګه کوي چې زه نه غواړم ته اوس لاړسی پورته متل دکوربه هغه ټينګار ښيی چې ميلمه لاڅه موده خپل ميلمستيا وغځوی.

راکړي خپل چه خورم ئي تل
که دچا دخپل لاس ګټلي خوښه وي اونه غواړې دبل دمرستې په مټ ځان وساتي نو هغه پورته متل دخپل آند دڅرګندولو،ستا دپو هوي اود دعا په ډول وايي.

رحم په ليوو ظلم په پسو
که يوڅوک غواړي ديوه بي انصافه،بي عدله اويوه بد رهبر دواکمنی څرنګوالی کوم چاته بيان کړي،يا دهغه دبدوالي پوره انځور کوم چاته وښيی،يادسوی متل وايي اودهغه رهبر بي عدلتي اوبدي انځوره وي. يادمتل دپښتوژبې دنورومتلونوپه شان ډېر نور دکاروني علتونه لري.

رند دې خپله رندي کوي، د شوده ملګری خدای جل جلاله دی
يؤوګړی که دکوم چالاکه،فريب کار دچم کولو څخه ستړی سی اودهغه ځواب نه غواړې په فريب،چم کولوسره ورکړې:خپل مل الله جل جلاله يادوی اودهغه دفريب،چم څخه دژغورل کيدو دعا دياد متل په ويلو سره کوي.

رنګ ئي مه ګوره خوند ئي ګوره
که يوکس کوم داسي موټر وپيرې چې درنګ دخوا خوار او دښه چلاو دکولو هيله تري نه کيږي:که کوم کس دهغه موټر بد ووايي اوڅرګنده کړي چې ياد موټر به ښه کاردرته ونکړي،په دې وخت کې دموټرخاوند دهغه د ډاډ اوخپل په پيرکې دنه تاوان کولو وايي،موټرښه موټربولې،ياد متل دخپلوخبردثبوت اودموټر دماشين پرجوړوالي د ډاډپه پاروايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ يې دملا عمل يې د بلا
که دکوم چا خبرې ښې وي خوبرعکس عمل يې ناسم اودرمثبت اړخ يې منفي اړخ پیاوړی وی دهغه کس ددې ځانګړتیا دبربنډولو لپارخلګ یاد متل وایي.

روزي په تنده ده نه چه په منده ده
که یُو وګړی دمادیاتو دلاسته راوړلو لپاره ډېرکوښښ کوي خوپایله يې سرچپه وی دهغه کس سره دخواخوږۍ اودهغه دپوهوي لپاره خلګ یادمتل وایي.

روغ صحت نیمه بادشاهي ده
که یوکس دبل کس سره دهغه دناروغۍ په اړه خبرې کوي،دهغه سره دخواخوږۍ په پارپورته متل وایي اودروغتیا ارزښت بیانوي.

ریښتیا ویل ترخه دي، خو میوه يې خوږه ده
که یُوکس ته یُوبل وګړی دهغه دنیمګړتیا په اړه وایې اوپرهغه کس یاد حقیت ویل بد ولګیږي نیمګړتیا په ګوته کوونکی کس پورته متل وایې اوهغه ته ښیی چې زه ستا دښیګڼې په پار ستانیمګړتیا درته په ګوته کوم .

ز

زر په هغو ګران وي چه ګټلې يې په خپل ځان وي
که یُو وګړی بي ځایه لګښتونه کوي او دلګښت کولو ورسره څه باک نه وي،یعنې بي ځایه لګښت اواسراف کوي دهغه وګړي ددې کار دکولو علت که کوم څوک وپوښتي،یُوکس هغه ته پورته متل وایي اوغواړي داڅرګنده کړي چې یاد کس ځکه ډېرلګښت کوي چې ده یاد مادیات یا خوخپله ګټلې نه دي یایې په داسي لارګټلي چې ورباندي سترې سوی ندی.

زړه د غوښې دی
که کوم کس وډارسی،خفه سی،خوشحاله سی،یُوڅه يې خوښ سی که دعلت پوښتنه تري وسي نودی ورته ځواب ورکوي اووایي:زړه د غوښې دی.

زما يې غاړه، ستا يې چاړه
که یُوکس دکوم چاسره وعده وکړي،دیُوکس ضمانت وکړي نومخاطب کس ته وایي که زه وعده خلافه سوم یا ما چې ضمانت دکوم کارکړی اودهغه برعکس کار وسو نو زما يې غاړه، ستا يې چاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زړه ور يوه ورځ مري او بې زړه هره ورځ

يادمتل وګړوته داځرګندوي چې دهرځه اوپه هرځه کې ډار ونه کړئ،ډاراوېره يوازي دالله جل جلاله ځخه په کارده.

## زما خو پکې وربښته سپين سويدي

که کوم ځوک ديئو چا ځخه پوښتنه وکړي:ستا فلانکی کار زده دی که نه؟مخاطب دهغه کار دزده کړې اوپه خپل مهارت باندې دپوره ډاډ په پاروايي:زما خو پکښې وربښته سپين سويدي.

## ستايې لاس زمايې ګريوان

که کوم وګړی ديئوچاسره وعده کوي اوهغه دوعدې سره سره نورهم غواړي ځان ډاډه کړي،وعده کوونکی وايي:که زه پروعده ونه دريدم اوخپله وعده مې پوره نه کړل نوستايې لاس زمايې ګريوان.

## زه ستړی ته ناخوښه

که کوم وګړی ديئوچاسره ښيګڼه کوي خوبرعکس هغه ورسره بدکوي اونه غواړي نورښيګڼه کوونکی ورسره ښيګڼه وکړي،ديادچلند پروړاندې ښيګڼه کوونکی وايي:زه ستړی ته ناخوښه.

## زوی ئې غوښت خير ئې نه غوښت

که والدين دخپل اولادځخه ناخوښه وي اودهغه دبدو کړونو ځخه رنځ وړي وايي:زوی ئې غوښت خير ئې نه غوښت.
يادمتل وګړي دنورو خلګو داولادونو دبدئ په ليدو هم وايي.

## زاري هم د زوره کمه نده

که يئو وګړی ديوځه دلاسته راوړلو لپاره کوم چاته ډېرې زاری،خواستونه وکړي اوهغه لاسته راوړي، که د ورکوونکي وګړي ځخه پوښتنه وسي:چې ولې دي هغه ته ياد توکی ورکئ؟هغه ځواب ورکوی: زاري هم د زوره کمه نده.

## زر که پاک وي له اوره يې ځه باک وي

که کوم وګړي باندې يئو تور ولګيږي اودهغه تورسپيناوی ورځخه وغوښتل سي:کله چې يادوګړی دلګيدلي تور وه سپيناوي ته غاړه نږدي اوپر ده لګيدلی تورهم نه مني،يئوکس راځي اوهغه ته وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زر که پاک وي له اوره يې څه باک وي. یادمتل هغه تورن وګړي چې تور پرې لګيدلی وی دهغه تور دناسم ثابتولو اوددې ځرګندلوپه پارچې ګواکي مابانـدي توربې معنا ليګدلی دی،ماهغه کړن چې زه پرې تورن يم ندی کړی هم وايي اويا دامتل چې وايي :چې غل نه يم دپا چا نه وېريږم وايي.یادمتل دهغو وګړو په وړاندې هم ويل کيږي کوم وګړي چې دکوم تورسپيناوي او حساب ورکوونې ته غاړه نږدي.

زړونه يو بل ته لاره لري
که دکوم چا ديځچا سره مينه وي:کله چې دمقابل وګړي څخه يې پوښتنه وسي چې ته هم دياد کس سره چې ستاسره مينه لري مينه لرې اويا که دکوم چا ديځکس څخه نفرت کيږي اودمقابل کس هم دهغه څخه نفرت کيږي ياکه دوه يا څو وګړي په يوه کارکې تصدفً په يوآندوی نويادسوی متل وايي.

زما زويه تر ما لويه
که په يوه کارکې ناپوه کس پوه کس ته لارښوونه کوي اويا کوم اولاد خپل والد ته لارښوونه کوي:په دې حالت کې دياد متل دويلو ځای اواړتيا پيداکيږي اوځينې وګړي يې دمقابل لوري دپوهوي،تانې اوخپلې ناخوښی دځرګندولو په پاروايي.

زمری که په پنجره کې وي هم زمری دی
که يځغښتلی اودمظلومو دحقوقو څخه دفاع کوونکی زنداني وي يا وربانـدي دظالمو دلوري بنديزونه لګيدلي وي دهغه په اړه وګړي وايي :زمری که په پنجره کې وي هم زمری دی.

زه تر تا جار ته تر ما جار
که يځوګړی دکوم بل وګړي لپاره خپل ارزښت اودهغه ارزښت دځان لپاره هغه ته ځرګندوی وايي:زه تر تا جار ته تر ما جار.

زه ځان خورم تا لره، ته غار کينې ما لره
که کوم څوک ديوچا سره خواخوږي،مرسته،اوهکاري کوي خو هغه يې پروړاندې سرچپه کړنې سرته رسوي: ياد وګړی دخپلې ګيلې اوخواشينۍ دځرګندولو په پار وايي: زه ځان خورم تا لره، ته غار کينې ما لره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه زړه په لاس کې ورکړم، دی وای پښتورګی دی

که کوم څوک دیُو چاسره په ربښتني ډول خواخوږي اومرسته کوي خو مقابل کس دهغه خواخوږئ اومرستي ته ارزښت نه ورکوي: مرسته کوونکی کس دګیلې اوناخوښئ په پاروايي: زه زړه په لاس کې ورکړم، دی وای پښتورګی دی.

## زوړ یار ځین کړی آس دی

یادمتل وګړي پرخپلو دوستانو دډېر باور درلودلو د ډاډ په پاروايي.

## زوی مې را ملا کړه کډې مې باریږي

که کوم وګړی دکوم بل چا څخه دیوه داسي کار پای ته رسول ژر وغواړي چې دهغه کار سرته رسول ډېرې مودې ته اړتیالري ؟مقابل لوری دهغه ځواب د یاد متل په ویلوسره په غیري مستقیم ډول ورکوي اوداځرګندوي چې زه نسم کولی ستا کار په لږه موده کې سرته ورسوم.

## س

## سپمولې، سپو خوړلې

که دکوم چا څخه دهغه سپمول سوې شتمنې بیله ګټې لاړه سي هغه خپله یاکوم بل وګړی وايي :سپمولې، سپو خوړلې.

## سپوږمۍ که په آسمان وي رڼا يې په جهان وي

که کوم وګړی دیوه پوه انسان دلیروالي څخه رنځ وړي،ګیله یاشکایت دهمدې لیروالي لکبله کوي: یو وګړی راځي او وايي:سپوږمۍ که په اسمان وي رڼا یې په جهان وي.یاد متل دیوه عالم په اړه هغه وخت هم ویل کیږي کله چي هغه وفات سوی وی.

## سپین نیت لوی دولت دی

که کوم وګړی یُوچاته دښه نیت درلودلو توصیه کوي هغه ته وايي:سپين نیت لوی دولت دی.

## سپین وریښته نه توریږي

که کوم وګړی کوم چاته وايي چې که کوم څوک په ربښتیا نیک اودښه خوي،اخلاقوڅښتن سي نودانسي کیدای چې هغه دې بیا دنیکو اخلاقو،نیک خوی برعکس کړنې وکړي،دخپلوخبرو دپخوالي اوثابتولو لپار پورته متل وایي اومخاطب ته ډاډ ورکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا خو پنځه واړه ګوتې په غوړو کې دي
که يؤ وګړی کوم چا ته دهغه دښه ژوند درلودلو انځور وړاندي کوي اودخپل ستړي ژوند انځور هم ورته مخته ږدي هغه ته وايي: ستا خو پنځه واړه ګوتې په غوړو کې دي.

سترګې عين غين کوي
که يؤکس دبل کس دچلند اوخبرو څخه ستړی سی اوسترګې يوې اوبلې خواته اړوي ياکله چې يؤکس دکوم چا ناسم حرکتونه دده پرووړاندې ووينې اوغواړي هغه دياد کار څخه راوګرځوي ،هغه ته په تونده لحجه وايي:ته څه سترګې عين غين کوي.

ستړې ورځ دوست نه لري
که کوم څوک په يؤه کړاو،ستونزه کې راګير وي اوکوم څوک ترې وپوښتي ستاخواخوږي اودوستان ستاسره ولې نسته چې ددې ستونزي اوکړاوڅخه په وتلوکې درسره مرسته وکړي؟ يادکس ورته ځواب ورکوي:ستړې ورځ دوست نه لري.

ساعت هغه ساعت دی چې تير سو
دياد متل په ويلو وګړي داڅرګندوي چې دهرې شيبې څخه بايد پوره ګټه وخلو،کله چې يوه شيبه تېره سوه بيا ورسته نه راګرځي،خپل وخت بايد په بې معنا اوعبث کړنو تېرنه کړو بلکې په هغه وختونوکې نيکي وکړو ترڅومو د ابدي ژوند لپاره تياری نيولی وی.

سپي غپيږي کاروان تيريږي
که ديونيک کارکوونکو يادلي مخه خلک په درغو ويلوسره نيسي دهغوی بدې بيانوي، بهتان پرې وايي، دهغوی پلويان نيکوکاره ډالې ته دهغوی دتشويق اوډاډ ورکولو په پاروايي.سپي غپيږي کاروان تيريږي.

ستا استاد زما شاګردوو
که دوه وګړي په يوه کارکې دواړه ځان پوه بولي اويوبل نه سره مني،يؤ ددوی څخه دخپل پوهې مهارت دډېروالي دڅرګندلو په پارمقابل کس ته وايي:ستا استاد زما شاګرد وو، ته زماڅخه په ياد کارکې ماهره اوپوه نسي کيدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر گه ړنده ښه ده او معامله ړنده ښه نه ده
کله چې دوه یاډېروګړي خپل ترمنځ کومه معامله کوي ،دمعاملي دښه او دراتلونکو ستونزو دنه پیښدو اوپرتپولو شرایطو دخبرو کولو دټینګارپه پار یؤ ددوی څخه پورته متل وایي او دسودا،معملې دپاکې ډاډ مخامخ وګړي ته ورکوي

سر چه د شال لایق وی له کشمیره ورته راځي
که یؤ وګړی غواړي کوم کس ته ډاډ ورکړي چې تا که دفلان کار دکولو وړتیا پیداکړه ته به دهغه کارپه کولو کې لوړو پوړیو ته ورسیږی،مقابل کس که دیاد کس په خبرکې شکي یا ګومان کوونکی سی :یادوګړی دخپل خبرې دثبات په پار ورته پورته متل وایي اوهغه ته ډاډ ورکوی که ته په رښتیا په هغه کارکې مهارت درلودونکی سي همداسي به وسي.

سر څه په یوه لوټۀ سپیره، څه په سلو
یؤ وګړی که لږکار کوي اود ډېرکار کولو هوډ وکړي په دې وخت کې که یؤبل کس هغه دیاد کارد کولوڅخه راوګرځوی اودځینو ستونزو اوخنډونو دراتلو لرليد وکړي:هوډ کوونکی وګړی دخپل ډاډ او په ځان دباور په پار پورته متل وایي اودهغه خبره ردوي.

سر د پاسه سر دی
که یؤوګړی دخپلې پیاوړتیا پوهې،زیرکتیا سیال نه ویني،دهغه ددې آند دناسم ثابتولو په پار یؤ وګړی پورته متل وایي اودهغه خبره ردوي.یادمتل هغه وخت هم ویل کیږي کله چې یؤظالم پرمظلوم وګړي ظلم کوي مظلوم کس دهغه څخه دغچ اخیستلو وایي خوظالم کس یې نه منې اوځان پیاوړی بولي دهغه څخه دغچ اخیستلو'توان په چا کې نه وینې ،مظلوم وګړی پورته متل وایي او هغه ته داڅرګندوي چې ستا دظلم دفعه کوونکي هم شتون لري .
سر ندی کدو دی
که یؤ وګړی لیک لوست اویا کوم بل کسب کارپه آسانۍ سره نسی زده کولی اویا که کوم څوک دژرهیریدلو ستونزه لري یا دکوم چا په کومه خبره سره نه خلاصیږی :هغه وګړي ته یؤبل وګړی پورته متل دټوکو په ډول وایي اوهغه ته داتوصیه کوي چې خپل ټوله پاملرنه دهمدې زده کړې لوري ته راواړوي.
سل ئي ګوري یؤ یې غواړي
که کوم څوک دیوتوکي دبیعي دمعلومولو اودهغه توکي دکتلو په وخت کې دهغه توکي خاوند ته ووایې چې تاسو خوبه زما په دې کارخفه کیږی نه؟دتوکي پلورونکی ورته وایي یاولې به خفه کیږم؟ سل یې ګوري یؤ ئي غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سل دي ومره يؤ دي مه مره
که ديؤه غښتلي،هيوادپالونکي اودمظلومو لاس نيونکي کوم څوک يادونه اوستاينه کوي وايي:سل دي ومره يؤدي مه مره.يادمتل هغه وخت هم دافسوس اوخوشينۍ په څرګندولو وګړي وايي کله چې ديادو ځانګړونو دردونکی وګړی ددې نړۍ څخه کوچيدلی وی اودهغه شتون ته اړتيا پيښه سي.
سره زر خپل ځان معلوموي،ښکاره کوي
که يؤ وګړي کي دکوم کار وړتياوي اوځان دخپلي وړتيا لکبله په خلکو کې مشهورکړي،وګړي دهغه په اړه پورته متل وايي اوداڅرګندوي چې استعداد پټ نه پاتې کيږي.
سبا هم دهمدې مياشتې ورځ ده.
کله چې يؤکس يوه کار کولو ته شله وي اويا خپل کار غواړي سبا ته وکړي دعوه يې داوي چې سبا به درنن زه ياد کار په ښه ډول سرته ورسوم،يؤکس ده ته وايي: سبا هم دهمدې مياشتې ورځ ده.
سل افغانی پور که د ژمی شپه په کور که
که يؤ وګړی په ژمي،يخ کي يؤچاته دميلمستيا ووايي مګر هغه يې بلنه ردکړي خپل دليل پورته متل وايي اوځان خلاصوي.
سل سرونه يې خيشته کړه يؤ ئي هم ونه خريه
که يؤچا ډېرکارونه پيل کړي وي اويؤهم سرته ونه رسوي دهغه په اړوګړي وايي:سل سرونه يې خيشته کړه يو ئي هم ونه خريه.

سل کاله عبادت يوه خبره د حقيقت
که کوم څوک يؤچا ته درښتيا ويلو توصيه کوي اود دروغو ويلو څخه يې راګرځوي هغه ته پورته متل وايي اودرښتيا ويل ارزښت څرګندوي.

سل واری يې وګچه،ګچه کړه يؤ وار ئي پرې کړه
که يؤ وګړی کوم چاته په خپل کارکي دډېرې پاملرنې کولو توصيه کوي :هغه ته وايي: سل واري يې وګچه يو وار ئي پرې کړه.
سيالي د نيکو ښه ده نه د بدو
که يؤکس په بدوکارونو کې ديؤبل وګړي سره دسيالۍ کولو هيله،هوډکوی:ياد وګړي ته دهغه يؤ خواخوږی،دوست پورته متل وايي اودهغه دياد ناوړه کاردکولو څخه دمنعه کولو کوښښ کوی اوښه کړنو کولو ته يې رابولي.
سينه درياب کړه خوله بيږۍ
يادمتل وګړي هغو وګړوته دپوهوي په پاروايي کوم وګړي چې لويه سينه،زغم نه لري اويا يې ژبه خوږه اوښه خبرې کوونکي نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ش

## شر چه غواړي پرې پيښ به سي

که يؤوګړی دشخړې کولو،شرکولو هيله لري په نيغ ياغير مستقيم ډول ځان ته دشرموندولو کوښښ کوی، ياد وګړی نور وګړي دشرکولو څخه راګرځوي او ورته پورته متل وايي،دياد متل دويلو څخه يې موخه داوي چې شر مه غواړه که ته لږ.هم دشرکولو هيله ولري نوليري نه ده چې داهيله به دي پوره سي.

## شرم په سترګو کې دی

که يؤڅوک دحيا،شرم کولو يادونه کوي نوهغه لومړی دسترګو حيا يادوی اوکه دکوم چا په سترګو کې حيا،شرم نه وي خلګ دهغه په اړه وايي:شرم په سترګو کې دی.

## شعر ئې جاري/روان خلاص دی

که يؤڅوک دخپل عادي حالت څخه کومه شيبه د ډېرې خوښۍ داحساس درلودونکی سی هغه ته نور وګړي وايي:نن دي خورا شعرخلاص دی.يادمتل دهغو وګړو په اړه هم ويل کيږي کوم وګړي چې تيزه،فصيحه،بليغه ژبه ولري.

## شنې په غلا نه چېچل کېږي

که يؤ وګړي کوم کار کړی وي اودده په ګومان څوک ورباندي نه وي خبر خوناڅاپه دهغه کارپه اړه يؤ خبرکس هغه ته يادونه کوي،که کارکوونکی کس تعجب وکړي،خبر کس ورته وايي داسي کارونه نه پټيږي تا نه دي اوريدلي چې وايي:شنې په غلا نه چيچل کيږي.ياد متل هغه وخت خلک يوبل ته وايي کله چې کوم کار لوی وي اودوی غواړي په پټه يې سرته ورسوي.

## شيدو سوئ، مستې پوکي

که چا په يؤه کارکې زيان ليدلی وی اوپه خپلو نورو کارونو کې دپوره غؤر اوسايي څخه کاراخلي که پر ياد کس کوم څوک نيوکه وکړي:دهغه د دفاع په پار کوم بل وګړی پورته متل وايي اوهغه ګرم نه بولي.

## دين/شرعه کې څه شرم دی

که يؤکس ددينې،شرعي پوښتنې په کولو شرميږي دهغه ددې کار دغندنې،پوهوي اوتشويق په پارخلک پورته متل وايي اوهغه ته دعلمي پوښتنو کولو په وخت کې دشرم نه کولو لارښوونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شيطان لا د مړي لاس اخلي

که يؤڅوک په مړوپسي غيبت کوي دهغه دياد کار دغندلو اوهغه ددې کارڅخه دراګرځولو په پار وکړي هغه ته پورته متل وايي.

## شرم لکۍ نه لري

که کوم وګړی يؤ کار وکړي اوکوم بل څوک ورته ووايي چې ياد کار چې تا وکړ تا شرم نه درلودی،که کارکوونکی ووايي دانو اوس دشرم کاروو؟ځواب ورکوونکی ځواب ورکوی تاته به دشرم کارنه ښکاري خلکوته خو دشرم کاردی شرم خوڅه لکۍ نه لري.

## شتر مرغ ته ئې ويل چې پرواز وکړه ويل يې اوښ يم ورته ويل يې بار يوسه ويل ئې مرغه يم

که يؤ وګړی دکوم کار دکولو يانه کولو کوم چا ته نسي ويلی هغه پورته متل وايي او دپريکړي کولوڅخه ځان عاجزه بولي.
همداسي که کوم څوک ديؤکار دکولو يانه کولو دواړو ته پلمې جوړوي ياد کس ته هم وګړي پورته متل وايي.

## شرمښ د خدايه څه غواړي ؟ باد و باران

که يؤ بدکار کوونکي ته ديؤ بدکار دکولو لاره په پوره ډول خلاصه سي،زمينه ورته برابره سي دهغه په اړه خلک پورته متل وايي اوخپله خواشيني څرګندوي.

# ص

## صابر سره خدای جل جلاله مل دی

ياد متل هغه وخت وګړي يؤبل ته وايي کله چې يو چاته دصبر کولو توصيه کوي يا ورته دصبرکولو ښيګڼې په ګوته کوي.

## سبا هم دهمدې مياشتې ورځ ده.

کله چې يؤکس يوه کار کولو ته شله وي اويا خپل کار غواړي سبا ته وکړي دعوه يې داوي چې سبا به درنن زه ياد کار په ښه ډول سرته ورسوم،يؤکس ده ته وايي: سبا هم دهمدې مياشتې ورځ ده.

## صبر د ميړو لوی هنر دی

که کوم وګړی غواړي يوبل کس صبرکول ته را وبولي اودصبر کولو توصيه ورته وکړي هغه ته يادمتل وايي اودصبرکولو ارزښت ورته بيانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدقه ردِ بلا ده
که یوڅوک غواړي کوم وګړی صدقې اوخیرات کولوته راوبولي او دصدقې خیرات ارزښت ورته بیان کړي:هغه ته پورته متل وایي اوکوښښ کوي چې دنیکۍ کولو ګټې ورته بیان کړې.

صحت(روغتیا) لوی نعمت دی
که کوم څوک غواړي دروغتیا ګټې بیان کړي او دروغتیا او دروغتیا په وخت کې خلک کار کولوته را وبولي:یاد متل ورته وایي اوخپل دروغتیا څخه خوښي او دنورو پرناروغۍ باندې ناخوښي څرګندوي.

صبر د سپي او زړه د زمري
که کوم څوک دزړورتیا اوصبر کولو څرګنده بیلګه راوړي یادمتل وایي اودصبر او زړه ورتیا ښیګڼې بیانوي.

صورت(بدن)یې غټ په کار کې لټ
که دبدن څخه کوم غټ یا پیاوړی کس په کارونو کې لټ اوکار کولوسره یې مینه نه وي دهغه کس دصفت په توګه ځیني وګړي یاد متل وایي.

صورت خو چمن نه دی چې بیا به را شین(زرغون) سي
یادمتل هغه وخت یو وګړی دځان دخلاصون،دلیل او دفاع په پار وایي کله چې هغه ته دیڼوه درانده،شاخه یاسخت کار دکولو وویل سي یاد وګړی دامتل خپل دلیل نیسي اودهغه کار دکولو څخه ډاډه کوي.

ض

ضامن جواب ورکوونکی دی
دیاد متل معنا څرګنده ده. دامتل هغه وخت وګړي وایي کله چې یوکس دکوم بل چا ضمانت وکړي.

ضرورت (اړتیا) د ایجاد(نوښت) مور ده
که کوم څوک نوښت،اختراع کوي او دهغه څخه دیادې کړنې علت،سبب پوښتل کیږي یاد کس ورته ځواب ورکوي: ما دې اختراع،نوښت ته اړتیا درلودل ځکه خوما دا نوښت یا اختراع وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ط

## طبيب هغه دی چې پر راغلي وي

كه يؤ وګړی پرکوم چاتور ولګوی چې زه آندم تا فلان كاركړی دی، مخاطب دپورته متل په ويلو داڅرګندوي چې ما نه تا هغه كارمخكي كړی دی ځكه اوس پر ماتور پوري كوي ته دياد كار تجربه لري نوځكه پرما ګومان كوي .

## طمعه د خدای جل جلاله څخه ښه ده نه د بنده څخه

كه كوم څوک ديوچا څخه دكومې همكاری اومرستې طمعه لري،خوهغه چې دمرستې طمعه يې ورته كړی وه ورسره مرسته ونه كړي،يوبل وګړی دطمعه كوونكي وګړي دخوښی په پار پورته متل وايي اوهغه ته داڅرګندوي چې طمعه كول ډېر وخت ښه نه وي .

# ظ

## ظالم مې هم وهې هم مې ژړا ته نه پرېږدي

كه كوم وګړی پر يؤچا ظلم هم كوي اوهم نه پرېږدي چې مظلوم دده دظلم څخه شكايت وكړي، په دې وخت كې مظلوم پورته متل وايي اوخپل ډېر مظلوميت څرګندوي.

## ظاهر ئې طلا ده باطن يې مس

كه كوم وګړی په ښكاره نيكو كاره ښكاريږي خوكړنې يې ديوه بدكاره انسان وي بدكارونه كوي دهغه په اړه وګړي وايي:ظاهر ئې طلا ده باطن يې مس.

# ع

## عاجزي د خدای(ج) رحمت دی

كه يؤ وګړی غرور كوونكی وی اويا كوم وګړی عاجزي كوونكی وی دغروركوونكي دپوهوي اوهغه ته دغرور دښيګڼو دبيانولو او دعاجزي كوونكی كس لا نوري عاجزۍ ته دهڅولو په پار وګړي پورته متل وايي.

## عزت كوه عزت به دې كيږي

يادمتل وګړي دې ته رابولي چې ديوبل درناوی وكړي.يادمتل وګړو ته داڅرګندوي چې نوروته درناوی ځان ته درناوی دی.

## عقل خو خرڅيږي نه چه درته وائې خلم

كه يؤ وګړی كوم داسي كار وكړي چې هغه كار بايد نه وای سوی،يؤبل كس راځي اوهغه ته په ټوكو كې دهغه دپوهوي په پار پورته متل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالم د دين دنيا رڼا ده
که يؤ وګړی دکوم عالم ستاينه کوي،پورته متل وايي، دياد متل په ويلو داڅرګندوي چې عالم زموږ لپاره ددېوې بېلګه لري اوچې ډېوه نه وي انسان په تاريکيوکې خپله لار ورکوي.

عقل د بي عقلو نه زده کيږي
که يؤ وګړی بدکارونه کوي،احمقانه کارونه کوي دهغه دحال څخه دعبرت اخيستلوپه پار اونور وګړي نيکو کړنو ته درابللوپه پاره وګړي پورته متل وايي.

عادل واکدار مېړو او شرمښ ته پر يوه ګودر اوبه ورکوي
که يؤکس دښه مشر،امر،وکدار بېلګه وړاندې کوي هغه پورته متل وايي اودا ثابتوي چې يؤښه وکمن ټولنه دپرمختګ سمته بيولی سي اود ټولنې دوګړو ترمنځ په پوره کچه عدل پلی کولی سی.

غ

غر که هرڅومره لوړ سي پر سر لار لري
ياد متل هغه وخت وګړي وايي کله چې کوم څوک ديوې ستونزې يا خنډ سره مخ وي،دياد متل په ويلو وګړي داثابتوي چې هره ستونزه دحل لاره لري اود هرکړاو څخه دخلاصون امکان سته.

غرور د ماتې پيل دی
کله چې کوم څوک په خپلوکړنو غرور کوي دهغه کس دغرور څخه دلاس اخيستلو په پار وګړي پورته متل وايي اوداڅرګندوي چې هرکله چې کوم چا غرورپيل کړ هغه مات سو اوژر به خپل برياليتوب دماتې په لاسته راوړلو وپلوري.
يادمتل وګړي دغرور کولو څخه راګرځوي اوهغوی ته داڅرګندوي چې مغروري کول دماتې ورونه پرانيستي پريږدي.

غريبي بده بلا ده
کله چې کوم وګړی دنيستی،غريبی څخه کړيږي خپل خفګان دياد متل په ويلوسره څرګندوي،همدارنګه ديؤ غريب کس سره دخواخوږی کولو په پارهم وګړي يادمتل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غل په ټولو خلکو د خپل ځان فکر کوي
که کوم څوک پريګو چا ناسم ګومان کوي مقابل لوری دخپل ځان دسپيناوي په پار ياد متل وايي اوغواړي ګومان کوونکي کس ته داڅرګنده کړي چې ته خپله دهغه کار کوونکی يې يا وي کوم چې پرمايي دکولوګمان،شک کوي ستاسره د ياد کار دکولو تجربه ده ځکه ټولو باندې دهغه کارد کولو ګومان کوي.

غوړي په غوړو توئيږی
کله چې غريبوخلکو سره مرسته نه کيږي خوسرچپه دشتمنو سره مرسته کيږي،ياکله چې شتمن وشتمنوته ګټه رسوي خوغريب ترې هيروي اوکله چې دشتمنو اقتصاد پياوړی کيږي مګر دغريبو وګړو اقتصاد نورهم کوزخواته ځي:وګړي ياد متل وايي اوداڅرګندوي چې غريب وګړي څوک نه پالي،اړيکې ورسره کمې ساتي خو برعکس دشتمنو منځ کې اړيکې اوپوبل سره مرستې او هکاری شتون لري .

غوټه ورکه، خوله پر پټه
که ددوو وګړو ترمنځ شخړه وي اويو څوک دهغوی په منځ کې سوله وکړي کله چې دوی يو دبل غلطی څرګندوي اوغواړي يوبل ګرم وښيي:دريم ګړی پورته متل وايي.همدرنګه کله چې وګړي غواړي يوه خبره ياکار دنورو وګړو څخه پټ وساتي پورته ياد سوی متل وايي اويوبل ته يې دنه بربنډ کيدو وعدې ورکوي.

غل غل پيژني
که يو وګړي کوم کارکوي اوپربل کوم چا باندي دهغه کار دکولو تور ولګوي،که چيري مخامخ وګړی دهغه کار پرکولو پښيمانه سي،تور لګوونکي ياد متل وايي.

غله ته وائې غلا کوه څښتن ته وائې بيدار اوسه
يادمتل وګړي دوه ژبو دوه مخو اوچغلګرو وګړو ته کاروي،هغوی ته دهغوی بدې په ګوته کوي او دياد کار دکولو څخه ئې خپله ناخوښي څرګندوي.

غم د غمه نه شرميږی
که کوم وګړي باندي پرلپسي کړاونه راځي:ياد وګړی دناهيلۍ اوخپلې ناخوښۍ دڅرګندولو په پار نورو وګړو ته ياد متل وايي.ياد متل وګړي ديوه داسي کس سره چې په پرلپسي ډول دغمونو سره مخ کيږي دهغه سره دخپلې خواخوږۍ دګډولو په پارهم وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوا توره شيدې يې سپينې
که يؤخبره،کار ښه ځرګند او معلوم وي اوځه شک دهغه په پيښيدلو اوکولوکې نه وي:وګړي ياد متل وايي اوخپل ګومان ته دحقيت جامه وراغوندې.

غوا حلا له سوې نده، دی يې بيا د ځرمنې پوښتنه کوي
که يؤ وګړی ديؤ کار دکولو ځخه مخکې دهغه پايله، امتياز اوګټه لټوي:دهغه دپوهوي اوهغه ته زغم توصيه کولو په پار وګړي ياد متل وايي اوهغه دتلوار کولو اوناصبرۍ ځخه منعه کوي.

غوا دې په غوجل کې لويه سوه ته ئې لا غاښونه ګوري
که کوم ځوک ديؤ چاسره دېروخت يؤځای پاتې سوی وی اوبيا کوم ځوک دهغه دښه والي اويابدۍ په اړه ورځخه پوښتنه وکړي خودی دهغه کس په اړه ځان ناخبره وښيي اوځواب ورکړي چې زه به دهغه دځارلو ورسته درته داځرګنده کړم چې هغه ښه دی که بد،مخامخ وګړی ورته پورته متل وايي اودهغه په ناخبرۍ باندې خواشينې ځرګندوي.

غلبيل کوزې ته ويل چې سورۍ يې
که يؤ وګړی کوم کارکوي خونور وګړي دهغه کار په کولو غندي او وربانديي نقد،اعتراض،غوسه کوی،دهغه وګړي په اړه نور وګړي يادمتل وايي اوهغه ته داپه ګوته کوي چې لومړی ته دهغه کار دکولو ځخه لاس واخله کوم چې ته يې نور وګړي په کولو غندې بيايې نورته دنه کولو ووايه.

غم به نه وی غم به راوړي
يادمتل وګړي هغه خلکوته وايي کوم وګړي چې تل شرونه،شخړې کوي اوخپلو دوستانوته ستونزې پيښوي.

غوښه چې دې د پيشي په خوله ورکړه، نو يې ساتې له چا؟
که يوغل،او امانت نه ساتونکي کس ته دکوم توکي دساتلو مسوليت ورکول سي،همدرنګه که يو فساد کوونکي کس ته دفساد د ورکولو مسوليت په لاس کې ورکول سي:وګړي پورته متل وايي اوپه ياد کارباندې خپله ناخوښې ځرګندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غر د ستنې په څوکه نه سوری کيږی
يادمتل وګړي هغه وخت ديوکس دپوهي،مشورې اوهغه ته دنيک نظر د ورکولو په پار وايي کله چې کوم کس لوی کارته تياری نه وي نيولی يايې لږتياری ورته نيولی وی، ياني دهغه کار دکولو مخکې يې هراړخ ته پاملرنه نه وي کړي.

غريبي عيب نده
که کوم کس ته يؤ بل کس دهغه دغريبۍ پيغور ورکړي مخاطب کس دهغه ځواب په ياد متل سره ورکوي،ياد متل هغه وخت هم وګړي وايي کله چې يؤکس يؤ غريب کس دهغه دغريبۍ لکبله دهغه په نشتون کې وغندې يا ورته توهين وکړي.

غشي ته چا ويل ولې ځغلي ويل ئې ورسه د ليندۍ نه پوښتنه وکړه
که کوم وګړی ديؤبل چا په امر يؤکار سرته ورسوي اوخلګ دهغه کار پوښتنه،دهغه کار دبيا نه تکرار غوښتنه،ګيله اويا د هغه غندنه وکړي،کارکوونکی کس ورته د پورته متل په ويلو داڅرګندوي چې زه ګرم نه يم ګرموالی اومسوليت زما دکړي کار:زما امر ته ور اوړې اوزما دکړي کار پوښتنه بايد زما څخه نه دهغه چا څخه وسي کوم چې ماته يې د ياد کار دکولو حکم کړی دی.

غاښ چې رنځور سی علاج ئې انبور سی
که ديؤ توکي دخراب والي لکبله دهغه دبيا رغولو اتکل،هيله نه کيږي اوخاوند يې دلمنځه وړلوپه آند سي، که کوم بل وګړی يې دلمنځه وړل علت وپوښتي دهغه توکي خاوند ورته د ياد متل په ويلوځواب ورکوي.

غر به در په سر کړم طاقت(پياوړتيا) به در له در کړم
که کوم وګړی يؤچاته دلوی کارمسؤليت وردغاړې کړي خومسوليت ور دغاړې کيدونکی دياد مسوليت سرته رسولو ته دخپلي ناتوني لکبله غاړه نږدي،په دې وخت کې مسوليت ورکوونکی ياد متل وايي اوهغه ته ډاډ ورکوي چې د درسپارل سوې دندې دسرته رسولو لپاره به زه تاته هرډول آسنتياوي برابري کړم اوته به درسپارل سوی کار په ښه ډول سرته ورسوي.
غوريږي يو ځای اوريږي بل ځای
که کوم څوک ديوه چاسره ناسته ولاړه اودمرستې ژمنې کوي خوبرعکس خپل مرسته دبل چا سره کوی اود کوم چاسره چې يې ژمنه کړی دهغه سره ژمنه نه پوره کوي،دهغه وګړي څخه دشکايت،ګيلې او ناخوښی په پار،هغه وګړي کوم چې يادکس ورسره ژمنه کړې وه يادمتل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ف

### فقیر ته د سپو سلا یوه ده

که کوم کمزوري،اوبې توانه وګړي ته یؤه ډله بد خلک پر هغه دظلم،او هغه ته دبد رسولوپه پاریوالی وکړي نور وګړي یاد متل وايي.

### فلانی بې ډوله ګډیږي

که یؤوګړی دکوم بل چا په چارو کې دهغه دغوښتني پرته اویا دکوم کار دنه پیښدو په وخت کې هسې چلند غوره کړي: چې سړی آندي چې هغه کارپیښ سوی دی، وګړي یادمتل وايي اودا څرګندوي چې مخکي دیوکار درپیښیدلو دهغه دپیښیدو په شان کړنې سرته رسو مناسیب کړن نه دی.

### فلانی په خوله کی مړی غواړي

که کوم وګړی لټ وي اوتل دنورو لاس ته ګوري ترڅو پرهغه پوري اړوند کارونه ورته سرته ورسوي اویا هم خپل هرکار دنورو پرغاړه ور اچوي اودی ځان ورڅخه کاږي،دیاد وګړي ددې چاردغند لو اودهغه څخه دناخوښۍ په پار نور وګړي یاد متل وايي اودنورو خلکوپه مرسته هغه د یاد کارڅخه راګرځوي.

### فلانی لکه خښته شیږ مخه لري

که کوم کس چم کوونکی،فریب کوونکی وی دهغه دشرڅخه دنورو خلکو دژغورلو،دهغه دیاد بد عدت دغندلو اوهغه دنورو خلکوپه واسطه دیاد بدعدت څخه دراګرځولو په پار وګړي یاد متل وايي.

### فیلان چې ساتي فیل خانې(فیل کورونه) به جوړه وي

یادمتل وګړوته داڅرګندوی:کله چې کوم کارپیلوئ دهغه کار لپاره به په پوره ډول تیاری نیسئ،دهغه کار دښه سرته رسولو لپاره به دهغه کار دښه سرته رسول ټول توکي لرئ اوبیا به هغه کارپیلوئ.

## ق

### قابلیت(وړتیا) د لمر سترګه ده

یادمتل وګړي دوړتیا لرونکو وګړو په اړه وايي اوداڅرګندوي چې که کوم کس وړتیا ولري هغه هرځای خپل ځان ثابتوي اورڼا خوروي.

### قام له قامه نه بیلیږي

یادمتل پښتانه وګړي هغه وخت وايي کله چې کوم ظالم ووايي چې دډیورند کرغیږنې کرښې داوړه غاړي پښتانه سره بیل دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی سره هيڅ اړيکه نه لري او ډيورنډ کرغيړنه کرښه بايد همداسي پاتي سي،پښتانه وګړي دياد متل په ويلو هغوی ته داخرګندوي چې قام دقامه نه بيليږي،دپښتانه ټاټوبی لوی افغانستان دی اوداپه نامه اوتپل سويه کرښه چې دپښتون قام ترمنځ يي خنډ جوړکړی دمنځه به ځي اولوی افغانستانه به بيا جوړيږي.يادمتل دپښتوژبې دنورمتلوپه شان ډېر دکاروني ځايونه اوعلتونه لري!

## قاضي زه ملامتولم، ما ځان نه ملامتاوه

که يو وګړي يو کار کړی وي اوخلک دثبوتونو اودځرګندو دليلونوپه شتون کې هغه ګرم اوملامت بولي خوهغه ځان ګرم اوملامت نه بولي،په دې وخت کې يوبل وګړی يادمتل وايي اوياد کس ته دهغه دګرم والي احساس ورکوی اودهغه داکارغندي.

## قام زورور وی

که يوکس غواړي خپل دټولني وګړي يوالي ته راوبولي اوهغوی ته ديوالي ګټې،زور،اوارزښت ځرګند کړي:ياد متل وايي،موخه يې داوي که چيرې قامونه يو سول:دهغوی حقه حقوق څوک نسي خوړلی.

## قام قام ته ځي اوبه خپل مقام،ځای ته ځي

که يوپښتون وګړی دبل پښتون څخه ديو کارپه سرته رسولو کې دهغه مرسته،همکاري وغواړي که چيرې مخامخ کس يې دهغه دهيلي خلاف کوم څه ووايي اوداعلت وپوښتي چې ولې دې دنورو وګړوڅخه مرسته نه غوښتل چې زه دې وټاکلم؟يادکس دپورته متل په ويلو دهغه خبرې ته ځرګند ځواب ورکوي.

## قدرت د شرابو پياله ده

که دکوم چا سره زور،قدرت،پيسې او واک وي خو ديادوسو څخه مثبته ګټه نه اخلي:ددې پرځای چې دهغوی په کارولو خپل دنيکوحساب زيات کړي خپل ځان ته پرې بدۍ اخلي،که دياد وګړي بدۍ يوکس يادې کړې چې يادکس ولې داسي کوي دهغه مقابل کس دپورته متل په ويلوځواب ورکوي اوخپل آند ورسره ګډوي.

## قصابان چې ډېر سي غوا مرداريږي!

که دکوم کار دسرته رسولولپاره آندونه،نظريات،امرونه اومشوري ډېرې سي دبيلګې په ډول کوم څوک اشپزي (پخلی)کوي خوداشپز(پخوونکي)سره نور اشپزان هم ونډه اخلي اوهريو ددوی څخه خپل دزده کړي سره سم په پخلي کې بدلون راولي:هغه وخت يو وګړی يادمتل وايي اوددوی څخه غواړي چې يوه کس ته مسئوليت وسپاري اوهغه خپل کارته پريږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیامت به هله سي چه پښتون له ننګه پریوځي
یادمتل پښتانه دخپل قام دننګ،غیرت دثابتولو په پاروايي اوداڅرګندوي چې پښتون اوپښتانه به تل دننګ اوغیرت څخه دخپلو نورو زرګونو ښیګڼوپه شتون کې پریمانه وي.

قصاب خپله قصابي کول، یتیم ورځ ورته تیره کړه
که کوم څوک دیځچا دمرستې په هیله وي،یا که کوم څوک خپل کارکوي اویوبل کس دهغه څخه دکومې مرستې اوهمکارۍ امید لرونکی وی،دهغه کس په اړه وګړي یادمتل وايي.

ل

لاس ئې بي برکته دی
که دکوم وګړي په لاس تیار سوي خواړه ژر پای ته ورسیږي اویا که کوم وګړی دیځوه کارپیل وکړي خو ورسته په یاد کارکې ګټه کمه وي دهغه په اړه وګړي یادمتل وايي.

لاسونه دې په نکریزو دي
که کوم وګړی دکار په کولوکې لټې سوستې کوي، دکارنه کولو ته بهانې جوړوي اویا خپل هغه کارونه چې باید ده کړي وای نورو وګړو ته سپاري،دهغه په اړه وګړي یاد متل وايي،هغه ته دهغه لټې ورپه ګوته کوي اودهغې څخه دلاس پرسرکیدلو لاربښوونه ورته کوي.

لاس چه مات سي غاړې ته لویږي
که کوم وګړی دخپل بدکاره دوست سره مرسته کوي اودهغه یاد کړن نور وګړي وغندې اویا که کوم وګړی اړوي او داړتیا په پوره کولو کې دخپل دوستانو،اقرباو څخه مرسته وغواړي:دوستان،خپلوان یې ورڅخه ددوی څخه دمرستې غوښتلو علت وپوښتي،مرسته غوښتونکی ورته پورته یادسوی متل وايي.

لاس دې خلاص توره دې تیره
که یځو وګړی دکوم کار کول غواړي اوبل کس یې دنه کولو ورته ووايي او اختار،خبرداری ورکړي: که یاد کار وکړئ زه به فلان کار ستاپر وړاندې وکړم اوتابه دیاد کار دکولو څخه پښیمانه کړم په دې وخت کې دکار هوډ کوونکی ورته په تونده لحجه یاد متل وايي او دا ورته څرګندوي چې زه دیاد کارپه سرته رسولوکې ډارنه کوم اوستا اختار ته کوم ارزښت نه ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا تر اوسه ئې د عقل غاښونه ندي راغلي
که کوم د ډېرعمر خاوند وګړی کوم احمقانه کار وکړي دهغه دپوهوې دهغه څخه د ناخوښۍ او دهغه دياد کار دغندلو په پار وګړي هغه ياکوم بل چاته ياد متل وايي.

لار په مزل لنډيږي
که کوم وګړی په لږ زيار ايستلو دخپل کړي کار پايله لاسته رانه وړي اوخپل همت دلاسه ورکړي دهغه کس دهوډ د کروړ کولو اوهغه ته دوړاندې تګ کولو د دوام دويلو په پار وګړي هغه ته ياد متل وايي اوهغه ته ډاډ ورکوي.

لآس مې تور سپي څټلی دی
کله چې يؤ وګړی دنورو وګړو سره نيک سلوک،مرسته اوښه کوي خوهغوی يې پر وړاندې سرچپه چلندکوي: ياد وګړی پورته متل وايي اودهغوی دياد کار څخه خپله ناخوښي څرګندوي.

لال په ايرو کې نه پټېږي
يادمتل وګړوته داڅرګندوي چې استعداد تل بربنډ وي اوکه کوم څوک غواړي پټ يې وساتي دپټولو لپاره به يې کوم ځای ونه مونډې.

لکه د ډېرو اوبو ژرنده پر سر يې اخيستی يم
که کوم وګړی ډېر په کارونوکې بوخت وي اودهغه څخه دهغه په اړه وپوښتل سي چې ولې نه معلوميږي يا څنګه دي کارونه دي:ياد وګړي دخپلو ډېرو بوختياو دښه څرګندولو په پار ياد متل وايي.
که کوم څوک دډېرو ستونزو،کړاونو سره مخ وي هغه هم نور خلکو ته دخپل حال دښکاره کولو اوهغوی ته دخپلوستونزو په اړه دمعلوماتو د ورکولو په پار يادمتل وايي اودخپلوستونزو،کړاونو دډېرښت خبر ورکوي.

لکه د ګور چنجي داسي سره خوري
که کوم څوک د دوو شرکوونکو په اړه وپوښتي چې هغوی اوس څنګه دي ډېرې شخړې خوبه نه کوي؟ ځواب ورکوونکی پورته يادسوی متل وايي اوداڅرګندوي چې اوس هم هغوی يؤ دبل سره شخړې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه سوړ مچ په هره کاسه کې مه لوېږه
که کوم څوک دنورو په هرکار اوخبره کې لويږي،منفي ګډون پکښي کوي دهغه دپوهوي،هغه ته دخبراوي ،دهغه څخه دناخوښۍ اوهغه ته داختار ورکولو په پار وګړي هغه ته يادمتل وايي اوهغه ته داڅرګندوي چې دهغوی په کارونو،خبرو کې بي ځايه ګډون ونکړې.

لکه ګيدړه به لکۍ سرې تير باسي
يادمتل دچم کوونکو،فريب کوونکو اوپه عامه لحجه دمنفي بيداره وګړو په اړه ويل کيږي اوموخه يې د ياد متل دويلو څخه دهغوی داعدت نورو وګړوته بربنډول وي.

لکه نيت هسي مراد
که کوم وګړی دنيکو کولونيت وکړي اونيکي وموندي،همداشان که که کوم وګړی دنيکۍ په کارکې دبدۍ کولو هيله لري اوهغه ته بدې،زيان،اوکړاو ورسيږي دهغه په اړه وګړي ياد متل وايي دامتل دپښتنو دخوا په ډېروځايونو اودبيلابيلو علتونو لکبله دپښتوژبې دنورومتلونو په شان ويل کيږي.

لرګی تراشه سړی ترې جوړوه
يادمتل وګړي ديوالي،دخلکو دزړونودنه ازار او دوګړو سره دښه چارچلند کولو په پاروايي .

لمر په دوو ګوتو نه پټېږي
که کوم چا يولوی کار کړی وی خونه غواړي دده دکړي کارپه اړه نور وګړي خبرسي،همدارنګه که کوم څوک ديوه کار دکولو پوره وړتيا،استعداد ولري خوخپله يادکس او يانور وګړي دهغه دپټولو کوښښ کوي دهغه کس په اړه وګړي ياد متل وايې اوداڅرګندوي چې ستا هغه څه چې ته يې غواړي پټ وساتې دپټولو امکان نه لري.

لنده لښته هرې خوا ته کږيږي
يادمتل ډېروخت دماشومانو په اړه ويل کيږي،وګړي دياد متل په ويلو داڅرګندوي چې ماشوم که هرډول وروزل سي هم هغسي جوړيږي،ماشوم دښې اومثبتې روزنې ورسته ښه اودناوړه،خرابې اومنفي روزنې ورسته بدسړی جوړيږي.

له پزې يې چې ونيسي ساه يې وزي
که کوم وګړی ديو ناتونه،کمزوري وګړي يادونه کوي دهغه سره دخواخوږۍ په پار يادمتل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له خپلې خولې مې زهر خوړلي

که کوم وګړی کوم چا ته غيري اخلاقي اوبده خبره وکړي: مقابل کس يې هم پر وړاندې غيري اخلاقي،بده خبره وکړي،ياد وګړی پورته متل وايي اوخپل دکړي خبرې څخه خپله ناخوښي څرګندوي.

## له ډيره خياله د لونګو لونه کوي

که کوم وګړی مغروره،خيالور وي دهغه دياد عدت په اړه وګړي يوبل ته يادمتل وايي او دهغه داعدت غندي.

## له ډېرو ويلو مې په خوله کې ويښتان شنه سول

که کوم وګړی يؤبل کس ته ديؤ کار دکولو ډېر ووايي خو هغه يې د ډېرو ويلو سربيره بياهم نکوي، که کوم ځوک هغه ته ووايي چې تافلان ته دفلان کار دکولو وويل؟مخاطب کس ورته ځواب ورکوي: هو ورته ومې ويله دډېرو ويلو لکبله مې په خوله کې ويښتان شنه سول،خولايي هم هغه کارنه دی کړی.

## له سيره څو پخيږي

که کوم وګړی يؤچاته اختار ورکړي مقابل لوری دهغه داختارڅخه دنه ډار اوهغه ته دمقابل اختار په پار وايي زه به بيا تاته داوښيم چې دسيره څوپخيږي.

## له مړاوو اوبو ويريږه له تندو اوبو مه ويريږه

يادمتل وګړي دهغو خلکو په اړه وايي کوم چې طبعً ارام وګړي وي دوی ياد وګړي په معنوي ډول ډېرتوند معرفي کوي اودهغو وګړو په نسبت ورڅخه ډېره هيله لري کوم چې په طبعي ډول شوخ طبعت وي .

## له هسي بلا څخه چې نس ولري مه ويرېږه

که کومه دولتي اداره کې رشوت اخيستل کيږي دبيلګې په ډول:کومه قضائي اداره په رشوت اخيستلو تورنه وي دهغه اداري په اړه وګړي مجرمانوته دپورته ياد سوي متل په ويلو ډاډ ورکوي اوورته وايي:دهغوڅخه ډار نه دی په کارځکه ته خپل دمجرم والي تور درشوت په ورکولو دځان ليري کولی سي،ديادوني وړيي بولم چې رشوت ورکول اواخيستل دواړه په اسلام کې ناروا کارونه دي ،اوسخته ګناه ده، دياد متل دکاروني ډېرنور ځايونه اوعلتونه دپښتو ژبې دنورو متلونو په شان لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هګۍ لا راوتلې نه دی بيا مشوکه وهې
که کوم ماشوم دخپلو مادي ګټو په اړه آند کوونکی اود مادياتو دلاسته راوړلو ډېرپه لټه کی وي دهغه په اړه وګړي يادمتل وايي او داڅرګندوي چې ماشوم توب دمادياتو دلاسته راوړلو وخت نه بلکې دعلم پوهې دلاسته راوړلو وخت دی.

ليوه هغه ميږه وړي چې له رمې جلا وي
که کوم وګړی بې اتفاقی ته لمن وهې يا غواړي چې دوګړو سره يؤ ونه اوسې دهغه ددې کاردغندنې،هغه ديوالي په ګټو دپوهولو اوهغه ته دمثبت آند دورکولو په پاروګړي ياد متل وايي

لېوه به خپل پوست بدل کړي، خو عادت نه
که کوم بدکاره دنيکانو په شان ځان جوړ کړي خوبيا هم خپل بدعدتونه پري نږدي دهغه په اړه وګړي ياد متل وايي.

م

ما ته د يوه لاس ګوتې دي
که کوم وګړی ديؤچا ښځه وپوښتې تاته دې کوم اولاد ګران دی هغه ورته ياد متل وايي او داڅرګند وي چې زه مې داولادونو ترمنځ توپيرنه کوم ټولوته په يؤه نظر ګورم اوټول راته ګران دي.

ما خو ښه بنګړي نه دي په لاس کړي
که يؤ وګړي ته کوم بل وګړی اختار ورکړي اوهغه ته دزيان رسولو ووايي ياد وګړی دهغه داختار دځواب په پار ياد متل وايي،همدارنګه که کوم وګړی يؤکس ته ووايي فلان کس ويل زه به دده سره داسي اوهاسي وکړم ياد کس ورته يادمتل وايي اوداڅرګند وي
چې ګواکي زه دهغه داختار پراو نه لرم که راته زيان ورسوي ځواب به يې ورکړم.

ما بيله دې هم لاس په خټو کړی دی
که يؤ وګړی په کوم کار کې بوخت وي اوکوم څوک ورته دهغه کار دپريښودلو په دې خاطر ووايي چې ياد کار دزيان ښځه ډک دی اوښه داده چې نوريې پريږدي،
مقابل لوری ځواب ورکوي زه اوس يادکار نسم پريښودلی ځکه که يې پري هم ږدم ماته به يې زيان ورسيږي دخپل خبرې دثابتولو په پارياد متل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ما دېرش روژې د اختر لپاره نیولې دي

که کوم چا دکوم څه دلاسته راوړلو لپاره ډېر انتظار کړی وی اوهغه لاس ته ورسي په دې وخت کې که کوم څوک دهغه څه چې یادکس لاسته راوړي دي دهغه دپرېښودلو ورته ووایي هغه کس دیاد کس دخبرې دسخت رد اودهغه دنه منلو په پار یادمتل وایي.

## مات لاس غاړې ته لوېږي

که دکوم چا دوست دیوې ستونزې سره مخ سي اویاد کس دهغه دوست مرستې ته ور ودانګې،که دیاد کس دامرسته کول کوم څوک وغندې مرسته کوونکی کس یادمتل وایي،همدارنګه که دکوم وګړي دوستان په ستونزه کې راګیروي خوهغه ورسره مرستې کولوته غاړه نږدي،یوکس راځي اوهغه د دوستانوسره دمرستې کولو ته رابولې اودهغه درضایت لپاره یاد متل وایي.

## مار په خزانه پروت وي

که یوګړی په کوم کارکې دزحمتونو،کړاونو،ستړیاو سره مخ سي ناهیلی سی هغه کس ته د ډاډ ورکولو اوپه دې پوهولو لپاره چې بې زحمت هوساینه نسته وګړي یادمتل وایي.

## مجبوره ته مه وایه چې غښتلي

که یوکس ډېر سخت کار کوي او دهغه کار دکولو دعلت پوښتنه ترې وسي،یادکس دپورته متل په ویلو پوښتنه کوونکي ته ځواب ورکوي اوداځرګندوي چې اړیم ځکه یاد شاخه کارکوم.

## مرغۍ چې له سیله ووزي باد ئې وړې

که کوم وګړی دنه یوالي غوښتونکی وي اونه غواړي چې پریوه خبره اوکار دنورو وګړو سره اتفاق وکړي دهغه وګړي دقناعت اوهغه دیوالي په ګټې دپوهولو لپار وګړي هغه ته یاد متل وایي اوهغه ته دیولي ارزښت روښانه کوي.

## ماهي ویل چې ما به خبرې کړي وای چې په خوله کې مې اوبه نه وای

که دکوم چا سره خبرې،حقایق شتون ولري خو ددې وېرې چې ګواکي کوم خپل یا ځان ته به مې زیان واوړي،یا به راځخه کوم وګړی سخت خفه سي ځکه هغه حقایق نه وایم، دخپل دې ستونزې دبربنډولو په پاریاد متل وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرګ په ماړه نس ښه دی
ځیني وګړي چي کله دیڅچا څخه خواړه غواړي یا یې دژر چمتوکولو غوښتنه ترې کوي:دټوکو په ډول یاد متل وایي،یاد متل وګړي هغه وخت هم وایي کله چي دکوم څه په لټه کې وي او وګړي دهغه توکي دلاسته راوړلو دعلت پوښتنه ترې وکړي.

مرګی د اوبو وار دی نن پرما سبا پرتا دی
که کوم وګړی په ستونزه یا کړاو کې اړم وي اوکوم بل وګړی هغه ته کومه داسې خبره وکړي چې هغه ته دیاد کړاو لکبله توهین وسي،کړاو باندي اخته وګړی دیاد وګړي دځواب په پار پورته متل وایي اوداڅرګندوي چې داکړاو ما په خپله خوښه پرځان نه دی راوستلی!کیدای سي ته هم په دې کړاو زما په شان اخته سي.

مړی او بیده یؤه بیلګه لري
هغه وګړي چي خپل خیر اوشرته پاملرنه کوونکي نه وي ځان،هیواد اوټولني ته یې ګټه نه رسیږي. دهیواد اوټولنې په اړینو مسایلو کې برخه اخیستونکي نه وي،پرهغوی باندي وګړي دوېدو،بیدو ګمان کوي یاني هغوی په وېدو وګړوکې شمیرې او وایي دوی وېده دي،یاد متل دوېده اومړ ترمنځ توپیرنه کوي اوڅرګندوي چې په معنوي ډول وېده دمړه په شان دی.

میله ده، ایله ده
که په میله،تفریح کې کشران دمشرانو مختـه کومه شوخې وکړي دهغو دشوخۍ دبخښولو په پار دمشرانو دډلي څخه یؤیې وایي پروا نه کوي میله ده، ایله ده .

مه کوه په چا چې وبه سې په تا
که کوم وګړی نورو وګړو ته زیان رسوي دهغه دپوهوې اونورو وګړو ته دزیان درسولو دناوان په پار وګړي یاد متل ورته وایي اوپه دې یې پوهوي چې که ته نن نورو وګړو ته زیان ورسوي،سبا به تاته هم زیان ورسیږي.

موږ د وږي له حاله څه خبر دی
که کوم وګړی دښه اقتصاد اوښه هوسا ژوند درلودونکی وي اودنورو په حال ځان نه خبروي دنورو په سترې ژوند پوري خنداکوي،هغوی ته توهین کوي،دهغه وګړي دپوهوي اوددې کارڅخه دهغه دراګرځولو په پار وګړي هغه ته یاد متل وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميړونه مري نومونه يې پاتې کيږي
کـه وګـړي دکـوم ميړنــي اوغيـۀرکس يادونــه کـوي اويـانور وګـړي ميړانــي کولوتـه رابولـي هغوی ته ياد متل وايي.

ميلمه د خدای رحمت دی
پښتانه ميلمه پاله وګړي دي پښتانه دميلمه دښه راغلاسـت اوميلمـه سـره دښـه سـلوک په پار ياد متل وايي.

ن

ناپوه دومره په بل نکوي لکه په خپل ځان
ياد متـل وګـړي دنـاپوهې دزيـان او دپـوهې دارزښـت پـه اړه وايي،ديـاد متـل پـه ويلـو وګـړي غـواړي داڅرګنده ګړي چې ناپوهې دکړاونو اوسـتونزو کـان دی اوعلم،پوهـه دنيکمرغۍ اوخوشحالۍ کان دی.
ناپوه کسان چې کله نـورو وګـړو تـه دزيـان رسـولو کوښـښ وکـړي نوپايلـه يـې داوي چې خپل ځان ته يې دهغه وګړي څخه ډېر زيان رسولی وي کوم تـه چـې نـاپوه کـس دزيان رسولو هوډ درلودی.

ناوسه پر تړلي سخندر،غويي پهلوان دی
پـه يـاد متـل کـې نـا وسـه هغـه وګـړي تـه ويـل سوی دی چـې ظـالم وي خـو ډېروخـت دخپلې بې وسۍ لکبله نسي کولی پرنـورو وګـړو ظلـم وکړي:کلـه چـې وس پيداکړي نوپوره ظلم کوونکی وي،يـاد متـل دهغـو وګړوپـه اړه ويـل کيږي چـې پرخـوارو،بې وسو اوډېرو مظلومـو وګـړو ظلـم کوی،ديـاد متـل پـه ويلـو دهغـه دظلـم څخـه شـکايت کيږي او داڅرګنـدوي چـې هغـه وګـړی ډېربـد دی کـوم وګـړی چـې پربيچـارو وګـړو ظلم کوي.

نر پسه د حلالولو لپاره دی
کــه کــوم نــر وګــړی دخطر،کــړاو اوســتونزو مختــه وردانګــي او ورســره مبــاريزه کوي،کله چې دهغه څخه دياد کار علت وپوښتل سي اويـا کـوم څـوک هغـه تـه دزيـان رسـيدو ورتـه ووايـي هغـه ورتـه ديـاد متـل پـه ويلوځـواب ورکـوي اويـاد کـس تـه ډاډ ورکوي چې زه دکړاو،ستونزو اوخطرونو څخه نه ډاريږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرمه غاړه توره هم نه غوڅوي
يادمتل وګړي خلکو ته دښه چارچلند دتوصيي په پاروايي يادمتل هغه وخت وګړي وايي کله چې کوم وګړی خپله تيروتنه ومني،بخښنه وغواړي مقابل کس يې بخښنه ورته کوي اودهغه دا کار ستايي.

نن پر ما، سبا پر تا
که کوم وګړی ديځچا دکړاو اوستونزې په ليدلو خوښي څرګندوي اوياهم په ستونزه ياکړاو کې ګيرکس ته دده دکړاو،ستونزې لکبله توهين کوي دهغه ددې چار پروړاندې په کړاو،ستونزه کې اړم کس يادمتل وايي او داڅرګندوي چې کوم کړاو ياستونزه کې چې زه نن راګيريم کيدای سي سبا ته هم ورکې اړم سي.

نه ئې څټ معلوميږي نه ئې مخ
که دکوم چا دوستي اودښمني نه څرګنديږي نن دوست سبا دښمن وي،دهغه دياد کړن دغندولو اودهغه څخه دناخوښی په پار وګړي يادمتل وايي،همدارنګه يادمتل د دووه ژبو،چغلګرو،فريب کاره وګړو په اړه هم وګړي وايي اود هغوی کړنې غندې.

نن پاچا سبا ګدا
وګړي په دې باوردي اوداڅرګنده سوې ده چې مال،دولت تل پاتی نه وي،که کوم وګړی په خپلو شتوباندې وياړ،غرورکوي دهغه وګړي دنيک پوهوي په پارخلک يادمتل وايي.

نه دې خپل بولم، مه مې خپل بوله
که ديوه وګړي سره دهغه کوم خپل اويا دوست بد وکړي،ياد وګړی دهغه دبدئ پر وړاندې خپل عکس العمل دياد متل په ويلوڅرګندوي اودهغه څخه دخپلې ناخوښئ اخري حد بيانوې.

هـ

های وروستی عقله، چې لومړی وای
که دکوم وګړي څخه تيروتنه وسي او ورسته پرهغه کارپښيماني څرګنده کړې دخپلې تيروتنې دکولو دوجې خواشينی وي نو پرخپلې کړې تيروتنې باندې دپښيمانئ دڅرګندولو په پار يادمتل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چيرې چې ګل وي يو اغزی به ورسره مل وي
که کوم وګړی دښه خوښ خوشحاله ژوند تيرولو لپاره کوښښ کوي،ناڅاپه دهغه مخته کوم خنډ،خفګان،يا خواشني راځي،که هغه دورپيښې سوې ستونزې څخه کوم چاته شکايت وکړې،مخامخ وګړی هغه ته دياد متل په ويلو داڅرګندوي چې دخوښۍ اوښه ژوندتيرولو په لاره کې ډېره شونې ده چې کړاو ستا مخته راسي ته خپل همت دلاسه مه ورکوه اوهوډمن پاتې سه.
يادمتل هغه وخت هم وګړي وايي کله چې ديوښه وګړي مخته کوم بد وګړی ودريږي او دهغه دښوکارونو دکولو مخنيوی وکړې.

هر څه چې خام وي پخيږي انسان چې خام سو نه پخيږي
که کوم څوک درواغ وايي هغه ته وګړی يادمتل وايي اودا ورته څرګندوي چې که يوځل په دروغو ويلو مشهوره سوې بيابه دې هيڅکله هم څوک رښتيا ويل هم ونه مني،همدرنګه که کوم څوک بداخلاقي کوي دهغه دپوهوي اودبد اخلاقيوڅخه دراګرځولو لپاره وګړی ياد متل هغه ته وايي.

هر څه چې درته وايم ته خپله غوږکه شاربې
که کوم وګړی دڅا خبروته غوږ نږدي اوخبرې يې نه مني:په داسي حال کې چې هغه ورته دهغه دګټې خبرې کوي،همدارنګه که يو وګړی خپل خبره باندي ټينګارکوی خو دنورو خبره نه مني اونه يې دمنلو اونه منلوځواب څرګندوي:دهغه دپوهولو په پار وګړی يادمتل وايي.

هر درد لره درمل سته
که کوم وګړی په کومه ستونزه يا کړاو کې راګيروي او ديادې ستونزې اوکړاو څخه دوتلولاره بنده او ورڅخه تيريدل يې ناشونی بولي،دهغه وګړي دياد آند دلمنځه وړلو،هغه ته د ډاډ او دهغه دهمت دلوړولو په پاروګړي هغه ته يادمتل وايي

هر غار کې لاس مه وهه هسي نه چې مار دې وخوري
که کوم وګړی ډېرو منفي اړخ درلودونکو زيان، رسوونکو يابدو کارونو کې ځان بوختوي،دهغه دپوهوي په پار وګړي هغه ته ياد متل وايي اودا ورته څرګندوي چې بدکارونه کول دزيان څخه پريمانه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## و

### ونې چې ميوه نيسي ډبرې به خوري
يادمتل هغو وګړوته خلک وايي کوم وګړي چې دپرمختګ لپاره هڅه کوي اوغواړي چې دځان اوټولني لپاره کوم څه داسي وکړي چې ګټور وي،کله چې ياد وګړي برياته درسيدوپه لارکې دکړاونو اوستونزوسره لاس وګريوان کيږي،دهغوی دهوډمن،کروړ پاتې کيدلو په پار وګړي غواړي هغوی ته ډاډ ورکړي اوپه دې يې وپوهوي چې خپل پرمختګ ته همداسي داوام ورکړي اودستونزو،کړاونو سره مبارزه وکړي.

### وخت د هر غم درمل دی
که کوم څوک غواړي يوچاته پر غم،خفګان،ستونزې اوکړاو باندي دصبرکولو توصيه وکړي هغه ورته يادمتل وايي اودا ورته څرګندوي چې داوخت به تيرسي اوته به دهرې ستونزې اوکړاو په نشتون کې ژوند وکړې صبرولره اوخپل هيلې مه وژنه.

### وخت د اوبو په څير بهيږي
کله چې يئوکس دوخت ارزښت بيانوي اويا کوم چاته دبي ځايه وخت نه تيرولو وايي هغه دياد متل په ويلو مخاطب کس ته داڅرګندوي چې وخت ودريدونکی نه دی،تل روان وي،کومه شيبه چې پرتا تيره سول بياهيڅ وخت هم هغه شيبه ته نسي موندلي،هڅه وکړه چې خپل يئوه شيبه هم بي معنا،بي ګټې او بي ځايه تيره نکړې.

### واده يم خبره نه يم چې په چا يم
که يئو وګړی کوم چيرې کارکوي خودهغه کار موخه ورته څرګنده نه وي يا دهغه کار خاوند نه پيژني،که کوم څوک دهغه کار دموخې يا دهغه کار دمشر پوښتنه ترې وکړي:يادکس ورته پورته متل وايي او دخپلې ناخبری ثبوت ورته وړاندې کوي.

## ټ

### ټينګ عزم غرونه ماتوي
ديادمتل موخه څرګنده ده، که کوم وګړی يئوکار پيلوي او ورته زړه نازړه کيږي ياني هوډ يې کمزوری وی دهغه وګړي دهوډ دپياوړتيا اودهغه دتشوېش دکمولو په پار هغه ته وګړي يادمتل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول په يؤه ګوته ګډيږي
کوم څوک کـه ديؤې ډلـي ديـوالي انځورکـوم چاتـه وړانـدي کـوي هغـه يـاد متـل وايي،موخه يې داوي چې هغوی خپل ترمنځ ښه يوالی لري.

تږغر هلته خرڅ کړه چې بيرته پرې کښيني
کـه کـوم څـوک دهيـواد بهر وځـي او هلتـه کـارکوي هغـه تـه خلـک وايـي هيـواد مـه پريږده،کارخپل پـه هيـوادکې وکـړه ترڅـو ګټـه يـې سـتا هيـواد تـه ورسيږي،تانه دي اوريدلي چې وايي: تږغرهلته خرڅ کړه چې بيرته پرکښيني.

ټوپکه! مه دي خوله سه مه دي کونه
کله چې وګړي دټوپک بدوالی وايـي اوټوپـک د ورڼو پر وړانـدې راپورتـه کول بد کړن يادوي:دټوپک دبدوالي په هکله پورته متل وايي او داځرګندوي چې کـه ټوپـک دکوم چا په لاس کې وي اود ورڼو پروړاندې يې راپورته کړي هم پـه سـترزيان کـې راګيرسو اوکه کوم څوک دټوپک شپيلی ته وربرابر سو هم زيان ورته رسيږي.

پ

مارګير،پاړوګر د ما ر د لاسه مري
که کوم وګړی دخطر،زيان څخه ډک چار سرته رسوي،که دهغه يؤ دوست غواړي هغه دياد خطرناکه کارڅخه راوګرځوي هغه ته يادمتل وايي اوهغه پـه دې پوهوي چې يادکار زيان رسوونکی دی اوکيدای سي تاتـه دهمدې کارلکبلـه چې تـه ګومـان کوي چې زيان به راته ونه رسيږي زيان درته ورسيږي.

پخپله خر نه لری دبل پر آس خاندې
يؤڅوک که کم علم لري،دبل وګړي ډېر علم تـه پـه کم نظر ګوري او هغـه تـه وايـي چې ستا دا ډېرعلم درلودل په ښه نه دي اوماته يې کومه ګټه نه کول چې ستاپه شـان ډېرعلم وکړم،ولـې چې ډېرعلم درلـودل ښـه نـه دي،ديـاد وګړي دپوهوي اوهغـه تـه ددې ښـودلو پـه پـارچې ډېـرعلم درلـودل اړيـن اوښـه دې مخاطـب کـس يـې يادمتـل وايي.يادمتل دپښتوژبې دنورو متلونوپه شان ډېر دکارولو علتونه اوځايونه لـري چـې ياده بيلګه يې دهغوڅخه يؤه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر خره سپور دى خر يې ورک دى
کـه کـوم وگـړى پـه کـوم کـار بوخـت وي خـو دهغـه کـار دموخې او دهغـه پـه اړه دمعلومـاتو څخـه بـې خبـره وي،ديـاد وگـړي پـه اړه خلـک يـاد متـل وايـي اوغـواړي داڅرگنده کړي چې کـه کـوم کس يؤ کـار کـوي بايـد دهغـه کارموخـه يـې څرگنـده او دهغه کارپه اړه هراړخيز معلومات ورسره شتون ولري.

پر وچه اوبازي نه کيږي
کله چې ديؤ چاسره شتمني نه وي خو کوم کس ورتـه دلوى تجارت دپيلولو توصيه کوي،مخاطب کس ورته ځوب دياد متل پـه ويلـو ورکـوي اودا ورتـه څرگنـدوي چې زما سره شته دکومه سول چې زه ورباندي سترتجارت پيل کړم؟

پنځه گوتې په خوله نه ننوزي
کلـه چـې يؤ وگـړى هرڅـه دخپـل ځـان لپـاره خوښـوي، هرڅـه غـواړي خپلـه لاسـته راوړي او زړه يې نه غواړي چې نور وگړي هغه څه لاسته راوړي،دهغه وگړي دپوهوي اوهغه ته ددې څرگندولو لپاره چې کـه کـوم کـس نـورو تـه وخـت ورنـکړي اوهرڅه خپل په گټه وکاروي،ياد کار ښه کـار نـه دى او دخلکو زړونـه ترې پـه يـاد کار کولو ازاريږي، همدا متل ورته دهغه دپوهوي په پاروايي.

په تورو شپو کې مزل گران وي
کلـه چـې کـوم کـس دخپـل پرمختـک پـه لار کـې دستونزوسره مخ کيږي او دخپـل لا وړاندې تـگ څخـه دراستنيدو تکل کوي،دهغـه کـس مـخ دهغـه کـوم دوسـت نيسـي او دياد متل پـه ويلـو ورتـه داڅرگندوي چې کلـه چـې غـواړو پرمختـگ وکړو وړانـدې لاړسو،شونې ده زمورږمخته خنډونه اوکړاونه راسي،مورږ بايد ناهيلي نـه سـو زحمـت وگالو،دستونزو اوخنډونو په شتون کې مخته ولاړسو.

په هر څه کې د ځان تيشه مه وهه
کله چې کوم کس هرڅـه غـواړي خپـل پـه گټـه تمـام کـړي اويـا هرځـاى يـوازي خپـل ځانته گټه رسول گوري نورو وگړوته دگټې رسولو لپاره کوم څـه نـه کـوي يـايې نـه غواړي،هغه کس ته دهغه دياد کار دبدښودلو دهغه دراگرځولو او دهغه دپوهوي پـه پار کوم څوک هغه ته يادمتل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### په خپله مې مُلا کړې ځان ته مې بلا کړې

که يؤ پوه کس خپله پوهه کوم بل کس ته وښيي، او هغه څه ورته ياد کړې کوم چې ده ته ياد وي،کله چې هغه کس دخپل دې ښوونکي څخه د زده کړي پوهې په مرسته دخپل ښوونکي پرووړاندې منفي کارواخلي :ښوونکی يې ياد متل وايي اوخپل په هغه کارخوشيني څرگندوي کوم چې ده ياد کس ته هغه څه ورزده کړي وه چې ده يې پوهه درلوده.

## ځ

### ځان زهير کړه ، ځان امير کړه

که کوم وگړی دخپلې ستړيا او ډېر کار کولو څخه ناخوښي څرگندوي او ورڅخه په شکايت وي،دياد وگړي د ډاډ،هيله مندی او دهغه دخواشنی دليري کولو په پار وگړي هغه ته ياد متل وايي.

### ځنکدن که گران دی د هر چا په ځان دی

کله چې يؤ وگړی هرومرو ديؤکار کولو ته اړوي اوچاره نه لري چې هغه کار سرته ونه رسوي،که کوم څوک دهغه کاردسختيو په اړه کوم څه وايي يادکس خپل ځان هغه کارکولو ته اړبولي اوهرومرويې کول په ځان پوري تړلي گڼې، دياد متل په ويلو داڅرگندوي چې زه دهغه کارڅخه هيڅ چاره نه لرم اوهرومرو به يې کوم.

### ځوان په کار ښه ښکاريږی

کله چې کوم ځوان کارنه کوي،دهغه دکار لوري ته درابللو په پار وگړي هغه ته يادمتل وايي،همدارنگه دکاريگرځوان دستاينې اودهغه دتشويق په پارهم ياد متل ويل کيږي.

### ځوانې نه پتيږي

که کوم ځوان سخت،شاخه کار سرته ورسوي اوخلک يې دکولو دعلت پوښتنه تري وکړي ،هغه ورته دياد متل په ويلوځواب ورکوي اوداڅرگندوي چې ځوانې دډېرکار کولو وخت دی، همدارنگه دسخت اوشاخه کارو دکولو په وخت کې دياد کارکوونکي ځوان ته،دهغه دتشويق ستاينې په پار و گړي ياد متل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځ

## دځاځکوڅخه سمندرجوړیږي

کله چې کوم وګړی خپل لږلږ پرمختګ ته خوښـي څرګنـدوي اوکوم څوک ورتـه تعجب وکړي چې ته ولې په دومره لږمخته تګ خوښـي کوی؟ یادکس دپورتـه متل په ویلو پوښتنه کوونکي ته څرګندوي چې لږ دوخت په تیریدو سره ډیریږي اوهیلـه ده چـې ددې لږڅخـه ډیـر اوډیـر جوړسـي، یادمتـل دلږګټـي کولـو پـه وخـت کـې هـم وګړي وایي.

## څه انا زړه، څه چاړه تیره

که دوه وګړي یو دبل سره شخړه وکړي یو ددوی څخه خپل ځان بي ګناه بـولي هغـه ته وګړي یادمتل وایي، ددې متل دویلو څخه یې موخـه داوي چې تـه هم بـي ګنـاه نـه یـې دواړو کـې ګنـاه ویشـل سـوې ده، یادمتـل هغـه وخـت وګـړي وایـي کلـه چـې تیروتنه،ګناه اوبې پروایي کې دوه لوري مساوي یا نسبتً مساوي ونډه ولري.

## څه چې ته کوې ما هغه هیر کړي دي

که یو وګړی خپل په کوم زده کار کوم بل وګړي ته پخر کوي اوخپل ځـان دیـاد کـار دزده کړې لکبله دمخاطب څخه هسک ګڼي،مخاطب دخپل ځان دکم نه راتللو اوهغه ته دمعقول ځواب دورکړې په پار یاد متل وایي اوهغه ته داڅرګندوي چې کوم کـار چې ته اوس کوې ما مخکې کړی و،ځکه زه ستا څخه په یاد کارکولو کې هسک یم.

## څه چې ځانته غواړې، خلکو ته یې هم غواړه

که کوم څوک یوازې خپل ځان ته ګټه رسوي او دنورو وګړو پروا نـه کـوي دهغـه وګړي دیاد عدت دلمنځه وړلو اوهغه ته دنیکي مشورې ورکولـو پـه پـار وګـړي یـاد متل وایي.

## څه دي کول، چې پلار او نیکه دي کول

که کوم وګړی دخپل کلتور څخه خلاف کړنـي سرتـه رسوي،دیاد کس دهغـه کړونـو څخه دمنعه کولو په پار کومې چې دی یې کوې وګړي هغه ته پورتـه متل وایي،هغـه ته دا څرګندوي چې کوم کار چې ته کوي ښه اودستاینې وړکـار نـه دی:ځکـه زمـوږ دکلتور سره په ټکرکې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څوک چه بد غواړي په بدو به واوړي
که يڅوک دبدو په لټه کې وي ياني(يعني) بدو کارونو کې بوخت وي اوکوم زيان ورته ورسيږي دهغه په اړه وګړي ياد متل وايي او داڅرګندوي:کوم څه چې هغه غوښتل ورته ورسيدل.
څوک چي فيلان کوي، دروازې لوړي ايږدي
که کوم وګړی دغوړ،پلان اوښه تياري په نشتون کې کوم کار ته ملا وتړې خو په سرته رسولو کې يې ناکام سی،وګړي دهغه دپوهوي په پار ياد متل وايي او دې ته يې پام ور اړوي چې که کله هم موږ ديڅ کار دکولو هوډ کوو هغه کارته بايد غوره پلان ولرو،پوره تياری ورته ونيسو او ورسته يې سرته ورسوو.

## چ

چاړه څوک په هډوکو نه ږدي
که کوم وګړی ديڅ توکي درانيولو،پيرلو وس نه لري خو دهغه خپلوان ورته وايي چې هغه توکی هتمن وپيره،مخاطب يې ځوب ورکوي چې زه دومره پيسي نه لرم چې هغه وپيرم اوس خو دهغه توکي لپاره خپل داړتيا وړتوکي نشم پلورلی،يا پور خونشم کولی چې هغه وپيرم،د خپل خبرې دښه څرګنديدا او درندوالي په پار وړانديز کوونکي ته ياد متل وايي.
چرسي زوی، نه زوی
يادمتل زموږ په ټولنه کې دنشيي توکو ناوړوالی څرګندوی.هغه والدين چې اولادونه يې په نشه روږدي وي دهغوی آند دخپلو اولادونو په اړه څرګندوي.
که ديوچا چرسي،نشيي زوی کوم بديا داسی يو کاروکړي چې دده په ياد کارسره يې دوالدينو زړه ازار سی والدين يې دزړه د درده ياد متل وايي اوخپل خفګان څرګندوي.

چه ترخه ئې خوړلي نه وي د خوږو په خوند څه پوهيږي
که کوم وګړی ديوکار په دوام کې دستونزې سره مخ کيږي دهغه دخفګان اوخواشينی دکمولو په پار وګړي ياد متل وايي اوهغه ته داڅرګندوي چې که ته په يادکار کې دستونزو په شتون کې بيا هم برياڵی سوي ته به دخپلې بريا لاډېر خوند وڅکي.
چې زوی ونه ژاړي مور ورته شيدې نه ورکوي
دياد متل موخه داده چې که موږ کوم څه ونه غواړو هغه موږ ته نه رارسيږي که غوړو کوم څه لاسته راوړ دهغه دلاسته راوړلو لپاره به هڅه کوو، زيار به باسو ترڅو هغه لاسته راوړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چه ډېر غړېږی ډېر غلطیږی

که کوم څوک بي ګټې اوډېرې خبرې کوي هغه ته ددې ویلو په پار چې ډېرې بې ګټې خبرې کول ګټه نه لري اوکله چې کوم کس ډېرې خبرې کوي دخپلوخبرو په ناسموالي نه سي پوهیدلای او هرڅه ښه یابد ورڅخه ویل کیږي.

## چې غل نه تښتي، مل دي وتښتي

که کوم وګړی دیؤ چا سره بدکوي او دخپلو بدو کړنو څخه لاس نه اخلي،کوم کس چې ورسره بدکیږي که هغه کوم چا ته دهغه بد وګړي دبدو کړنو شکایت وکړي مخاطب یې ځواب کې هغه ته یاد متل وایي اوهغه ته داتوصیه کوي چې هغه خوهسي هم بد دی ته ورسره ځان مه اخته کوه ځان یې دبدو څخه خوندي کړه پر وړاندې یې دورته کار څخه کارمه اخله.

## چې مرغه غوندي رپېږي، تر نصیب به نه تیرېږي

که کوم وګړی په کوم کارکې ډېر زیار باسي خو اخر ورته څه لږګټه په لاس ورسي،هغه وګړي چې ډېره ستړیایې وړي وي دخپل خفګان اوما یوسئ کوم چاته وایي،مخاطب کس یې دهغه دخوشینی اوخفګان دلیري کولو او هغه ته ددې ښوولو په پارچې موږ ته هغه څه رارسیږي کوم چې موږ ته لیکل سوي وي،هغه ته یاد متل وایي.

## چې ئې یاد کړي په وړکتوب، هېر به یې نکړي په زوړ توب

یادمتل دوړکوتوب،ماشومتوب دزده کړي دارزښت څخه یادونه کوي اوداڅرګندوي چې دوړکتوب زده کړه څومره اړینه ده.

## چې بد ګرځي بد به پرځي

یاد متل دهغو وګړو په اړه خلک وایي: کوم وګړي چې ناسم اود زیان څخه په ډکو کارونو کې برخه اخلي کله چې هغوی دکومې ستونزې یا خنډ سره مخ سي دهغو په اړه وګړي یاد متل وایي اوداڅراګندوي چې هغوی ځکه په ستونزه کې راګیرسول ځکه چې هغوی خپله خپل ځان ته دستونزو جوړولو هڅه کول.

## چې یو لور یې تر ملا وي، نه ځیني رغیږي

یاد متل دا څرګندوی چې دوګړو سره مرسته باید دهغوی پیاوړتیا،واک،قدرت،اوشتمنی ته په کتو ونه سئ بلکې مرسته باید دهرچا سره وسي،هغه که بیا د مرسته کوونکي سره دځوابیه مرستې توان ولري اویایې وه نه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيرې چې لمر نه راځي هلته ډاکتر راځي
يادمتل دلمرګټې ځرګندوي ددې متل موخه داده چې داستوګنې ځايونه بايد داسي ورغول سي چې دلمروړانګې ورته ورسيږي ځکه دلمر وړانګوته دانسان بدن اړتيالري.

چې په ډکه کاسه موړ نسوي په څټلو ئې نه مړيږي
يادمتل دهغو وګړو دپوهوي په پار ويل کيږي کوم چې په عامه لحجه وږي خلک وي اوتل په دې هڅه کي وي چې در نورو وګړو دبرخه لاسته راوړي.

چيرې چې زړه ځي هلته پښې ځي
که کوم وګړی خپل يوملګري ته کوم ځای ته دهغه سره دتلو ووايي اوهغه ورته نټه وکړي،همداسي که کوم وګړي چا ته ووايي چې ولې فلان ځای ته نه ځې هغه ورته ځواب په ياد متل سره ورکوي او داځرګندوي چې هلته تګ ورته خواشينوونکی دی.

چې خان يې په ياران يې، که ياران درسره نه وي توري خاورې د بيابان يې
که کوم وګړی غواړي يؤ چاته دا وښيې چې دهغه په خواکي دهغه سره همکاره وګړي څومره ارزښت لري هغه ته ياد متل وايي.

## ډ

ډار د مرګي ورور دی
که کوم وګړی په هرکار او دهر بنده څخه پرناحقه ډارکوي،دهغه دويرې دکمولو اوهغه ته ددې ښوولو په پار چې هرکار کې ډارکول دانسان ژوند دکړاونو،ستونزو څخه پريمانه کوي،هغه ته ياد متل وايي اوهغه ته داځرګندوي چې ډار کول دانسان لپاره داسي بيلګه لري لکه مړينه څوک چې وډار سو ژونديې دمړي په شان سو.
ډېره چې پر خپل ځای پرته وي، سنګينه،درنه وي
کله چې کوم وګړی په بي ګټي،بدو،او دنورو خلکوپه هغو کارونو کې ځان ګډوي چې دده ګډون ته پکښي اړتيا نه وي،دهغه کس دنيک پوهوي په پار وګړي هغه ته ياد متل وايي.

ډوډۍ به خپله خوري سترګې به د نورو دربانديې سرې وي
که کوم چا سره يؤ وګړی يا وګړي بيله دې چې هغه دهغوی په کارونو کې لاس وهنه کوي هغوی ورسره کينه،رخه،بغض کوي،ياد کس دهغوی دياد کارڅخه خواشنی کيږي او دخپل دناخوښی،خفګان اوګيلې دڅرګندولو په پار ياد متل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ که دبل ده، نس خو دي خپل دی
کله چې کوم وګړی دنورو وګړو دمال مصرفولو کې تیری کوې یاني که ده ته کوم څوک دهغه په مال کې لږ برخه ورکړي خودی یې ډېره برخه ترینه واخلي دهغه دیاد کار دغندولو او دیاد کار څخه دهغه دراګرځولو په پار وګړي یاد متل وایي.

ډیوه چې په سر اور بل کړي نو تول کور رڼا کړي
که کوم څوک یؤچاته دکوم ستونزمن کار دکولو ووایي یعنې(یانې) دکوم داسي کار چې په هغه کار سره دهغه ټولنې یا ډېرو وګړو ته ګټه رسیږي،که هغه کس دیاد کار دکولو څخه دهغه کارپه دوام کې دستونزو اوکړاونو څخه یادونه وکړي او وغواړي یادکار ونکړي،یادکس ته دقناعت ورکولو اوهغه په دې پوهولو لپاره چې ګواکي یاد کار ته یؤڅوک نه یؤڅوک خوبه غاړه ږدي اودستونزو په شتون کې به یې کوي،ولي چې که ډېوه ځان سوځي خوخپل خوا وشا ته رڼا خوروي نو د ډیوې په شان به کوم څوک خپل ځان په خطرکې اچوي اوخپل شاوخواته به رڼا خوروي یاد متل وایي. یادمتل وګړي دخطر په شتون کې ټولنې ته په خدمت کولو مجبوره کوي.

ړ

ړانده ډیوه څه کوي
که کوم وګړي ته کوم څه په هیڅ صورت کې ګټه نه کوي خو دی یې بیا هم غوښتنه کوي هغه ته وګړي یادمتل وایي.

ړانده یو ځل امسا ورکوي
کله چې کوم څوک دیؤ توکي ډېره اړتیا لري خو دهغه توکې دلاسته راوړلو یوفرصت دلاس ورکوي،کله چې بیا ورته فرصت،موقه په لاس ورځي نوبیله دې چې دلاسته راوړ لوفرصت بیا دلاسه ورکړي هغه څه لاس ته راوړي،دهغه وګړي څخه که کوم څوک پوښتنه وکړي چې څنګه دې دا ځل فرصت دلاسه ورنکړ اوهغه څه دې لاسته راوړل کوم چې تاغوښتل،یاد کس د یاد متل په ویلو پوښتنه کوونکي ته ځواب ورکوي.

ړومبی د وروستي پل دی
که کوم څوک دیؤه کار پیل ته زړه نه ښه کوي هغه وګړي ته دهغه یؤ خواخوږی یاد متل وایي اوداورته څرګندوي چې که دکوم کار پیل ونه سي اوکوم څوک ورته زړه نازړه سي نوهیڅ وخت به هغه کار ونسي کړای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړوند رڼا نه پېژني
که کوم وګړي باندي دپند خبري،نصحت اثرنه کوي، کله چې لاربښوونکی دخپل زیارڅخه ناهیلی سی اوکوم چاته دهغه څخه شکایت وکړي،مخاطب کس ورته ځواب په یاد متل ورکوی اودا ورته څرګندوي چې هغه ستا دخبرو په ارزښت نه پو هیږي،هغه ښه نه پیژني ځکه خو وربانديي ستا نصحت ژراغیزه نه کوي ته کوښښ وکړه اوناهیلی کیږه مه.

ړوند له خدایه (ج) څه غواړي، دوې سترګې
که کوم چاته یؤڅوک دهغه دخوښې وړتوکي دورکړي ووایي اودهغه څخه وپوښتي چې آیا ته داتوکی غواړي ـ مخامخ وګړی ورته ځواب په یاد متل سره ورکوي اوخپله ډېره لیوالتیا څرګندوي.

ږ

ږغ د ملا آمین د کلي
یادمتل داخبره څرګندوي چې دپوهانو،عالمانو،مخورو،نیکو اوښو مشرانو نیکه اوښه خبره،امر باید ومنل سي.کله چې کوم مشر په نیک،ښه کار سره وګړي امرکوي که یاد مشرغواړي دوګړو آند معلوم کړي چې دده سره په یؤه خوله دي یاني امریې منې: دوګړو دمنځ څخه کوم څوک دیاد متل په ویلوهغه ته دا ډاډ ورکوي چې دهغه خبره،امریې قبول دی اوعمل به پرې وکړي.

ژ

ژبه ئې د بیاتي (دقیچې،غچې) غوندې چلېږي
که کوم وګړی ډېرې خبرې کوي،که دهغه په خبروکې بلاغت،اوفصاحت وي،ښې اوګټورې خبرې کوي،وګړي دهغه دستاینې په پار یاد متل وایي اوکه چیرې دیؤکس په خبروکې فصاحت اوبلاغت نه وي بې ګټې اوبې معنا خبرې کوي وګړي دهغه دغندنې په پار یاد متل وایي.

ژبه اوږده، لاسونه لنډ
که کوم وګړی کار لږ خوخبرې ډېرې کوي هغه و ډېر کار،خپل په خبرو عمل کولو او دبې ګټې خبرو نه کولو ته درابللو په پار وګړي هغه ته یاد متل وایي.

ژبه په (۳۲) غاښو کې ده
که کوم وګړی ناسمه خبره وکړي اوبیا وایي چې زما څخه په تیروتنې کې یاده خبره وسوه هغه ته کوم وګړی وایې څنګه دي یاده خبره وکړه ژبه خوپه (32)غاښونوکې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه که کوم څوک وايي چې زما ژبه زما په اختيار(خوښه)کې نه ده ځکه راڅخه ناسمې اوبې ګټې خبرې کيږي،هغه کس ته کوم وګړی ياد متل وايي اوتعجب کوي چې څنګه ستا ژبه ستا په اختيارکې نه ده ژبه خو د(32)غاښونو په منځ کې ده. ديادونې وړيې بولم چې دپښتو متلونه په بيلا بيلو وختونوکې دځينو وييونو په ورزياتيدو اودځينو وييونو دکميدو په ډول هم ويل کيږي چې ياد کار د وګړو دلحجو،دخبرو د ډول اوپيښو ته په کتو دمتل ويئونکو دخوا صورت نيسي.

ژبه تانده لښته ده

دياد متل څخه دوه مطلبه اخيستل کيږي لومړی:ژبه دلندې،تاندې لښتې په شان انسان خوړوي.دوهم:ژبه دلندې،تاندې لښتې په شان هرې خواته کړيږي يعنې هرډول خبرې چې کوم وګړی وغواړي پرې کولی يې سي،ښې يا بدې.

ژبه د عقل تله ده

يادمتل داڅرګندوي چې موږ دځينو وګړو دپوهې،ښه والي اوبدوالي اندازه دهغوی دژبې،يعنې دخبرو له لارې مالومولی سو.

ژر يې را ملا که، کډې مو باريږي

که يؤ وګړی دخپل يؤکار دژر سرته رسول غوښتنه دکاسب څخه کوي،په داسې حال کې چې دهغه کار سرته رسول مدو ته اړتيا لري،کاسب هغه ته وايي ياد کار مدو ته اړتيا لري ژر سرته نه رسيږي ستا دهم هم هغه کيسه ده چې وايي: ژر يې را ملا که، کډې مو باريږي.

ژوندئ ژبه ژوندی قوم

ياد متل ددوموخولپاره ويل کيږي لومړی موخه داده چې دکومو وګړو ژبه چې دخپل حق دغوښتلو په پار پورته کيږي هغه قامونه ويښ اوبيداره دي،که کوم قامونه دخپلو حقه حقونو دفاع نه کوي هغه قامونه بيده،مړه قامونه دي او هيڅکله به هم پرمختګ ونه کړي.دويم:کوم قامونه چې خپله ژبه هېره کړې هغه قامونه نړئ وال هېرکړې اولمنځه ولاړسي*موږبايد خپله خوږه ژبه پښتو هيڅ وخت هېره نه کړو: وي ليکو وي وايو اونور وګړي يې زده کولوته اړباسو ياني پرمختګ ورته ورکړو.

## ښ

ښار نا پرسان(بي پوښتنې) دی

کله چې کوم څوک يؤچيرې بي عدالتي،ظلم اوبي انصافي ويني:يادمتل وايي.

ښځه د تن جامه ده

يادمتل دښځو د درناوی په پارويل کيږي،ددې متل موخه داده چې ښځه دنرو دعزت ساتونکي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه خوی د زړونو ښکار کوي
ياد متل داڅرګندوي چې په ښه چارچلند،ښه خوی،اوښو اخلاقو دنورو وګړو زړونه لاسته راوړل کيږي او هغوی خپليږي.

ښه مه کوه بد به نه در رسيږي
که کوم وګړی ديؤ چا سره ښه وکړي اوبرعکس هغه يې پروړاندي بد وکړي،ښه کوونکی کس دخپل مايوسۍ دڅرګندولو په پار ياد متل وايي.

ښار په خوږه خوله خوړای سی نه په لنډۍ توره
که کوم وګړی دښو خبرو اوښه چار چلند پرځای دوګړو پروړاندې دبد چار چلند او زور زياتي څخه کار اخلي دياد کس دپوهوي او هغه ونيکو خبرو اوښه چارچلند ته درابللو په پار وګړي هغه ته ياد متل وايي.

ک

کوږ بار تر منزله نه رسيږي
که کوم څوک بدکارونه کوي يا يي دکوم کار پيل په ناسمه طريقه سره کړی وي،هغه کس ته وګړي ياد متل وايي اودا ورته څرګندوي چې کوم کار که بد وي يا يې په بده،ناسمه طريقه سره بنسټ ايښودل سوی وي څوک يې په برياليتوب سرته نسي رسولی.

کار آسان دی خو پيل يې ګران دی
که دکوم کار پيل ته يؤ وګړی ورخطا او انديښمن وي: دهغه دانديښنې دپای ته رسولو په پار وګړی هغه ته د ډاډ په پار ياد متل وايي، همداسي خپله کارکونکی هم ځينې وخت دکار دکولو دهوډ د لاپياوړتيا اوځانته د ډاډ ورکولو په پار ياد متل وايي.

کار تمام نلري
که کوم وګړی په کار باندي بوخت وي اويؤکس ورڅخه غوښتنه وکړي چې راځه استراحت وکړه،ياراځه چکر ووهو،مقابل کس که هغه ته دخپل ناخلاصيت ووايي، غوښتنه کونکی کس ياد متل وايي.همدارنګه که کوم څوک دډېر کار دکولو څخه شکايت وکړي او دنه خلاصيدو يي ووايي وګړي دهغه کس دپوهوي په پار ياد متل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار د ژوند مالګه ده
کوم وګړي چې کار نه کوي هغوی نور وګړي دکار کولو ته دياد متل په ويلو رابولي.

کار محکمه، زړه بيغمه
که کوم څوک يؤ کار يوازي دغاړې اړوي اوپه ښه ډول يې سرته نه رسوي،وګړي هغه ته ياد متل وايي اودا ورته څرګندوي چې ښه کار وکړه ترڅو ډاډه سي اوبيا کړي کار ته د دويم ځل لپاره اړنسې.

کارګه د زرکې تګ کاوهٔ خپل يې هېڅ سو
که کوم څوک دکوم چا بي ګټې اوناکاره تقليد کوي دهغه دپوهوي او دياد کار څخه دراګرځولو په پار وګړي هغه ته ياد متل وايي.

کتابونه دريابونه دي
دياد متل موخه اومعنا څرګنده ده،په کتابونو کې هرڅه سته،ياني(يعني) په کتابونو کې دهرې ستونزې حل اودهرې پوښتنې ځواب شتون لري.

کسب زده کړه په تاخچه کي يې کښيږده
کله چې کوم وګړی بهانه کوي چې زه دفلان کسب زده کړې ته اړتيا نه لرم او يا فلان کسب زما سره نه وايي؛دهغه وګړي دپوهوي په پار هغه ته نور وګړي ياد متل وايي.

کفر که له کعبې راولاړ سي مسلماني به چيرې پاته سي
که يؤ نيکوکار،مخور اوښه وګړی دبدو اوناوړه کارونو کولو ته زړه ښه کړي،دهغه وګړي دياد کارڅخه دراګر ځولو اوپه دې پوهولو په پار چې که ته چيرې ياد بدکړن وکړي نو ډېر نور وګړي به هم ستا تقليد وکړي هغه ته ياد متل وايي.

که ته کړې سمې چارې تا به څوک باسي د لارې
ياد متل وګړو ته داڅرګندوي چې ډېر وخت که کوم څوک نيک اوښه کارونه کوي هغه ته به نور وګړي بد نه رسوي،همدارنګه که څوک بدکارونه کوي هغه ته به نور وګړي هم بد رسوي اوبرعکس ښه به نه ورسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هر څو هو ښيار يې نادان يو ښته
ياد متل دمشورې کولو د ارزښت په هکله دخلکو ترمنځ ويل کيږي،که کوم چا په خپل يؤ کار کې زيان ليدلی وی په داسي حال کې چې دهغه دپيل په وخت کې يې دکوم چاسره مشوره نه وي کړي دهغه وګړي دپوهوي اوپه راتلونکي وخت کې ومشورې کولو ته دتشويق په پار وګړي ياد متل وايي.

کور په ښځه هم وران دی هم ودان
د ياد متل موخه داده چې که ښځه په اسلامي اوپښتني اخلاقو پوره وه:کورپرې ودان اوابـاد دی اوکه چيرې ښځه په اسلامي اوپښتني اخلاقو سمباله نه وه :کور پرې ويران اوبر باد دی.
ديادمتل موخه دنار ينو په هکله هم همدا ډول ده.

کوچنی چې ونه ژاړي مور يې شيدې نه ورکوي
دياد متل موخه داده:که موږ په خپله کوم څه ونه غوړو هغه څه موږ ته په خپله په لاس نه راځي ياني که دکوم څه دلاسته راوړلو هڅه ونکړو نو هيڅ وخت به يې لاسته رانه وړو.

که پورته ګورم پاڼ دی که کښته ګورم پړانګ دی
که کوم وګړی د دوو پريکړو،دوو ستونزو يا داسي يو څه کې چې دی يې دکولو اونه کولو پريکړه نسي کولی اوپه دوړو حالتوکې دزيان رسيدو ويره وي په پريکړه کولو کې ګيرپاته سی:ياد کس دخپلې خواشينی اوخفګان دڅرګندولو په پار ياد متل وايي.

## ګ

ګاوميښنه دګل په بوی څه پو هيږي
که کوم وګړی کوم مادي يا معنوي امتياز يا مقام نه لري خو دنورو وګړو په مقام،امتياز ملندې وهې اوهغوی دهم هغه مقام يا امتياز لکبله تحقيروي دهمدې وګړي دپوهوي اوهغه ته دهغه دمقام دښودلو په پاروګړي ياد متل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګټه بی ستړيا نه کيږي

که کوم څوک دکوم کار په کولوکې ډېر ستړی سی اوخپل دستړيا يادونـه کوي،دياد وګړي دخفګان ليري کولو او هغه ته ددې ښوولو په پـارچې بـي زحمتـه رحت نستـه وګړي هغه ته ياد متل وايي اودهغه دستړيا اوخفګان پـه ليـري کولـو کـې دهغـه سـره مرسته کوي.

## ګل بي اغزيه نه وي

که کوم داسي وګړي سره چې د ډېرو ښو عدتونو،خويونو درلودونکی وی،په څنګـه کې ورسره يؤ بدعدت،ياخوی هم لـري، دهغـه پـه اړه وګـړي يـاد متـل وايـي اوموخـه يې داوي چې هغه بايد دهغه په يؤه بدعدت بد ونه پيژندل سي.

## ګل سي خو عمر دې د ګل مه سه

که کوم وګړی غواړي يؤچاته نيکه او د ادبي ښـکلا څخـه پريمانـه يوه خبـره وکـړي هغه ته ياد متل وايي.

## ګل له ګله رنګ اخلي

ياد متل داڅرګندوي چې اوسي په خوی به دهغوسي،که کوم وګړی بـد کارونـه کـوي دهغه ملګري هم کيدای سي بـد کارونـه وکـړي،همدارنګـه کـه کـوم وګـړی ښـه،نيک کارونـــه کـــوي کيـــدای ســـي دهغـــه ســـره اوســـيدونکي هـــم نيـــک اوښـــه کارونـــه وکړي.موږبايد دزده کړې کولو دځای اوهغه وګړو په ټاکنـه کـې چـې مـوږ ورسـره هستيږو غورواوښه پام وکړو.

## ګمان د ايمان زيان دی

کلـه چـې کـوم څـوک بـې ځايـه شـک،ګومان کـوونکی وی،هغـه کـس دګومـان څخـه دراګرځولو او هغه ته دګومان دبدئ دڅرګندولو په پار وګړي هغه ته ياد متل وايي.

## ګوره ګوره وايه خوله به دې خوږه وي/سي

که کوم څوک ديؤ داسي څه په اړه چې ورسـره شـتون نـه لـري،لاس کـې يـې نـه وي دشتون اولاسته راوړلو هيله يې کوي،هغه کس ته وګړي يـاد متـل وايـي اوموخـه يـي داوي چې ته هيله مند او هڅه کونکی اوسه ته بـه هغـه څـه لاس تـه راوړي کـوم څـه چې ته يې دلاسته راوړلو هيله لري.

## ګوښه، د خدای ښه

که کوم وګړی دځينو خلکوڅخـه ليريوالی اختيـار کـړي،کـه دهغـه څخـه کـوم څـوک ددې بيلوالي علت وپوښتي ياد کس ورتـه ځواب کې پورتـه متـل وايـي او داڅرګنـدوي چې دهغوی څخه ليروالی يې په خير دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



گيله له ياره ده نه له اغياره
کـه دکـوم چـا سـره دوسـت ياخپـل اوکـوم بـل داسـي څـوک چـي يـاد کـس ورسـره دوستي،خپلوي نه لري بد وکړي ياد کس دنابلده،اغيار کس دبد کولو څخه دومره رنـځ نـه وړي لکـه څـومره چـي دخپـل دوسـت يـا خپـل دبـد کولـو څخـه رنـځ وړي اوخوشيني کيږي،که کوم څوک تري دعلت پوښتنه وکړي:ياد کس ورتـه دپورتـه متل په ويلو ځواب ورکوي،همدارنگه که کوم چا باندي دهغه دکوم خپل پـه مرسـته دهغه کس مخالفه،اغيار ظلم،پرحقوقو تيری وکړي:ياد کس پورته متل دخپل خفگان دڅرگندولو په پار وايي.

ي

يا به نه وي،يا به نه سره زامن وي
که کوم وگړی داسي يو کار پيلوي چي دزيان اوگټي په اړه يې ورسره معلومـات نـه وي،که چيري کوم وگړی دهغه دزيان په هکله ورته ووايي يا دهغه څخه دهغـه کـار دزيان اوگټي په اړه وپوښتي:
کارپيلونکی وگړی ورته ځواب کي ياد متل وايي.
يا خپله ښه سه، يا د ښو، خلکو پر پله سه
دياد متل موخه څرگنده ده:يو وگړي ته چي بد کوی يا دبدو پلوي کوي کـه کـوم څوک نصحت يا ښه خبرکوي :هغه ته ياد متل وايي او داڅرگندوي چي يا خوخپـل ښـه کارونـه کـوه يـا دښـوکارو کوونکو،ښـو وگړو مخالفت مـه کـوه اودهغـوی لاره باندي که کيدای سي مزل وکړه.
يا نر هو سه، يا نر يا
که کوم وگړی خبره پـای تـه نـه رسـوي:دکـوم کـار دکولـو پـه هکلـه کـه دده خوښـه يـا ناخوښـي وپوښـتل سـي دی ورتـه دهـو اونـه ځـواب نـه ورکـوي،يعني خپلـه خوښـه اوناخوښي نه وايي خبري ته کجونه،پيچونـه ورکوي هغه وگړي تـه خلـک يـاد متل وايي.ياد متل دکـارونې پـه وخـت کـي دبيلا بيلـو علتونـو اوځـايونو لکبلـه دپښـتو ژبـې دنورومتلو په شان بدلون کوي:دوييونو(کلمو) کمښت اوډيرښت پکښي راځي.
يوه يې نه دوې کيږي
که کوم څـوک دهغـه چـا پـه اړه چـي څـه مـوده يـې دکار،اقتصـادي اوټولنيزحالـت پـه هکله معلومات نه درلودل،دکوم چا څخه دهغه دټولنيز حالت اود ژوندانـه دچـارو پـه اړه پوښـتنه وکړي،کـه چيري دهغـه کـس حالـت ښـه نـه وي مخاطـب يـې ځـواب پـه يادمتل سره ورکوي او هغه ته دهغه دبدحالت انځور وړاندې کوي.
که کوم څوک غواړي يوبل تن دبدئ اوناروا کړنودکولوڅخه راوگرځوي خو مخـامخ کـس يـې خبـره اونيکـه مشـوره نـه مني:يـادکس ورتـه دخپلـي خبـرې دثابتولواودهغـه ديوډول ډارپه پارپورته يادسوی متل وايي اوخپلې خبرې ته يوکرووړدليل موندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه سرچنې چې په دې کتاب کې ورڅخه ګټه اخيستل سوي ده.
دپښتومتلونه:دپښتو ژبې دبيلا بيلوکتابونو،دمتلونود بيلا بيلوافليکيشنو اوزموږپه سيمه کې دبيلابيلوووګړو څخه اوريدل سوي اورا اخستل سوي دي.
پرمتلونوځيرنه دهغوی دويلو دځايونو اودويلو دعلتونو په اړه يې سپړنه اوشننه زما (محمودحميدزی) ده اودکومې سرچېنې څخه مې ګټه نه ده اخيستې!
ستاسو ددعا په هيله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دليکوال لنډه پيژندنه!

محمودحميدزی په انګرېزي(MahmoodHamidzai) دخيرالله زوی،دحاجي محمداقبال لمسی او په خته اڅکزی دئ . نوموړی د 1374ليږديز لمريز کال دثور دمياشتې په خلورمه نېټه چې د 1995زيږديز کال دافريل دمياشتې 24نيټې سرسمون خورې دکندهار ولايت دژړی ولسوالی په سنګحصار کلي کې زيږيدلی دئ. حميدزې ديني زده کړې دخپل کلي دملا امامانوڅخه لوستې دي.

لومړنی ښوونځی يې په سنګحصار لېسه، منځنی ښوونځی يې په قاضي عبدالمجيد منځنی ښوونځی کې لوستی او په کال 1396ليږديز لمريزکال کې دژړی ولسوالی داسعدسوري لېسې څخه فارغ اودمکتب دوره يې پای ته رسولې ده. حميدزې:نيمه عالي زده کړې د ډاکټر مامون طاهري روغتيا علومو انستيتوت دنرسنګ په څانګه کې کړې او دياد انستيتوت څخه په کال 1399ليږديز لمريز کال کې دپنځلسم پاس په سويه فارغ دئ



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**